د افغانستان ملي تحريک
2013 AFGHAN NATIONAL MOVEMENT ۱۳۹۲

# تولنيز ارزښتونه

سيد امام الله اسد

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# تولنیز ارزښتونه

**امرالله امید**

۱۳۹۴ل کال

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: تولنيز ارزښتونه

ليکــــوال: امرالله امېد

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنګي څانګه

وېــبپــاڼــه: www.melitahrik.com

کمپوز: پخپله ليکوال

پښتۍ ډيزاين: نجيب الله نايل

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۶۴)


يادونه: د چاپ حقوق له ملي تحريک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسوليت ليکوال پورې اړه لري.

ketabton.com - The Digital Library

# ډالۍ

هغوی ته چې په ارزښتونو باور لري
او ارزښتونه پالي.

ketabton.com - The Digital Library

# لیکلړ

شمېره سرلیک مخ

1. خپلې خبرې ........................................ ۱
2. ټولنیز ارزښتونه څه دي؟ ........................................ ۴
3. پښتونولي ........................................ ۸
4. شخصیت ساتنه ........................................ ۱۲
5. جرګه ........................................ ۱۶
6. باور ساتنه ........................................ ۱۹
7. غوره انساني سلوک ........................................ ۲۸
8. انساني کرامت ........................................ ۳۴
9. ادب ........................................ ۴۰
10. مدنیت ........................................ ۴۴
11. اوربدل ........................................ ۴۸
12. فن و هنر ........................................ ۵۳
13. بریالیتوب ........................................ ۵۷
14. ځان پېژندنه ........................................ ۶۲
15. ځواني ........................................ ۶۶
16. لږې خبرې کول ........................................ ۷۰
17. حیا و شرم ........................................ ۷۵
18. القاب ........................................ ۸۱

ketabton.com - The Digital Library

19. دنورو نظرياتو ته درناوی ....... ... ................... ۸۵
20. دعا و آزار ............ ... ........................... ۸۹
21. راشه –درشه................ ... ........................... ۹۳
22. زغم و نرمښت........ ... .............................. ۹۸
23. ژبه................ ... ..................................... ۱۰۳
24. ښایست و ښکلا ............... ... ................... ۱۰۷
25. ښه دوستان............... ... ....................... ۱۱۱
26. پوښاک........ ... ........................................ ۱۱۶
27. ښه خوی............ ... ..................................... ۱۲۰
28. مسوولیت پېژندنه....... ... ........................... ۱۲۹
29. مطالعه............... ... ................................... ۱۲۳
30. مېلمه پالنه........ ... ..................................... ۱۳۹
31. مینه و محبت.............. ... ........................... ۱۴۱
32. نسبت ومنصب......... ... .............................. ۱۴۵
33. یووالی............... ... ....................................... ۱۵۰
34. سوله او خپلواکي......... ... ........................... ۱۵۴

ketabton.com - The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

ketabton.com - The Digital Library



# خپلې خبرې

ټولنيز ارزښتونه هغه څه دي، چې ټولنه ورته په درنښت قايله وي، هر کلتور او فرهنګ خپل ارزښتونه لري، زموږ پښتني ټول ارزښتونه لکه جرګه، مرکه، مېلمه پالنه، په وعده درېدل، د حق پلوی کول، د تورسرو درناوی، د سپين ږيرو عزت، ننواتې، مچلغه او نور زيات ارزښتونه چې سوچه پښتني ارزښتونه دي، د افغاني ټولنې ټولنيز ارزښتونه هم دي.

په دې سربېره عزت، غيرت، شهامت، مېړانه، نارينتوب، ناموس ساتنه، حب الوطني، قوميت پالنه او داسې نور د ټولنې د روح په څېر ټولنيز ارزښتونه دي. د ټولنې د ارزښتونو لمن ډېره پراخه ده، څومره چې د ټولنې او انساني ژوندانه لمن پراخه ده، په همدې ډول ارزښتونه هم سره زيات او پراخ دي. په ځينو ځايونو کې ښايي يو څه د ارزښت په توګه وګڼل شي او ومنل شي، خو په ځينو نورو ځايونو کې بيا هماغه ډول تعبير نه لري. ما دلته هڅه کړې هغه ارزښتونه راواخلم او بحث وربانديې وکړم، چې د پښتني او افغاني ټولنې ګډ ارزښتونه دي.

ketabton.com - The Digital Library



ګټه تر لاسه کول ، مسووليت منل، تعقل، شفافيت، خونديتوب، د صدقاتو ورکړه، د بېوسو لاسنيوی، د بشر حقوق، ډيموکراسي، پاکوالی او نظافت، ګډکار کول، انساني اړيکې، توافق، ټوکې ټکالې، فولکلور، دوديزه درملنه، د بيان آزادي، روغتيا ، بوختيا ، سوکالي، ښېرازتيا ، امنيت، سوله، د نورو عقايدو ته درناوی، په ځان اعتماد ، ښکلا ، ساده توب، د عقل اصالت، ژمنتيا ، رښتيا ويل، مننه کول، سوداګريزه بوختيا او دې ته ورته زښت ډېر ارزښتونه دي، چې ټولنې او خلکو د درنښت په تله تللي او ځانګړی ځای او مقام لري، چې ما د کتاب د حجم د غټېدو له وېرې وربانديې بحث نه دی کړی.

زموږ ټولنه چې يوه عقيدوي ټولنه ده، د دې تر څنګ د اصيل کلتور له ارزښت سره جوخت منلي ټولنيز ارزښتونه هم لري، چې د اجتماعي ژوندانه او غني فرهنګ ښکارندويي کوي. په نړۍ کې هره ټولنه خپل ارزښتونه لري او خلک يې پالي، خو هغه ارزښتونه چې د معنويت له چينې اوبه څښي، هره ټولنه يې نه لري. په زغره ويلای شو چې په دې برخه کې زموږ د ټولنې شمله هسکه ده. د بېلګې په توګه مېلمه پالنه (د ډېرې، حجرې) ارزښت زموږ د ټولنې هغه ارزښت دی، چې په نړيواله کچه شهرت لري او د ښې ملګرتيا ، انسان دوستۍ او بشردوستۍ له فلسفې او حکمته ډک دی. يا تور سرو ته درناوی هغه ارزښت دی، چې هيڅ بله ټولنه يې بېلګه نه شي وړاندې کولای. يا

ketabton.com - The Digital Library



جرګـه چـې زمـوږ د کـور – کلـي او ولـس د يـرې سـتونزې وربانـدې هوارېږي، په هېڅ يوه ټولنه کې نه شته. له همدې ځايه وايو چې زموږ ټولنيز ارزښتونه تر ډېره زموږ له اصيل کلتوره سرچينه اخلي او زموږ د کلتوري غنا په اصل کې د خورا مهمې برخې نوم دی.

انسان نيمګړی دی، دا چې دغه اثر زما د فکري توليد پانګـه ده، پـه نيمګړتياوو يې له تاسوقدرمنو واردمخه بخښنه غـواړم، پـه دې هيلـه يم چې دا کتاب به تر يوه حده د افغاني او پښتني ټولنې د پېژندنې پـه برخه کې ګټور ثابت شي.

درنښت

اميد

ketabton.com - The Digital Library



# ټولنيز ارزښتونه څه دي؟

هر هغه څه چې ټولنه ورته په اهميت قايله وي، ټولنيز ارزښت ګڼل کېږي، د بېلګې په توګه عقيده او ګروهه ټولنيز ارزښت دی، مذهب ټولنيز ارزښت دی، اخلاق ټولنيز ارزښت دی، کلتور ټولنيز ارزښت دی، پوهه، محبت، روغتيا، شتمني، راشه درشه، مېلمه پالنه، فصاحت و بلاغت، ښکلا، ښه وينا، سخاوت، غيرت، درناوی، پښتونولي، اتفاق دا ټول ټولنيز ارزښتونه دي. ياني هر هغه څه چې د ټولنې خلک يې د يو جوهر په توګه مني او ورته اهميت لري، ټولنيز ارزښت ګڼل کېږي. هغه که مادي ارزښتونه دي او که معنوي.

د ټولنپوهنې د علم له مخې ټولنيز ارزښتونه هغه دي، چې ټولو ته د منلو وړ وي. يا په بله وينا هر هغه څه چې د ټولنې د ستاينې وړ وي ټولنيز ارزښت ګڼل کېږي. کېدای شي يو څه به د ځينو لپاره د منلو وړ نه وي، يا به په حقيقت کې ارزښت نه وي، خو د ټولنې اکثريت چې يې ارزښت ګڼي ټولنيز ارزښت دی. لکه د نسب او قوميت موضوع ښايي ډېرو ته د منلو وړ نه وي او په عقيده کې هم دا اصل په پام کې نه نيول کېږي، خو په دې سترګې نه شي پټېدای، چې دا ټولنيز ارزښت دی او خلک ورته په ارزښت قايل دي.

فرانسوي ټولنپوه ژان کازنو وايي: ((ګروهې، سلوکونه، پېژندنې، فنون او مادي شيان چې په اړه يې د خلکو افکارو او باورونو ښه نيولې او په تجربو رسېدلي وي، ټولنيز ارزښتونه ګڼل کېږي)). په هره ټولنه کې د خلکو عقيده

ketabton.com - The Digital Library



ټولنيز ارزښت دی او ټول خلک ورته په درنښت قايل وي. غوره سلوک، اخلاقي رفتار او نېک کردار د ټولنې ارزښت دی. د خلکو پېژندنه، پخپله د ارزښتونو پېژندنه، د علومو پېژندنه او نورې پېژندنې ټولنيز ارزښتونه دي. د شعر فن، د ليکوالۍ فن، د ويناوالۍ فن، د موسيقۍ فن، د زرګرۍ فن، د ميناتورۍ فن، د نقاشۍ فن، د رسامۍ فن، د خطاطۍ فن او نور فنون، چې خلک ورته په اهميت قايل دي ټولنيز ارزښتونه ګڼل کېږي. ټولنيز ارزښتونه په هره ټولنه کې يو شان نه دي. په هر هېواد، هر مذهب او هره عقيده کې ټولنيز ارزښتونه سره په توپير کې دي. ختيځ او لوېديځ سره د سوسياليزم او کپيټاليزم په ارزښتونو کې اختلاف لري. بوديزم، اوسنی يهوديت، اوسنی نصرانيت او اسلام مبارک دين سره په ارزښتونو کې توپير لري.

د هرې ټولنې ټول ارزښتونه د عقيدوي ارزښت، اجتماعي ارزښت، اقتصادي ارزښت او فرهنګي ارزښت تر سيورې لاندې وده کوي او دا څلور ارزښتونه د ټولنيزو ارزښتونو ټول فروعات په بر کې نيسي. دلته موږ په دې بحث نه کوو چې څه شی ارزښت دی او څه شی نه دی؟ موږ يوازې په دې بحث کوو چې ټولنه څه شي ته په ارزښت قايله ده او څه شي ته نه ده. په بلخ کې د سخي صاحب جنډه پورته کول بې ارزښته او عقيدوي بنسټ نه لري، خو ټولنې اوس د ټولنيز ارزښت په توګه منلی دی. زيارتونو ته د ښځو ډله ډله ورتګ ښايي عقيدوي ارزښت ونه لري، خو دغه اصل اوس هم په ټولنه کې د يو ارزښت په توګه ژوندی دی، ځينې کلتوري رسومات په هره ټولنه کې شته چې ټولنيز ارزښتونه ګڼل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library



د رايمونډ ويليمز (Raymond Williams 1921-1988) په باور ارزښتونه په معنوي لحاظ په دوه ډوله دي، يو يې په ځرګند ډول اجتماعي ارزښتونه دي، چې خلک ورته ځير دي، خلکو ته اهميت لري او رسېدلو ته يې هڅه کوي، دويم ډول يې د بېلابېلو کړنو په اړه د اخلاقي قضاوت معيار او ظابطه ده، چې نوموړی عالم دې ته فرهنګي ارزښت وايي.

ټولنيز ارزښتونه په حقيقت کې اخلاقي احکام دي، يا هغه حکمونه دي چې ټولنې ته ارزښت لري، ټولنه د همدغو ارزښتونو په چوکاټ کې خپل عقيدوي او فرهنګي مزل کوي او له نورو ټولنو سره د توپير حدود ټاکي. جرګه زموږ د ټولنې ارزښت دی، خو ښايي په نورو فرهنګونو کې دا اصل کمزوری وي، هلته ښايي خلک قانون او حکومت ته مراجعه وکړي او د جرګې په نوم څه ونه لري. حيا ټولنيز ارزښت دی، خو ښايي په غير مذهبي ټولنو کې دا ارزښت معکوس تعبير ولري. د مشرانو درناوی او تور سرو ته درناوی زموږ ټولنيز ارزښت دی، خو شايد په ځينو ټولنو کې دا موضوع په بل ډول وي.

څومره چې انساني ټولنې په بېلابېلو فرهنګونو وېشل شوي دي، هماغومره يې سره ارزښتونه په توپير او اختلاف کې دي. ځينې ټولنې مادي ارزښتونو ته ترجيح ورکوي او ځينې بيا معنوي ارزښتونه معتبر ګڼي، ځينې ټولنې بيا دواړه ارزښتونه مهم او د ټولنې د مادي او معنوي پرمختګ په لاره کې اړين ګڼي. په ځينو ټولنو کې د کلتوري ارزښتونو د ودې لپاره کار کېږي، په ځينو ټولنو کې بيا کلتور په اصيل او نا اصيل وېشل کېږي، اصيل فرهنګ ارزښت ګڼل کېږي او د نا اصيل پر وړاندې مبارزه کېږي. که په

ketabton.com - The Digital Library



لنډه توګه ووايو ارزښتونه د ټولني له مادي او معنوي سرچينو الهام اخلي او په هره ټولنه کې د يو مهم اصل په توګه ځای او مقام لري. څرنګه چې کلتورونه بدلون مومي، ورسره فرهنګي او ټولنيز ارزښتونه هم بدلېږي. نن نړۍ د زياتو ټولنيزو ارزښتونو شاهده او هره ټولنه خپل خپل ارزښتونه لري.

ketabton.com - The Digital Library



# پښتونولي

پښتونولي د پښتني ټولنې ارزښت دی، پښتونولي پښتني خويونو او پښتني اخلاقو ته وايي. هر هغه څوک چې همت، جرئت، مېلمه پالنه، شجاعت، سخاوت، مېړانه او باتوري ولري ورته وايي فلانی سړی پښتون دی. هر هغه څوک چې پر وعده وفا ولري، پر بېوزلو زړه سوی ولري، د حق پلويتوب وکړي، خلک وايي فلانی سړی پښتون دی. هر هغه څوک چې غيرت ولري او د خپلو ناميسو ساتنه کوي، خلک وايي فلانی سړی پښتون دی. هر هغه څوک چې د غليم پر وړاندې جګړه وکړي، يا په کومه جګړه کې د وياړ کارنامه تر سره کړي، خلک وايي فلاني سړي پښتونواله وکړه. هر هغه څوک چې زړورتيا له ځانه وښايي، خلک وايي پښتون دی. هر هغه څوک چې د شرف، عزت، حيثيت، وقار او انساني کرامت د درناوي لپاره کار وکړي، خلک وايي فلانی په رښتيا پښتون دی. شرم کولو، حيا او عزت النفس ته پښتونولي وايي.

سړيتوب، غيرت، تورزنتوب او په خپلو افتخاراتو وياړل پښتونولي ده. که دې د يو ظالم پر وړاندې د مظلوم ننګه وکړه، د پښتو کار دې وکړ. که دې يو چا ته پناه ورکړه، نو د پښتو کار دې وکړ. که دې يو څوک د ظالم له منګولو خلاص کړ، د پښتو کار دې وکړ. پښتونواله پښتون ته د دې اجازه نه ورکوي چې بې غېرته کار وکړي، يا داسې کار وکړي چې انسان ته د شرم خبره وي. پښتونولي په پښتون انسان کې د وجدان جوهر ته وايي، د وجدان

ketabton.com - The Digital Library



مثبتې فيصلې ته وايي، د وجدان قضاوت ته وايي، انساني ارزښت ته وايي، معنويت ته وايي، د سرېتوب او شخصيت جوهر ته وايي، سرلوړۍ ته وايي، ديانت ته وايي، اکرام او خلوص ته وايي، هغه جوهر ته وايي چې انسان ته ارزښت او قيمت بخښي، هغې کړنې ته وايي چې انسان ورباندې د سرلوړۍ احساس کوي.

هره هغه کړنه چې د سليم عقل او پاک وجدان په اساس تا تر سره کړه او اروا دې د راحت احساس وکړ، پښتونولي ده. هره هغه بريا چې تا د ځان لپاره سرلوړي وګڼله، پښتونولي ده. د معنويت هر تاج چې تا ته ستا د کړنې له مخې ټولنې درپه سر کړ، پښتونولي ده. پښتونولي په پښتون انسان کې يو معنوي ځواک دی، يو داسې ځواک چې په نېکو امر کوي او له بدو دې منع کوي. يو داسې ځواک چې سم له ناسمو بېلوي، يو داسې ځواک چې له انسان او انسانيت سره د مينې په فلسفه تا د هغه ملاتړ ته رابولي. پښتونولي انسان پت او درنښت ته رابولي او ژوند ته د سرلوړۍ کيسه کوي. په انسان کې همت روزي، په انسان کې جرئت ته وده ورکوي او په انسان کې د رهبريت، قاطعيت، صميميت او عدالت خويونه پنځوي.

پښتونولي د انسان په وجدان کې د عالي افکارو نه په الهام اخيستنې سره هغه جوهر دی، چې پښتون انسان ته د سرلوړۍ دستار تړي او د عظمت له خزانې ورته ډېر څه په برخه کوي. پښتونولي په ځان کې د نېکو اخلاقو د مديريت ځواک دی، چې انسان ته د ښه او بد کار توپير په ګوته کوي او ښو چارو ته يې رابولي.

ketabton.com - The Digital Library



پښتونولي په پښتون انسان کې د ناخوداګاه ضمير پټ او مرموز ځواک دی، چې د انسان په خوداګاه ضمير حکومت کوي او پښتون انسان نه پرېږدي چې د بې شرمۍ، بې همتۍ او پستۍ نړۍ ته پناه يوسي.

يو کس چې ظلم و ناروا وکړي، خلک وايي بې پښتو کار يې وکړ، يو کس چې د بل حق وخوري، خلک وايي بې پښتو کار يې وکړ، يو کس چې بې غېرتۍ ته غاړه کېږدي، خلک وايي بې پښتو کار يې وکړ.

پښتونولي د پښتني ارزښتونو نوم دی، يو څوک به پښتو خبرې کوي، خو پښتونولي به نه لري، يو بل کس به په پښتو خبرې نه کوي د پښتونولۍ کار به وکړي، خلک وايي د پښتونولۍ کار يې کړی دی. که درنه جامه دې واغوستله، خلک وايي پښتونوالۍ ته ژمن انسان دی. که دې د خلکو د ناموس د ساتنې لپاره توره پورته کړه، خلک وايي په پښتو ولاړ سړی دی. که دې له بد اخلاقيو، بې شرميو، بې حيثيتيو ډډه وکړه او خپله لاره دې له بدعمليو بېله کړه، خلک وايي د پښتونولۍ په لاره روان دی.

پښتونولي د اخلاقو او لوړو ټولنيزو خويونو ټولګه ده، پښتونولي د پښتني ټولنې روح دی، پښتونولي د پښتنو زينت او جامه ده. پښتونولي بشرپالنه ده، پښتونولي مينه ده، محبت دی، صداقت دی، عدالت دی، ايماني قوت دی، سرلوړي ده او سربازي ده.سړيتوب هم ورته وايي او نارينتوب يې هم بولي. دغه د پښتونولۍ صفتونه دي، هر پښتون چې خپله شمله له نازه کږه وړي، نو دا صفتونه بايد پکې وي. شخصيت به يې له دې مرغلرو جوړ وي او د ژوند تياري به يې په دې رڼاګانو ښايسته وي. نو په لنډه توګه

ketabton.com - The Digital Library



ويلای شو چې پښتونولي د پښتني ټولنې ستر او له عظمته ډک ارزښت دی.

ketabton.com - The Digital Library



# شخصيت ساتنه

شخصيت ساتنه ټولنيز ارزښت دی، هر سړی هڅه کوي، چې شخصيت يې وساتل شي او پر لمن يې تور داغ پورې نه شي. اروا پوهان د شخصيت رغښت له درې توکو څخه: ارثيت، چاپېريال او د ژوندانه تجربې. هغوی استدلال کوي، چې د هر انسان د شخصيت ماڼۍ له دې درې توکو جوړه شوې ده، خو د اخلاقياتو په قاموس کې بيا شخصيت د انساني جوهر نوم دی، شخصيت د انسان په وجود کې د معنويت هغه مرغلره ده، چې انسان ورباندې سرلوړی وي، انسان ورباندې عزتمن وي او انسان ورباندې ښاغلی او منلی وي.

شخصيت د انسان زينت دی، شخصيت د انسان هويت او پېژندنه ده، شخصيت د انسان درنښت او وقار دی، شخصيت د انسان کمال او جمال دی، شخصيت د انسان «آب» دی او شخصيت د انسان په وجود کې د معنويت اروا ده. شخصيت د انسان د افکارو، احساس او کړنې ټولګه ده، زموږ سم فکر زموږ شخصيت دی، زموږ روغ نيت زموږ شخصيت دی، زموږ مينه زموږ شخصيت دی، زموږ درک او احساس زموږ شخصيت دی او زموږ کړنې او اعمال زموږ شخصيت دی.

موږ شخصيتونه د خلکو د فکر، احساس او عمل له مخې سره بېلوو. موږ وايو فلانی تکړه دی، فعال دی، ښه ويناوال دی، مثبت او قاطع دی، تونډ

ketabton.com - The Digital Library



او تریخ دی، خبرلوخ دی، خپلسری دی، ژمن او هوډمن دی. دا ټولې د یو کس د شخصیت ځانګړنې دي.

همدا راز وایو چې فلانی ژور فکر کوي، روڼ آندی او روښان فکره دی، تخلیق کوونکی او پنځوونکی فکر لري، ډېر ښه خویونه لري، نوښتګر دی، ځواکمن ذهن لري، ویښ او بېدار دی، ځیرمن او دقیق دی، خیالي او سوچي سړی دی، فلسفي او سودایي دی. دا ټول د یو شخص د شخصیت ځانګړنې دي.

موږ اورو چې د ځینو کسانو په اړه ویل کېږي: فلانی بدخویه او بدخُلقه دی، توند او حساس دی، عصبي دی، ژر په قارېږي، اندېښمن دی، بخیل او حسد کوونکی دی، جذباتي دی، ډېر ژر خپه کېږي، نازک مزاجه دی. دا ټولې د یو شخص د شخصیت ځانګړنې دي.

د هر انسان د تعریف لپاره چې کوم صفتونه کارول کېږي دا د هغه د شخصیت تصویر دی، لکه چې وایو: فلانی لوراند دی، ډېر صمیمي دی، مرستندوی دی، خوشحال طبعیته دی، ډاډمن او با اعتماده دی، سخي دی، توافق کوونکی دی، احتیاط کاره دی، له خلکو سره همکار او ملګری دی، خواخوږی دی. دا ټول د یو شخص د شخصیت جواهر دي.

د یو کس په اړه داسې هم اورو چې فلانی ډېر پاک او سپېڅلی سړی دی، هغه په خپله خبره ولاړ او ثابت سړی دی، چست او چټک سړی دی، ډېر اغېزمن سړی دی، د کار او عمل خاوند دی، د زغم او حوصلې خاوند دی، ډېر منظم او اصولي دی. دا ټول د یو شخص د شخصیت اوصاف دي.

ketabton.com - The Digital Library



يا لکه چې اورو، فلانی دروغجن دی، بې اعتماده دی، لاپو دی، دوړن دی، بدګومانه دی، فاسق دی، بد کاره دی، بد ګفتاره دی، بدمعاش دی، بې لارې دی، بې منطقه دی، بې ډبه دی، بې شرمه دی، بد اخلاقه دی، بد سلوکه دی، بدمزاجه دی، بې ضميره دی، بې وجدانه دی، بې عزته دی، بې حيثيته دی، بې سوره دی. دا ټول هغه صفتونه دي، چې ببلابېلو اشخاصو ته کارول کېږي او د ځينو د شخصيت له اوصافو څخه ګڼل کېږي.

نو انسان هڅه کوي، چې په ټولنه کې ورته دروند نظر وشي او شخصيت يې د ښو صفتونو له اصله جوړ وي. د هر کس هيله او ارزو دا وي، چې د ښو صفاتو او ښو اخلاقو له لارې يې شخصيت په ټولنه کې د عزت مقام خپل کړي او حيثيت ته يې زيان ونه رسي.

انسان په فطري ډول غواړي خپل جوهر وساتي، د همدې موخې لپاره مدام په دې لاره کې هڅه کوي، چې له ناکارو او بې کارو چارو لاس په سر شي او د اخلاقو او ديانت لاره غوره کړي، ځکه چې د شخصيت ګوهر يې د ښو صفتونو په سمندر کې موندل کېږي. موږ او تاسې هر يو په دې هڅه کې يوو چې ښه شخصيت ولرو او په خلکو کې په ښه نامه ياد شو.

انسان په فطري ډول له خپل شخصيت سره مينه لري، انسان په فطري ډول دا خوښوي، چې د عزت او درنښت په نظر ورته وکتل شي، انسان دا خوښوي، چې په خلکو کې د عزت او سرلوړۍ ژوند تېر کړي او خلک يې په اړه ښه قضاوت ولري. ځکه نو وايو چې شخصيت ساتنه ټولنيز ارزښت دی او د يو مهم اصل په توګه ورته کتل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library



# جرګه

جرګه هم پښتني ارزښت دی، هم افغاني. جرګه په ولس او خلکو کې منلی دود دی، افغانان خپلې ډېرې ستونزې او مسئلې د جرګې او مشورې له لارې حلوي. ډېرې دښمنۍ په جرګه حل شوي او ډېرې خوابدۍ د جرګې له برکته په خوشحالۍ بدلې شوي دي.

موږ افغانان د جرګې دود ته ډېر درناوی لرو، که یو څوک سهواً یا قصداً د چا پر وړاندې د کوم جرم مرتکب شي، مقابل لوري ته د پښېمانۍ لپاره جرګه او ننواتې لېږي. مشران، سپين ږيري، روحانيون او عالمان ورته کور ته لېږي او د خپلې سهوې بخښنه غواړي. که څوک د چا خور یا لور غواړي، نو جرګه ورته لېږي. که څوک له چا سره خپلولي کوي، نو جرګه ورته لېږي. که څوک له چا سره زړه بداوی لري او غواړي چې دغه حالت ته د پای ټکی کېږدي، نو جرګه ورته لېږي. که څوک د پولې-پټې په سر د پېښېدونکې شخړې مخه نيسي، یا د پېښې شوې ستونزې هواری غواړي، نو په خپلو کې سره جرګه کېږي. که څوک د ولس د حق غوښتلو لپاره له دولته غوښتنه لري، نو قومي مشران او با اعتباره شخصيتونه ورته جرګه لېږي. آن تر دې چې د افغانانو لويه جرګه د هېواد د برخليک په اړه لويې فېصلې کوي او دا يو ستر منلی او ځواکمن دود دی.

ketabton.com - The Digital Library



د جرګې دود په خلکو کې منلی دود دی، دا ټولنيز ارزښت له لرغونو زمانو په افغاني ټولنه کې شته او د يو اصل په توګه پالل کېږي. جرګه په افغاني ټولنه کې د يو قانون په توګه مطرح ده او خلک تر ډېره د قانون پر ځای په جرګه تکيه لري. جرګه سم دواره د مسئلې ټولنيز-اخلاقي حل رامنځته کوي، د پېښې سره سم محور اشخاص سره راټولېږي او د ستونزې د دوارو اړخونو تر منځ روغه کوي. دا دود ځکه منلی دی، چې له دې سره د پېښې د قرباني لوري درناوی او عذر کېږي، ملامت لوری د خپلې ملامتيا بخښنه غواړي، خپله سهوه مني، خپل عذر وړاندې کوي او ناغه مني.

جرګه خپل اصول لري، چې «نرخ» ورته وايي، د هماغو منلو شويو اصولو له مخې مشران د مسئلې حساسيت ته ګوري او پر وړاندې يې فيصله کوي. د جرګې خير دا دی چې له قانون نه مخکې پېښې ته رسېدنه کېږي، د جرګې دواړه لوري سره پخلاينې او يو بل ته د عفوې او بخښنې لپاره چمتو کېږي، بلکه دا چې جرګه په راتلونکې کې د دښمنۍ او شخړې مخنيوی کوي.

په قانون کې بيا دا ستونزه په اسانه نه حل کېږي، يو خو قانون په خپل وخت پېښې ته رسېدنه نه شي کولای، بلکه دا چې تحقيقات او څېړنې ډېر وخت نيسي، د رشوت، بډو اخيستلو او واسطې وېره هم پکې متصوره وي، چې يو لوری مجازات هم شي، د زيانمن لوري عذر نه وي شوی، زيانمن لوری نه وي پخلا شوی، هغوی وخت ته ګوري او د غچ اخيستنې په فکر کې وي. ځکه نو ولس جرګې ته ترجيح ورکوي او جرګه خوښوي.

ketabton.com - The Digital Library



جرګه ټولنيز ارزښت دی، جرګـه درنښـت دی، جرګـه ملـي دود دی، جرګـه د ټولنيزو ستونزو او مشکلاتو د حل لپاره ولسي قانون دی. که څه هم ښـايي د جرګو ټولې پرېکړې پر عـدل او انصـاف ولاړې نـه وي، ښـايي عقيـدوي او قانوني اصل ته پکې پاملرنـه نـه وي شـوي، ښـايي د ځېنـو اشخاصـو حقـوق پکې پامـال شـوي او لـه پامـه غورځېـدلي وي، خـو بيـا هـم جرګـه پـه افغـاني ټولنه کې يو ځواکمن ملي، ټولنيز او کلتوري ارزښت دی او خلـک ورتـه پـه اهميت او درناوي قايل دي.

افغانان خپلې ورې- غټې پېښـې پـه جرګـو هـواروي، خپلـو مشـکلاتو تـه د جرګو له لارې حل لټوي، په جرګو باور لري او جرګـه د يـو ټـولنيز ارزښت پـه توګه په دې ټولنه کې منـل شـوې ده. پـه دې سربېره نـور پښـتني دودونـه هـم شتـه لکه: مرکه، چې د يو چا د خور لور د غوښتلو لپاره يوه ډله خلک لېـږل کېږي. لکه: ننواتې، چې د عذر لپاره خلک زيانمن لوري ته لېږل کېـږي. پـه دې سـربېره نـور پښـتني دودونـه هـم شـتـه، چـې پښـتانه ورتـه ژمـن دي او د پښتونولۍ د اصل په توګه ورتـه درنښت لري.

ketabton.com - The Digital Library



# باور ساتنه

اعتبار ساتل لویه شتمني او ستر ټولنیز ارزښت دی، ویسا ، باور او اعتبار هغه ارزښت دی، چې د یو شخص معنوي جوهر ګڼل کېږي، که تاسې په خپلو دوستانو کې خپل اعتبار وساته، لویه شتمني مو خپله کړه، که تاسې یو با اعتباره دوست وموند، په مزل به ورسره ښه ښکاره شئ. د اعتبار ساتلو لپاره صداقت او رښتینولي اصل دی. که چا خپل ځان په رښتیا ویلو عادت کړ او د صداقت جوهر یې په خپل ځان کې وپاله په خپل شخصیت کې به د باور او اعتماد ستره نړۍ وپنځوي.

موږ پر ځان د باور یا پر خپلو وړتیاوو د باور خبره کړې وه، دلته غواړو د ځان په اړه د نورو په باور خبره وکړو. پر ځان باور هغه څه دي چې ته یې د خپل ځان په اړه لرې، یا ته د خپل ځان په اړه فکر کوې. د ځان په اړه د نورو باور په دې مانا دی، چې ستا په اړه نور څه فکر کوي او ته د نورو له آنده څه او څوک یې؟

د اعتبار د ساتلو او پر ځان د نورو د باور لپاره مدام د اخلاص لاره غوره کړئ، له انسانانو سره مینه وکړئ، د خلکو د خیر پلویان شئ، د خلکو په خوشحالۍ خوشحاله او په خپګان یې خپه شئ، له خلکو سره رښتینی محبت ولرئ، خپله وعده هېڅکله مه ماتوئ، که چا درته امانت وسپاره کله یې هم خیانت نه کړئ، د خپلو دوستانو رازونه وساتئ، د نورو په

ketabton.com - The Digital Library



خطاوو او سهوو سترګې پټې کړئ، د چا د شخصيت د وژلو او سپکاوي فکر مه کوئ، چا ته هم د فريب او تېر ايستلو دام مه ږدئ، مدام بايد ستاسې سلوک د نورو په وړاندې په درناوي ولاړ وي، تاسې بايد نورو ته وښاياست چې د نورو انساني کرامت ته درناوی لرئ، له هغوی سره مينه لرئ، د هغوی خواخوږي ياست. هله به تاسې په خلکو کې خپل اعتماد او باور ساتلی وي او هله به تاسې په ټولنه کې د غوره شخصيت ځای او مقام خپل کړی وي.

تاسې بايد په خپل شخصيت کې د اعتماد ساتلو لپاره ځانګړې نړۍ ولرئ، هغه کړنه تر سره نه کړئ چې ستاسې باور او اعتماد ته زيان رسوي او تاسې د خلکو په منځ کې بې باوره کوي. پښتانه وايي : (( د درواغو مزل لنډ وي)). که مو په درواغو د چا د باور او اعتماد رايه خپله کړه، پوه شئ چې دا مزل مو تر يوه وخته دی او دوام نه شي کولای.

له تاسې سره خپلې تجربې شريکوم، يوه ورځ يو دوست راته تليفون وکړ ويې ويل چې د کور مخې ته يې خلک د اوبو له ستونزې سره مخامخ دي، د څښاک اوبه نه شته، خلکو ته کړې چې په کوڅه کې يوه ژوره څاه وباسې، څه نا څه پېسې يې ټولې کړي دي، خو يو څو زره پکې کمېږي، ما ويل که ته په دې ثواب کې برخه واخلې ښه به وي. په سبا مې د خدای د رضا لپاره پېسې وروسپارلې او ضمير مې په دې خوشاله و چې د خير کار مې کړی دی، څو مياشتې وروسته داسې پېښه شوه، چې د خپل دوست کور ته لاړم، شاوخوا ټول قصرونه او ماڼۍ آبادې وې، داسې معلومېدله چې د دې ځای هر کس په خپل کور کې د ژوندانه ټول سهولتونه لري او دې ته اړتيا نه شته

ketabton.com - The Digital Library



چې خپل بچيان کوڅې ته په اوبو پسې وباسي. د خپل دوست کور ته ځېرمه په هېڅ ځای کې د اوبو څاه نه وه، له ماشومانو مې پوښتنه وکړه هغوی وويل: دلته د اوبو بمبه نشته. پوه شوم چې دوست مې راته رښتيا نه وو ويلي او په خپل کور کې د ژورې څاه لپاره يې رانه پيسې اخيستې وې. اوس زما هغه دوست له ما سره هغه پخوانی تصوير نه لري او باور ورباندې نه شم کولای.

يو دوست مې کيسه کوله، ويل يې چې يو ملګري يې ورته زنګ وواهه، ويې ويل: وروره! چېرته يې؟ زما څو روپو ته اړتيا ده؟ وايي چې ما ترې پوښتنه وکړه چې خير خو به وي؟ راته يې وويل چې مېرمن مې په روغتون کې بستر ده، همدا اوس دې ورېره پيدا شوه، ډاکټر ورته دوا درمل ليکلي او زما په لاس کې ټنګه هم نه شته، ما ويل چې که څو زره دې راته راکړې وای، چې درمل ورباندې واخلم. وايي چې پيسې مې ورکړې، خو وروسته خبر شوم چې نوموړي بناغلي په دې ورځ له خپلو لسو دولسو دوستانو په همدې نوم پيسې ټولې کړې وې، نه يې مېرمن بستر وه او نه يې لور پيدا شوې وه.

هغه کيسه کوله چې له دې خبرې دوه درې کاله تېر شول، خو هغه نه په مخه راځي او نه مې تليفون ته ځواب وايي. ځېنې خلک رښتيني نه وي، د خلکو د تېر ايستلو لپاره خپله سليقه او قيافه جوړوي ته به وايې چې له سترو اخلاقو او ديانتـه جوړ انسان دی، خو کله چې ورسره په کومه معامله او راکړه ورکړه کې مخامخ شې بيا سړی پوهېږي چې چلند يې څه ډول دی. نو

ketabton.com - The Digital Library



په کار ده د نورو باور ساتلو لپاره په ځان کې معنويت ته کار وکړو او دا ټولنيز ارزښت خپل کړو.

اعتماد تکيه کولو، په يو چا متکي کېدلو او يو چا ته له ګومان پرته د چارو سپارلو ته وايي. پر ځان اعتماد، پر بل اعتماد، پر ټولنه اعتماد او پر سستم اعتماد د اعتماد او باور بشپړوونکي دي. که موږ وغواړو د باور او اعتماد معراج ته پورته شو، نو دغه مزل له «ځانه» پيلوو. اعتماد معنوي جوهر دی، چې لومړی بايد د خپل شخصيت په کرونده کې وکرل شي، وپالل شي او د غوړېدا لپاره يې کار وشي.

د اعتماد او باور لپاره د هر انسان په تشخص کې لويه نړۍ پته ده، هر کله چې د اعتماد لمر د انسان دغه نړۍ روښانه کړي، د بې باورۍ تياري په خپله کډه کوي او د باور سهار د پيلېدا سندره وايي.

پر ځان اعتماد د ټولو باورونو سرچينه ده، دا صفت په ځان کې پنځول اسانه او ارزانه دی، پر ځان اعتماد پر خپل وجدان اعتماد دی، پر خپلې وړتيا اعتماد، پر خپل عزت النفس اعتماد، پر خپلو کړنو اعتماد، پر خپل تصميم اعتماد، پر خپل فکري ځواک اعتماد، پر خپلې عاطفې اعتماد او پر خپل سلوک باور او اعتماد دی. دا هغه لارې دي چې موږ ته پر ځان د اعتماد ور پرانيزي او موږ پر خپل شخصيت او وړتيا باوري کوي. زموږ ډېرې بې اعتمادۍ له دې سرچينه اخلي، چې موږ دا جوهر په ځان کې نه دی موندلی او نه مو دی پاللی. که موږ پر ځان د باور او وېسا ترانه زده کړه، که موږ د اعتماد په فلسفه پوه شو، که موږ په خپل وجود کې دغه مرغلره وموندله، هله پر نورو اعتماد او باور کولای شو.

ketabton.com - The Digital Library



د انسان په پټه نړۍ کې د معنويت دغه ګلان د عزت النفس په زمزمو خړوبه کېږي او بيا پر ځان د باور ميوه او ثمر نيسي. موږ چې څومره د خپل ضمير هېنداره پاکه وساتو، په هماغه کچه به مو پر خپل نفس باور او اعتماد پياوړی وي. موږ که د خلکو رښتيني درناوی وکړ، پخپله به د نورو د درناوي وړ وګرځو او پر ځان د باور او اعتماد اصل به مو غښتلی شي.

موږ که د اجتماعي نزاکتونو او سليقې هنر په خپل ځان کې وپاله، نو د وجدان په کور کې به مو د عزت النفس ماڼۍ رغولي وي. موږ که په ځان کې اخلاقي، ذوقي او روحي جواهر وپېژندل او په ارزښت يې پوه شو، بويه چې پر ځان د اعتماد ماڼۍ مالکان يو. پر ځان اعتماد موږ پر خپلې وړتيا باوري کوي او د ټولنې له نورو وګړو سره مو د باور پر مراندو ملګرتيا تړه رابولي. ډېری بې باوري له دې پيدا کېږي، چې موږ اصلاً پر ځان باور نه لرو او دغه اصل مو په خپل ضمير کې نه دی پاللی.

زموږ د باورونو مور پر خپل نفس اعتماد دی، د هر انسان په وجود کې د معنويت لويه شتمني پټه ده، د هر انسان په وجود کې د فکر، استعداد، مينې، خلوص، عاطفې، قضاوت او لورينې د ماڼيز جوهر ستره پانګه پرته ده. موږ بايد دغه ارښتونه او ځواکمنتيا وپېژنو او ورباندې باور ولرو.

يو عالم وايي: ((پر خپل ځواک باور لرل نيم بريالیتوب دی)) اړينه ده چې بايد خپل ځواک وپېژنو او د خپل برياليتوب په رازونو پوه شو. د امريکا شپاړسم ولسمشر ابرهم لنکن وايي: ((په ټولو اعتماد لرل خطرناک دي، په هيچا اعتماد نه لرل ډېر خطرناک))

ketabton.com - The Digital Library



په دې پوهېږو چې هر سړی د باور وړ نه دی، خو بې باوري هم بايد دومره نه وي، چې هر سړی بې باوره وګڼو او د اعتماد مخ ترې وګرځوو. باور د انسانانو تر منځ اړيکې پالي، روابط غښتلي کوي، د صميميت او ملګرتيا وياړ بخښي او باور کوونکي ته روحي سکون ډالۍ کوي. باور او اعتماد دی، چې د پلار و زوی، مشر و کشر، مېړه و ښځې، دوست و ملګري تر منځ د خلوص او محبت فضا جوړوي او ژوند ته د خوشاليو روح بخښي.

موږ ولې بې باوره يو؟ ولې يو پر بل اعتماد نه لرو او ولې د خپلو کړنو او پرمختګ له پايلو ناهيلي يو؟ دا تر ډېره رواني ستونزه ده، زموږ منفي قضاوت او پر خپلو وړتياوو عقيده نه لرل زموږ روحي مشکل دی، منفي قضاوتونه د ډېرو انسانانو د شخصيتونو برخې ګرځېدلې، لامل يې دا دی چې موږ په خپلو ځانونو کې د توانمندۍ روحيه نه ده پاللې او مدام مو د خپلې ناکامۍ احساس ته په ذهن کې ځای ورکړی، حال دا چې دا پېريان پاخول غواړي او د ذهن په کور کې د اعتماد فضاء رامنځته کول.

تاسې به دا ډول شکايتونه ډېر اورئ چې وايي: يوم البدتر دی، اخلاق تباه شول، په زرو کلونو کې به هم پرمختګ و نه ګورې، افغانستان نه جوړېږي، خدای که دا جګړه پای ته ورسېږي، مسلماني ورکه شوه او ...دې خلکو ته دا ويل په کار دي، چې ورونو مسلماني هم شته، موږ ورځ تر بلې د بهترۍ پر لور روان يو، خدای به جګړه پای ته ورسوي، افغانستان جوړ دی، پرمختګ روان دی، اخلاق نه دي تباه شوي. دا زموږ منفي تصورات دي، چې موږ د خپلې بدګومانۍ په توپان کې ساتي او نه مو پرېږدي، چې د اعتماد او باور له قافلې سره ملګري شو. دا افکار زموږ د پرمختګ مخه

ketabton.com - The Digital Library



نيسي، دا افکار زموږ ورتياوې او صلاحيتونه وژني او موږ د بري له مزله پاتې کوي. د نړۍ ټول پرمختګونه له فکره الهام اخلي او د انسان هوساينه، سوکالي او نېکمرغي د روغ فکر محصول ده. موږ بايد منفي فکر له ځانه لرې او د مثبت فکر کښت ته د ذهن کرونده وتره کړو، دا يوه رواني مبارزه ده او ولس بايد د بې اعتمادۍ له ناروغۍ وژغورل شي.

اعتماد د پرمختګ کيلي ده، اعتماد د ټولنيز سکون راز دی، اعتماد د ژوندانه د هوساينې تعريف دی او اعتماد د بشرپالنې او بشردوستۍ حکمت او فلسفه ده. موږ بايد دغه کتاب پرانيزو او په مفاهيمو يې ځانونه پوه کړو. موږ بايد د بې اعتمادۍ له زندانه راووځو او د اعتماد شعار زمزمه کړو. موږ بايد د بې باورۍ کپسونه مات کړو او د باور په وزرو ترې والوزو. د بې اعتمادۍ دنيا وړه او د اعتماد نړۍ ډېره پراخه ده. موږ بايد د اعتماد په ستره نړۍ کې پروازونه وکړو او خپل ولس او ټولنې ته د باور او اعتماد له نړۍ ستر پيغام راوړو.

د امريکا ستر ليکوال بريان ترايسي په خپله يوه وينا کې وايي: «ما د سترو، برياليو او اغېزمنو ښځو او نارينه وو په اړه څېړنه وکړه، د هغوی بيوګرافۍ مې ولوستلې، د هغوی جرئت، سلوک او رويه مې مطالعه کړه او د فلسفې، اقتصاد، مذهب، ارواپوهنې او ميتافزيک په رڼا کې مې د هغوی اغېزمنتوب تر څېړنې لاندې ونيو، په پايله کې مې لس ټکي د (key Qualities) يا د کوايفو د کيلي په توګه ومومندل. دغه ليکوال لسو ارزښتونو ته اشاره کوي او وايي چې څرګندوالی، کفايت، ثبات، مثبت فکري ځواک، خلاقيت، پاملرنه، پر وعده درېدل، جرئت او اعتماد د دغو

ketabton.com - The Digital Library



اشخاصــو د بريـاليتوبونو د راز ټکـي وو، چــې مـا پــه خپلـو څېړنـو کــې ومونـدل)) نومـوړی د هر ارزښت د تفصيلي څېړنې په پايله کې وايـي:(( اعـتماد هغه څه نه دي، چې موږ يې بايد زده کړو، کـه مـوږ د برياليتوب لـه دغو لسو رازونو نهه خپل کړل، لسم يې اعتماد دی، چې پخپلـه بـه زمـوږ د شخصيت يوه برخه شي او بيا به موږ د يو مثبت او اغېزمن شخص پـه توګـه په ټولنه کې مطرح يو))

هو! که موږ د ټولنيزو ارزښتونو لپـاره کـار وکړ، د اعتمـاد ملکـه بـه پخپلـه زمـوږ پـر شخصـيت وزرې وغـوړوي او د بـې اعتمـادۍ لـه تيـارو بـه نجـات راکړي. راځئ! په ګډه د بې باورۍ له دېوانو د اعتماد نړۍ ته پناه يوسو او د روحي سکون او ډاډ په کور کې د هوساينې له غېږ سره خپل غېږ ملګرې کړو.

ketabton.com - The Digital Library



# غوره انساني سلوک

غوره انساني سلوک ټولنيز ارزښت دی. غوره سلوک د انسان اخلاقي جوهر دی، د اخلاقو چينه له همدې ځايه بهانده ده، که زموږ سلوک ښه او لوړ وي شخصيت مو په هماغه اندازه عالي او ستر دی، که زموږ سلوک نېک او ښکلی وي، په هماغه کچه به مو د زړونو کورونو ته لارې موندلې وي. سلوک د انسان جوهر دی، سلوک د انسان معنويت دی او سلوک د انسان د انساني صفاتو مور ده. که مو غوښتي وي چې د هر کس د زړه پر سيکه د محبت مهر ولګوو دا کار د سلوک له لارې شوني دی، که غواړو چې په دوستانو کې مو د اعتماد او باور ځای او مقام موندلی وي، دا کار د سلوک او رويش له لارې شوني دی، که له نورو سره زموږ سلوک بد وي او موږ له نورو د ښو تمه لرو، دا باد په توره وهل دي، خيال دی او خوب دی.

راځئ! د خپل ذوق په نړۍ کې وګورو، وبه وينو چې انسان په فطري لحاظ هغه څوک خوښوي، چې ښه سلوک ولري، هغه څوک خوښوي چې مينه، لورينه، خلوص او ملګرتيا يې له ښه سلوکه الهام اخلي، هغه څوک خوښوي، چې سلوک يې د اخلاقي جوهر بېلګه وي، چې داسې ده، نو پر نورو د ځان ګرانولو او پر نورو د خپل شخصيت د منلو لپاره يوازينۍ نسخه غوره سلوک دی.

ketabton.com - The Digital Library



هر انسان د بدسلوکه او نېک سلوکه انسان تر منځ په تو‌پیر کولو د خپلې دوستۍ لارې جلا کوي او انسانان په اتومات ډول په دوه کټه ګوریو وېشل کېږي، چې یوه د ښو خویونو او نېک سلوک ډله او بله ډله هغه خلک چې بدسلوکه او بد رفتاره دي. یو انګرېز شاعر وایي:

‘’ First we make our habits, then the habits make us’’

یانې موږ لومړی خپل خویونه جوړوو، بیا همدا خویونه دي، چې موږ جوړوي. که د دې خبرې فلسفې ته ځیر شو، ډېره ژوره ده، د دې مانا داده، چې زموږ خویونه زموږ په واک کې دي، څرنګه چې وغواړو د خپل خوی او سلوک نیلی ځغلولای شو، خو کله چې خویونه جوړ شول، لوی شول او زموږ د شخصیت کرونده یې ونیوله، بیا نو همدا خویونه دي، چې زموږ شخصیت جوړوي، بیا نو موږ هغه څوک یو، چې کوم خوی او عادت لرو، کومه رویه او سلوک لرو. بیا له دې نړۍ نه شو وتلای، بیا خلک موږ د خپل سلوک په هېنداره کې ګوري او ارزښت ته مو د سلوک او عادت، خوی او رویش په وزن قایل وي.

د دې لپاره چې څنګه ښه سلوک په ځان کې وپنځوو او څنګه د خپل شخصیت فصل د غوره سلوک په زمزمو خړوبه کړو اسانه او ارزانه لارې شته، که موږ خپله دا درک کړې وي، چې دغه یا هغه سلوک غوره دی او په ما کې نه شته. یا که مو دا تشخیص کړې وي، چې هغه یا دغه سلوک بد دی او په ما کې شته، نو لږه خواري غواړي، دا عادت خپلول یا دا عادت لرې کول تمرین غواړي، عمل غواړي او هوډ ته اړتیا لري. که تاسې په صادقانه توګه په خپل شخصیت کې د یوې موسکا ښاپېرۍ وپالۍ او دغه

ketabton.com - The Digital Library



مېلمنه درنه خپه نه شي، تاسې ته به د ښه سلوک، ښه خوی او غوره عادت د انعام تاج درپه سر کړي.

له هر انسان سره په ورين تندي مخامخ شئ، په خوږه ژبه او پستو خبرو له هغه يا هغې سره خپل نظر شريک کړئ او د موسکا په ډالۍ ورته د زړه د مينې کتاب پرانيزئ، باور ولرئ چې تاسې به په اسانه زړونو ته لار ومومئ او هر زړه به په ډېره مينه تاسې ته د خپل کور دروازې پرانيزي. دا غوره سلوک او د برياليتوب ښه نسخه ده.

څه فکر کوئ د يو کس يوه بده خبره، بد سلوک او ناوړه چلند په مقابل کس اغېز نه لري؟ هرو مرو يې لري، زه باور لرم چې ستاسې په ذهن کې به داسې منفورې څېرې وي، چې تاسې ته په يوې بدې خبرې، رټلو يا ښکنځلو يې ستاسې مينه په کرکه بدله کړې او تاسې يې اوس د يوې شېبې لپاره هم ملګرتيا او دوستۍ ته چمتو نه ياست. همداسې ښه خبره او ښه سلوک هم پر مقابل لوري اغېز او تاثير لري. ښه سلوک په مقابل لوري کې نرمښت، اطاعت او خلوص پنځوي او تاته د مزل هغه لاره لنډوي، چې غواړې د خپل سلوک له برکته په خلکو کې محبوب او عزتمن شئ. غوره سلوک د غوره شخصيت صفت دی، غوره سلوک د سترو اخلاقو جوهر دی، د چا چې سلوک غوره نه وي هېڅکله د غوره اخلاقي شخصيت مقام نه شي خپلولای او ټولنه يې له دې امتيازه بې برخې کوي، ټولنه يې د حساب له سريو باسي او د انزوا نړۍ ته يې سپاري.

په ځان کې د ښه سلوک خواږه پيدا کول اسانه دي، که په کور کې ياست د يو مهربانه پلار، مهربان ورور او مهرباني مور يا خور په توګه سلوک غوره

ketabton.com - The Digital Library



کړئ، خپلو اولادونو او د کور غړو ته دا ثابته کړئ، چې تاسې له نن وروسته یو مینه ناک او لوراند شخصیت یاست. بیا وګورئ چې د کور د غړو رویه او سلوک څنګه په اوتومات ډول ستاسې پر وړاندې بدلېږي او څنګه مو د قدر او عزت ګراف لوړېږي.

که په دفتر کې یاست د خپل دفتر له کارکوونکو او مراجعینو سره د ښه سلوک له لارې مخ ته ولاړ شئ، هر مراجعه کوونکي ته په مینه او ښایسته لهجه معلومات ورکړئ، هغه کاملاً ستاسې د ادارې د اصولو په اړه نا بلده او نا اشنا دی، هغه ته سمه لارښوونه وکړئ، د یو پیاله چای ست ورته وکړئ، که ساړه وو لږه شېبه یې یوې تودې بخارۍ ته کښېنوئ، که ګرمي وه یو ګیلاس یخې اوبه ورکړئ، لږه شېبه یې پکې ته کښېنوئ، چې خوله یې وچه شي او په اروا کې یې د راحت احساس غزونې وکړي، بیا وګورئ چې تاسې څنګه په اسانه کولای شئ د هغه د زړه میوند فتحه کړئ، د هغه په زړه کې ځان ته کور جوړ کړئ او د هغه اعتماد او باور خپل کړئ!

زه خپله یوه تجربه له تاسې سره شریکوم، ۱۳۷۹ لمریز کال و، زه د ننګرهار ورځپاڼې مرستیال وم دوه تنه معزز اشخاص زما دفتر ته راننوتل، د هغوی مې درناوی وکړ او یوه یوه پیاله چای مې د هغوی مخې ته کېښود، یو ښاغلي راته وویل: تاسې ښځینه مضامین نشروئ؟ ورته مې وویل: ولې نه، ښځه خو نیمه نړۍ ده، ښځه خو نیم انساني ژوند دی... هرومرو یې نشروو.

دا وخت یې یو شعر له جیبه وویست او ما ته یې راکړ، ما له ځانه سره شعر ولوست او په ښو خوږو الفاظو مې د شاعرې خور د شعري استعداد او وړتیا قدرداني وکړه. د لږې شېبې ښو خبرو زما او د هغه کس تر منځ د

ketabton.com - The Digital Library



دوستۍ داسې تارونه وځغلول، چې ما يې ساری نه و ليدلی. يوه مياشت وروسته ما هماغه شاعره خور يو خپلوان ته وغوښتله، زما د لرې مودې دې اعتماد زما او زما د نوي دوست تر منځ دومره ځواکمن پول جوړ کړی و، چې خبره مې ځمکې ته ونه غورځول شوه، اوس هغوی سره د يوې خوږې کورنۍ خاوندان دي او زه په دې خوشاله يم، د داسې دوستانو خاوند شوم، چې هره شېبه ورباندې وياړم.

ښه سلوک لويه پانګه ده، موږ هر يو بايد په دې هڅه کې شو، چې د سلوک اسانې لارې خپلې کړو او په پوره اخلاص له خلکو سره راشه درشه وپالو. دا لويه شتمني ده او شونې ده هر څوک له دې سمندره خپل جام ډک کړي. دا خزانه په ورکړه نه تشېږي او هېڅ غوښتونکی بېنوا نه پرېږدي، يوازې لږه ځيرنه او پاملرنه غواړي.

ښه سلوک د معنوي ژوندانه ډيوه او څراغ دی او دا څراغ مړ کېدو ته مه پرېږدئ.

ketabton.com - The Digital Library



# انساني کرامت

انسـاني کرامـت تـه درنـاوی ټـولنيز ارزښـت دی، مـوږ بايـد د يـو بـل درناوی وکړو او انساني کرامت ته يې قايل شو، انسان ډېره لويه هسـتي ده او انسـانيت هغـه جـوهر دی چـې خـدای ج يـوازې پـر انسـان لـورولی او نـور مخلوقات دا صفت او جوهر نه لري. الله ج فرمايي: «لقد کرمنـا بنـی ادم» يانې ما انسان د عزت خاوند پيدا کړی دی.

دا زموږ اخلاقي مسووليت دی، چې د انسان د عزت په اړه فکر وکړو او هر انسان ته لاس په نامه ودرېږو، د بل درناوی پـه حقيقـت کـې د ځـان درنـاوی دی، بل ته احترام کول د خپـل ځـان قـدر کـول دي، کـه مـوږ د نـورو درنـاوی وکړ او د نورو انساني کرامت ته په ارزښت قايل شو، نـور بـه زمـوږ درنـاوی وکړي او همدا د يوې مهذبې ټولنې ارزښت او قانون دی.

موږ چې کله د تهذيب خبره کوو، نو درناوی او له انسان سره مينه يې په سر کې راځي، موږ بايد خپل زړه ته له انسان سره د مينې کيسـې ورزده کړو او په دې باغ کې له انسان سره د مينې ګلان وکرو.

انسان ته الله ج هله د سترتوب مقام په برخه کړ چې د ملايکو مسجود شـو، پرښتو د حضرت ادم عليه السلام کالبود ته سجده وکړه او د انسـان داکرام او اعزام بېرغ له همدغه ځايه پـه رپېـدو شـو، انسـان همدلتـه سرلوړی شو، انسان همدلته د انساني کرامت او سـترتوب ځښـتن شـو، انسـان همدلتـه د

ketabton.com - The Digital Library



انساني جوهر خزانه وموندله او انسان همدلته د نړۍ سردار شو. ابليس چې انسان ته له سجدې او درناوي ډډه وکړه ورټل شو او د ملايکو له مقامه پرېوت.

موږ ځکه وايو چې انسان د درناوي وړ دی او د انسان بايد درناوی وشي، قدر يې وشي او اکرام يې وشي. په ځمکه کې انسان خليفه او ځای ناستی ګرځول يو بل اعزاز او اکرام دی چې پر انسان شوی دی، الله ﷻ فرمايي: «إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً» يانې زه په ځمکه کې خليفه او ځای ناستی ګرځوم. دا د انسان لپاره ډېر ستر مقام او لوی عزت دی، چې د کايناتو خالق ورپه برخه کړی دی، دا لويه معنوي شتمني ده چې الله ﷻ انسان ته په برخه کړې ده، دا لوی نعمت دی چې انسان ترې برخمن شوی دی، دا لوی اعتماد او باور دی، چې ستر خالق پر انسان کړی دی، دا لوی مسوولیت دی چې انسان ته ورکړل شوی دی او بلاخره دا د مانا لويه دنيا ده چې انسان ته سپارل شوې ده.

د انسان بل لوی اعزاز او عزت د هغه علم او پوهه ده، علم او پوهه د الله ﷻ له صفتونو څخه ده چې پر انسان يې لورولې ده، علم د الله ﷻ د معرفت څراغ دی چې انسان ته ورکړل شوی دی، علم نور او رڼا ده چې انسان ته ورکړل شوې ده، علم پوهه او بصيرت دی چې د انسان په برخه شوی دی، علم جوهر او زينت دی چې انسان ته ډالۍ شوی دی، علم شتمني ده چې انسان ته په واک کې ورکړل شوې ده، علم امتياز دی چې شمله يې انسان ته په سر شوې ده، علم د مرغلرو روان سمندر دی چې انسان ته بخښل شوی دی، نو

ketabton.com - The Digital Library



ځکه وايو چې انسان انساني کرامت لري او بايد درناوی يې وشي، بايد قدر يې وشي او عزت يې وشي.

د انسان د حيات مرغلره د الله ﷻ له روحه رغېدلې ده، ستر خالق فرمايي: (( و نفخ فيه من روحه)) ياني د انسان په وجود کې زما روح پو شوی دی. بل ځای فرمايي: ((فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُ سَاجِدِينَ)) ياني کله مو چې د انسان صورت برابر کړ او خپل روح مې پکې واچاوه، نو ملايکې ورته سجده کوونکي وګرځېدل.

اوس ګورو چې د انسان د معنويت معراج څومره لوړ دی، د انسان د کرامت اسمان څومره پورته دی، د انسان د انساني عظمت ماڼۍ څومره ستره ده، د انسان د تفوق امتياز څومره بې ساري دی؟ ځکه وايو چې انسان د کرامت خاوند دی، انسان عزتمن دی او بايد د انسان درناوی وشي، انسان ته په درنه سترګه وکتل شي او له انسان سره د يو ممتاز مخلوق په توګه چلند وشي، انسان ته ازار ونه رسول شي، له انسان سره بد سلوک ونه شي، انسان توهين نه شي، انسان ونه رټل شي، له انسانه په ناحقه ژوند وانه خېستل شي، په بد نيت د انسان د کور دروازه ونه ټکول شي او انسان ته د بشرپالنې او بشردوستۍ په روحيه د خپلې مينې او محبت غېږ پرانيستل شي.

هر انسان بايد خپل مقام وپېژني، د خپل شرافت او انساني کرامت په هنداره کې خپل مخ وګوري او د انسانيت په مانا او مفهوم ځان پوره پوه کړي، د حيوانيت له ورشو راوګرځي او د شرف دنيا خپله کړي.

ketabton.com - The Digital Library



انسان ته یو بل صفت هم ستر خالق ورپه برخه کړی دی، هغه د انسان اختیار او اراده ده، دا جوهر هم د انسان په انساني کرامت کې د ستر مقام نوم دی، الله ﷻ ورته د خپلو صلاحیتونو له جوهره د ارادې او اختیار صفت ورکړی دی، انسان یې خود مختاره پیدا کړ او د تصمیم نیونې له صلاحیته یې برخمن کړ، تر څو سمه او ناسمه لاره سره بېله کړي، تور له سپینه او شپه له ورځې د خپل عقل او فهم له مخې سره بېل کړي، د ښو ا وبدو په اړه خپله تصمیم ونیسي او د واک په ورشو کې په خپل زین کړي آس سفر وکړي او هغه ارزښتونه سره جلا کړي چې الله ﷻ ورباندې خوشالېږي او د رضایت سبب یې ګرځي. دا د انسان د انساني کرامت او جوهر بله ستره بېلګه ده چې الله ﷻ انسان ته ورنصیب کړې ده.

انسان چې څومره قیمتي دی د هغه ژوند هم قیمتي دی، الله ﷻ فرمايي:
((مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا))

یانې که یو چا یو نفس پرته له دې چې پور یې ورباندې وي په قتل ورساوه او په ځمکه کې یې فساد خپور کړ، نو داسې ده لکه ټول انسانان یې چې وژلي وي او که چا چاته ژوند وباخښه، لکه ټولو انسانانو ته یې چې ژوند بخښلی وي))

له دې ځایه موږ پوهېږو چې د انسان مقام څومره لوړ او د انسان انساني کرامت څومره ستر او د درناوي وړ دی؟

ketabton.com - The Digital Library



الله ﷻ انسان ته ډېر څه په واک کې ورکړي او ډېر څه يې ورباندې لورولي دي، ستر خالق فرمايي: ((وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ)) يانې اى انسانه! لمر او سپوږمۍ مې تاته تابع کړي دي. بل ځاى فرمايي: ((أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ)) يانې اى انسانه ايا ته نه ګورې هغه څه مې درته تابع ګرځولي دي چې په اسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي.

بل ځاى فرمايي: ((وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ)) يانې اى انسانه ما ټوله هغه څه درته تابع او په واک کې درکړي چې په اسمانونو کې دي او په ځمکه کې.

دې ته ورته نور مبارک ايتونه هم شته چې پر انسان د لورينو او انسان ته د واک او صلاحيت د ورکړې له اصله حاکي دي.

له همدې ځايه ده چې انسان د ستر اعزاز او اکرام خاوند دى. نو په کار ده چې د بشرپالنې او انسان پالنې په روحيه د انسان درناوى وکړو او په خپلو کې سره د مينې په کيسه راټول شو.

همدا انسان دوستي، بشردوستي او انساني کرامت ته د درناوي سمه لاره ده او د همدې لارې قافله د انسانيت مقام او معراج ته رسېدلې ده.

ketabton.com - The Digital Library



# ادب

ادب ټولنیز ارزښت دی، ادبپوهان د ادب د تعریف په اړه وایي: ((هره هغه ممتازه وینا، که شفاهي وي او که تحریري، چې هنري ارزښت ولري ادب ګڼل کېږي.)) د ادب لغوي مانا روزنه، ښه کړه وړه او غوره سلوک دی. دا هم ویل کېږي، چې ادب له ((هذب)) څخه اخېستل شوی او هذب دې ته وایي چې یو څوک د یوې ونې یا یو بوټي خورې ورې ناسمې څانګې پرې کړي او بوټي ته ښکلا په برخه کړي. موږ دلته ادب د ادبپوهانو له نظره نه څېړو، بلکې د ټولنیزې اروا پوهنې له مخې ورباندې بحث او خبرې کوو. په دې خبرې کوو، چې په ټولنه کې په عامه توګه ادب څه ته ویل کېږي او ارزښت یې په څه کې دی. موږ په دې خبره نه کوو چې ادب ژبنی فصاحت دی، بلاغت دی، لفظي او معنوي ښکلا ده، هغه پوهه ده چې انسان د وینا پر مهال له خطا او سهوې ژغوري او...

موږ دلته په دې خبرې کوو چې ټولنه څه ته ادب وایي او ولې ټولنیز ارزښت لري. په ټولنه کې چې څوک د بل درناوی کوي، خلک یې ادبناک ګڼي او نوم یې په درنښت یادېږي. څوک چې حیاناک وي، خلک وایي: فلانی ډېر ادبناک دی. څوک چې لږې خبرې کوي، خلک وایي: ډېر با ادبه دی. هر هغه څوک چې د مشرانو درناوی کوي، خلک یې مؤدبه ګڼي. ادب په ټولنه کې د یو ارزښت په توګه مطرح دی، ادب د شخصیت روح دی، ادب د شخصیت جوهر دی، هر هغه څوک چې د عالي او ستر شخصیت لرونکی

ketabton.com - The Digital Library



وي ارومرو بـه ادب لـري او تـر ډېره بـه يـې شخصـيت د ادب لـه ځراغـه رڼا اخلي.

ډېر ځله ادب د غوره شخصيت لپاره د اوصافو لويـه برخـه جوړوي. پـه ادب کې درناوی، حيا ، منښت، صبر ، زغم او تفکر ځـای لـري، چـې دا ټـول د يـو انسان د غوره شخصيت ښېلګې دي. د مور و پلار لـومړی هڅـه دا وي، چـې خپـل اولاد تـه ادب ورزده کـړي او پـه دې يـې پـوه کـړي، چـې د مشـرانو بـه درناوی کوي، د مشرانو خبرې ته به غوږ ږدي او غوره سلوک به زده کوي.

اديب يوازې هغه څوک نه دی، چې د ادب له څانګې فـارغ وي او د ادبيـاتو په اړه مطالعه لري. يا ادبي ليکنې کولای شـي، شـعر ليکـي، لنـډې کيسـې ليکي او ناولونه ليکي. اديب هغه څوک دی، چې په سلوک او عمل کې يې د ادب مالګه ګډه وي، چې ادب په کې وي، چې خبرې او کړنې يې ممتـازې وي، چې حرکات او سکنات يې د هنريت له ښکلا حـاکي وي. داسـې خلـک شته چې د ادب له څانګې فارغ دي، خو په خپل شخصيت کې د ادب جوهر نه لري، سپکې او سپورې به وايي، پوچې او عبثې ويناوې به کـوي، داسـې ګفتار به له خولې وباسي، چې انسـان يـې پـه اوريـدلو شرمېږي. خـو داسـې خلک شته، چې ادبيات يـې نـه دي لوسـتي، پـه مسـلکي لحـاظ پـه ادب نـه پوهېږي، خو د کړنې او سلوک کرونده يې د ادب له چينې خړوبه کېږي. وينا يې خوږه، ژبه يې پسته، تندی يې ورين، کړنه يې له حيا ډکه او الفـاظ يـې کره او منلي وي. داسـې خلـک خپلـه خبـره ژوي بيـا بـه يـې کـوي، پـه خبـره فکر کوي بيا يې له خولې باسي، کـه ټوکـه هـم کـوي، نـو د ادب پـه چوکـاټ

ketabton.com - The Digital Library



کې، که طنز او مزاح هم وړاندې کوي، په داسې الفاظو چې سپکې او سپورې پکې نه وي.

په حقیقت کې دا سړی ادیب دی او په حقیقت کې د ده کړنه او وینا هنریت لري. خلک همدې انسان ته مؤدبه وايي، خلک همدی له نورو ممتاز ګڼي او د ادب پتکی همده ته پر سر ږدي.

چوپتیا او خاموشي ادب ګڼل کېږي، په معقول انداز کې خپله خبره کول ادب ګڼل کېږي، تېرېدنه (ګزشت) ادب ګڼل کېږي، له بې حیاء حرکاتو ځان ژغورل ادب ګڼل کېږي، له بې باکو بحثونو او بې مانا بنډارونو ځان ګوښه کول ادب ګڼل کېږي، له نامحرمو خپل نظر ساتل ادب ګڼل کېږي، له ښکنځلو او رټلو ډډه کول ادب ګڼل کېږي، د ګستاخ انسان پر وړاندې صبر کول ادب ګڼل کېږي، د یوې نا مناسبې پوښتنې په ځواب کې چوپه خوله پاتې کېدل ادب ګڼل کېږي.

دا او دې ته ورته ارزښتونه ادب دی او ټولنه ورته په درنښت قایله ده. د ژوندانه په ځغل کې هر انسان په دې هڅه کې دی، چې د ادب مقام خپل کړي، خلک یې د مهذب او مؤادب انسان په توګه وپېژني، وینا یې پر نورو د هنریت له خوږو اغېز وکړي او سلوک یې د ادب په نړۍ کې منلی مقام خپل کړي. ځکه نو ادب هر چا ته مهم دی او هر څوک غواړي چې خپل شخصیت د ادب په ګاڼه پسول کړي.

ketabton.com - The Digital Library



# مدنيت

مدنيت يا مدني ژوند ټولنيز ارزښت دی، په مدنيت کې پرمختګ وي او هوساينه وي. په مدنيت کې نوښت، توليد، بسياتوب او بريا وې د ژوند د ښکلا نوم وي. هر انسان غواړي مدني ژوند ولري او د مدنيت له مزايا وو برخمن وي. موږ د مدنيت، تمدن او مدني ژوندانه په اړه له خلکو ډېر اورو، خو تر ډېره عام خلک په دې نه پوهېږي، چې تمدن څه ته وايي، مدنيت څه شی دی او مدني څوک دی؟ دلته غواړو په دغو ارزښتونو لږې خبرې وکړو. تمدن په لغت کې له مدينه څخه اخيستل شوی او مدينه ښار ته ويل کېږي، نو د تمدن مانا ښاري ژوند، يا ښاريتوب دی. په اصطلاح کې تمدن يا مدنيت له هغو هڅو او زيار څخه عبارت دی، چې ټولنه يې د بشر د مادي او معنوي ژوندانه په لاره کې ګالي.

د ټولنې معنوي يا مانيز ژوند عبارت له اصيل کلتور، اخلاقو او عقيدې څخه دی او مادي ژوند يې عمراني چارې او مادي نړۍ ده. په لنډه توګه د مدنيت تعريف داسې کولای شو. هغه ارزښتونه چې ټولنه يې د بشري ټولنې په روحي، اخلاقي، تنظيمي، تطبيقي او مادي برخه کې وړاندې کوي له تمدن، مدنيت يا مدنيتوب څخه عبارت دی. يا په بله وينا، هر کله چې په يوه ټولنه کې د ژوندانه ټولې اسانتياوې برابرې وي، متمدنه ټولنه ورته وايي او د ژوندانه دې بهير ته مدنيت وايي.

ketabton.com - The Digital Library



دا چې موږ په اسلامي ټولنه کې ژوند کوو او مسلمانان یو، نو زموږ د مدنیت درې ډګره دي، چې روحاني ډګر، ټولنیز و سیاسي ډګر او مادي ډګر دی. په روحاني ډګر کې زموږ او ستاسې مسوولیت دا دی، چې په ټولنه کې فکر، اخلاقو، دیانت، ادابو او ښوونې روزنې ته کار وکړو او خپله ټولنه د معنویت په ګاڼه پسول کړو. په ټولنیز و سیاسي ډګر کې مو مسوولیت دا دی، چې د عدالت، ملي وحدت، اتفاق او د قانون پلې کېدا ته کار وکړو او د جنایت او خیانت د مخنیوي لپاره خپل غږ پورته کړو. په مادي ډګر کې مو مسوولیت دا دی، چې د ټولنې په مادي پرمختګ کې برخه واخلو. د ترقۍ، پرمختګ او فزیکي و مادي بیا رغاونې اصل ته کار وکړو.

نه غواړو بحث علمي او اکاډمیک کړو، د اړتیا تر حده مو په مدنیت، تمدن، مدنیتوب او دا چې مدني شوک دی خبرې وکړې او د خپل مدني سفر موخې او تګلوری مو روښانه کړ. د مدني انسانانو په توګه زموږ او ستاسې د سفر او هدف لوری معلوم دی، موږ او تاسې مسوولیت لرو، چې د ټولنې د خیر لپاره مدنیتوب له دعوې سره سم قدم واخلو، دلته موږ ته د ټولنې هوساینه او پرمختګ مهم دی، موږ ته د خپل قوم او ولس سوکالي مهمه ده او موږ ته مدني ارزښتونه مهم دی.

که د مدني حرکتونو نړیوال تاریخ ته وګورو انساني نړۍ ورسره بدله شوې ده، انساني ټولنو ته آرام او هوسا ژوند په برخه شوی دی. راشئ د اسلامي تمدن تاریخ وګورئ، په غیر اسلامي ټولنو کې مهاتما ګاندي وګورئ، چې د عدم تشدد په فکري فلسفه یې یو مدني حرکت پیل او په پای کې یې خپل

ketabton.com - The Digital Library



ولس ته خپلواکي واخيستله. راشئ مارتين لودر کينګ او روسا پارکس(يوه تور پوستې مېرمن وه) وګورئ، چې افريقايي الاصله امريکايي تور پوستي ملت ته يې د خپل مدني حرکت او سوله ايزو مارشونو له برکته حقوق تر لاسه او په امريکا کې يې د نژادي تبعيض ديوالونه ونړول. راشئ نلسن منديلا وګورئ، چې د خپل ملت لپاره يې د مدني حرکت نه خپله مبارزه پيل کړه او ولس يې سوکاله کړ. په نړۍ کې داسې ډېرې بېلګې لرو، چې مدني حرکتونو ولس ته د امن، هوسايني او سوکالۍ پيغام لرلی دی. دا په دې پورې تړلې ده، چې زموږ ارمان څومره پاک او سپېڅلی دی، دا په دې پورې تړلې ده، چې زموږ ارمان څومره لوی او ستر دی. دا په دې پورې تړلې ده، چې موږ څومره مدني ارزښتونو ته ژمن او وفادار يو.

موږ که د خپل ولس ارزښتونو ته کار وکړ، په حقيقت کې مو خپلو کورونو ته سوکالي راوستله. که موږ د مدنيتوب په نوم يوه ډيوه بله کړه، په حقيقت کې مو خپل کور ته رڼا راوستله. که موږ د بشر په هوساينې فکر وکړ، په حقيقت کې مو د خپلو خلکو او خپلې کورنۍ د نيکمرغۍ لپاره فکر کړی دی. نو راځئ د يو شريک ارمان لپاره کار وکړو، د يو داسې مزل لارويان شو، چې هيله او ارزو مو سره شريکه وي. په لويو مسايلو فکر وکړو او لوي مسايل مطرح کړو. د انسانيت لپاره فکر وکړو، د خپلو مسلمانانو د ژوند لپاره فکر وکړو، دملت جوړونې لپاره فکر وکړو. لوی فکرونه انسان ته سترتوب بخښي او واړه فکرونه کوچنيان او واړه انسانان هم کولای شي.

که موږ ځانونه جوړ کړل، نو ټولنه جوړولای شو. که موږ ځانونه منظم کړل، د ټولنې انتظام ته کار کولای شو. زموږ ارمان شريک دی او هدف مو

ketabton.com - The Digital Library



سپېڅلی دی. مدني حرکت او مدنیتوب انساني غوښتنه ده، د ولس خدمت دی، د ولس لپاره منډې وهل دي او د انساني همدردۍ او عاطفې له مخې یو پاک ارمان ته کار کول دي.

ketabton.com - The Digital Library



# اورېدل

اورېدل او د بل خبرې ته غوږ نيول ټولنيز ارزښت دی، دا د غوره او لويو انسانانو صفت دی، چې د بل خبره په غور اوري او وروباندې سوچ کوي. په ټولنه کې ښه ويناوال هغه څوک دي، چې ښه اورېدونکی وي، تر څو چې موږ ښه اورېدونکي نه شو، ښه ويونکي رانه نه جوړېږي، مشران وايي چې اول واوره بيا خبره کوه، ځينې دا هم وايي چې دوه غوږونه او يوه خوله د دې لپاره دي چې دوه خبرې واورې او يوه وکړې. په هر حال په اورېدلو کې ډېر خير وي، کله چې موږ غوښتي وي چې خبرې مو بايد د منطق جوهر ولري، نو بايد لومړی واورو او د حافظې ماشين ته يې وسپارو، بيا که د خبرې کولو اړتيا وه وروباندې خبرې وکړو. په اورېدو کې حکمت وي، يو ماشوم که څه وانه وري نو څه نه شي ويلای، ډېری کاڼه څه نه اوري ځکه څه نه وايي. د هغوی ګونګتوب د کوڼتوب له امله وي.

يو دوه ويشت کلن ګونګي هغه وخت کلمه مبارکه د خپل بل دوست د تکرار نه وروسته ماته ګوډه وويله کله يې چې په غوږ کې د اورېدو ماشين کېښود، هغه په لومړي ځل غږونه واورېدل او بيا يې د همدغو غږونو دتمثيل هڅه وکړه، ځکه نو اورېدل مهم دي. موږ بايد هڅه وکړو چې اورېدونکي شو، که واورو، نو بيا وينا کولای شو، که واورو، نو بيا حق او

ketabton.com - The Digital Library



ناحق، تور او سپين سره جلا کولای شو، که واورو، نو بيا د پړ او ناپړ، ملامت او سلامت تر منځ توپير کولای شو. زموږ ډېرې ستونزې له دې ځايه دي چې د کار خبرې لږې اورو او په خپلو ويناوو مين يو، موږ چې تر څو دا عادت له ځانه نه وي لرې کړی او د اورېدو مينه او ذوق مو په خپل شخصيت کې نه وي پاللی، ښه ويونکي نه شو جوړېدای او نه رانه ښه قضاوت کوونکي جوړېدای شي.

که غوښتي مو وي چې خبرې مو په ټول ټللې وي او معلومات مو کره وي، نو بايد اول د اورېدلو د پير مُريدان شو، له اورېدلو پرته زموږ تجربې خامې وي، منطق مو کمزوری وي، معلومات مو اومه وي، نو په دغه نا رسېدلي فصل بايد له وخت دمخه لو ګډه نه کړو او پرېږدو چې زموږ د اورېدو فصل پوخ شي. که تاسې د يو څه په اړه نه وي اورېدلي او خپل نظر وړاندې کوئ، اشتباه کوئ، ښايي يو څوک ستاسې په اشتباهاتو تېروځي، خو داسې څوک به وي چې ستاسې په کمزوريو پوه شي اوتاسې ورته په معنوي لحاظ ډېر کمزوری او بې مترې معلوم شئ.

يوه ورځ د يو شخصي پوهنتون د حقوقو پوهنځي يو استاد د خپلو نوي تنو محصلينو پر وړاندې وويل چې نلسن منډېلا يوه ښځه وه، چې په افريقا کې راپورته شوه او مبارزه يې پيل کړه. زه هم په دې محصلينو کې ناست وم، سخت خپه شوم، د استاد په معنوي حيثيت مې زړه ډېر بد شو، ښايي يو شمېر محصلين چې په دې اړه يې معلومات لرل دې اشتباه ته به ځير شوي وو. په سبا يې ما له انټرنېټ څخه د نلسن منډېلا بشپړه بيوګرافي راواخيستله او يو شمېر مجلې مې ورسره يو ځای کړې، په يو پاکټ کې مې

ketabton.com - The Digital Library



هغه استاد ته ورکړې. هغه زما دا ډالۍ په منني سره ومنله او زه په دې ډاډه شوم چې ښاغلی استاد به له دې وروسته په دې پوه شوی وي چې نلسن منډېلا ښځه نه، بلکې نر و.

دا مې په دې پورې وویل چې موږ باید لومړی خپل معلومات د اوریدلو له لارې غني کړو، د لوستنې له لارې خپل ذهن ته ډېر څه وسپارو، د حکمت هڅه او کوښښ همدا دی، چې موږ دې خپل ذهن ته څه وسپارو او ځان دې پر دې ډاډه کړو چې د معلوماتو له نړۍ یو څه لرو، دا حکمت نه دی چې د خپل فکر ناچلې نسخې خلکو ته وړاندې کړو او کمزوي دلایل پر خلکو ومنو.

د ۱۳۷۷ لمریز کال خبره ده، د یوې عایدادي اداري مشر په خپل دفتر کې ناست و، یو شمېر سوداګر هم ورسره وو، یو مامور راغی او سلام یې واچاوه، مشر ترې پوښتنه وکړه: هلکه فلانیه دا درې ځلور ورځې چېرته وې؟ هغه ورته وویل: جناب رئیس صاحب په ښي پښتورګي کې مې کاڼې و، سخت ترې په عذاب وم، ځکه وظیفې ته نه راتلم. د اداري مشر برېچ وهل، له خندا شین شو، زښت زیات یې وخندل، ناست خلک حیران وو چې رئیس په څه خبره وخندل. رئیس چې د خپلې خندا له چارې اوزګار شو، نو خپل مامور ته یې وویل: خدای دې تا ووهې له خندا دې مړ کړم، په انسان کې خو یو پښتورګی وي، ښي او کیڼ پکې تا راوایست!

دا وخت ناستو خلکو غر وهل او د ښاغلي مشر په حماقت ټول له خندا شنه شول، رئیس هم بیا له خندا سره غاړه غړۍ شو، مامور هک پک ولاړ و، دا وخت د رئیس یو تن مخلص ملګری وروړاندې شو او په غوږ کې یې ورته

ketabton.com - The Digital Library



وويل چې رئيس صاحب دا خلک په تا پورې خاندي، د انسان يو پښتورګى نه وي بلکې دوه وي. هماغه و چې رئيس له يوې نرۍ خجالت سره چوپ شو او په خپلې خندا سخت پښېمانه و. مور ولېدل چې د دې ښاغلي معلومات کمزوري وو او تر دا دمه په دې نه پوهېده چې د انسان دوه پښتورګي وي.

زمونږ په کلي کې پخوا د اوبو ژرندې وې، يو مازيګر يو سپين ږيرى سړى د ژرندې نه څو قدمه وړاندې پر يوه چوتره لمانځه ته ولاړ دى، يو معلم صاحب راغى او تر خوا يې د لمانځه په نيت ودرېد، معلم صاحب لا په لمانځه دى چې سپين ږيري لمونځ وکړ او په دعا يې پيل وکړ، په دعا کې يې څو ځله په لوړ اواز وويل: «خدايه اسلام ته برى ورکې او کفر غالبه کې»

معلم صاحب چې سلام وګرځاوه ورنه يې وپوښتل: کاکا ته دا دعا بيا وکه! هغه بيا خپله دعا هماغه شان تکرار کړه، معلم صاحب ورته وويل: «توبه وباسه ګنهکار شوې، ته څه په اپلتو سر يې، ته د غالب په مانا پوهېږې؟»

سپين ږيري وويل: «ولې معلم صاحب غالب ناکام ته نه وايي ؟» معلم صاحب تونده شو ورته يې وويل: «غالب کامياب ته وايي غوږونه دې خلاص کړه، چې بيا داسې دعا ونه کړې» سپين ږيري په حيرانتيا وويل: توبه‌توبه! ما دې خداى خوار کړي ، زه خو دا شپېته کاله همدا دعا کوم چې کفر غالبه کې، ما خو ويل چې غالب به ناکام ته وايي. دا وخت يې غوږونه ونيول او خداى(ج) ته په زاريو شو.

دا طنزونه نه وو، رښتيني کيسې وې او د دې لپاره مې وکړې، چې لومړى بايد واورو او ځان د اورېدو په مفهوم پوه کړو، اورېدل د ويلو لپاره پول

ketabton.com - The Digital Library



دی، اورېدل د ويلو لپاره کرونده ده، د وينا ګلان لومړی ځل د اورېدو په ګلبڼ کې ټوکېږي او وده کوي، که موږ ښه اورېدونکي شو ښه ويناوال رانه جوړېدی شي، که ښه ويناوال نه شو عيب نه دی، خو که ښه اورېدونکي شو حکمت او سرلوړي ده.

چوپتيا خاموش سمندر دی، هغوی چې چوپ وي ډېر څه اوري او هغوی چې ډېر څه اوري ډېر څه لري، د نړۍ مشهور ليکوال منتيسکو وايي: ((انسان د سيند په څېر دی، څومره چې ژور وي خورا آرام او خورا عاجزي کوونکی وي))

ketabton.com - The Digital Library



# فن او هنر

له فن څخه مانا او مقصد د ځينو عملي او نظري مسايلو په اړه تدبير او د کړنې څرنګوالی دی. فن پېشه ده، فن کسب دی او فن مسلک دی. فنکار هغه څوک دی، چې فن يې زده وي. خلک د فن خاوند ته درناوی لري، فن د ټولنيز ژوندانه د حرکت آرابه ده، فنون د ژوندانه ثروت او شتمني ده، فنون د اجتماعي ژوندانه د پرمختګ وسيلې دي. خټګري، درزيتوب، ترکاڼي، موچيتوب، مستري توب، برېښناپالي(برقيتوب)، رنګمالي، ټټاري، سيم تاوي، زرګري او داسې نور فنون دي. فن له هنر سره ګډه پوله او مشترکه وجه لري.

هنر د پوهې، کمال، شعور او هوښيارتيا په مانا هم راغلی دی، رحمان بابا وايي:

بې هنر دی چه څوک دين په دنيا پلوري

هنرمند سړی دا هسې سودا نه کا

هنر د يو شي، يو کار او کړنې ښايست او ښکلا ته وايي. هنر هر هغه کار او عمل ته وايي، چې د ښکلا لپاره ځانګړې شوې وي، د انسان د فکر او فزيکي عمل هر هغه حاصل، چې ښکلا ولري هنر بلل کېږي. د انسان د هاند او هڅو توليد، چې ښکلا ولري هنر دی. ساز و موسيقي، تياتر، ليکوالي، نقاشي، آواز خواني، نعت خواني، ترنم کول، ويناوالي او

ketabton.com - The Digital Library



ادبيات دا ټول هنرونه دي. موږ دلته په ټولو هنرونو بحث نه کوو، يوازې پر هغو غږېږو، چې زموږ په ټولنه کې ټولنيز ارزښت لري. نڅا په هنرونو کې شمېرل کېږي، خو زموږ په مذهبي او کلتوري ټولنه کې عيب ګڼل کېږي او د انساني شرف او آبرو د توېدلو تعبير لري. مجسمه جوړول په نورو ټولنو کې هنر ګڼل کېږي، خو زموږ په مسلمانه ټولنه کې ورته د بوتپالنې په سترګه کتل کېږي او د خپلې ټولنې ارزښت يې نه شو ګڼلای.

**رحمان بابا بل ځای وايي:**

دنيادار که مستغني په سيم و زر دی

هنرمندو څخه ګنج د خپل هنر دی

هنر پوهانو هنرونه په اوه ډوله ياد کړي دي لکه: ۱- موسيقي ۲-لاسي هنرونه لکه مجسمه جوړول او شيشه ګري ۳- ترسيمي هنرونه لکه نقاشي، رسامي او خطاطي ۴- ادبيات لکه شعر، لنډه کيسه، نثر ۵- معماري او نقاشي ۶- موزون حرکات ۷- فلم، سنيما او تياتر. د دې هنرونو تر منځ مشترکه وجه، ښکلا، تخيل او عاطفه ده، چې په ټولو هنرونو کې ځای لري.

موږ دلته نه غواړو په هنر بحث وکړو، بلکې موخه مو دا ده، چې هنر زموږ د ټولنې ارزښت دی، هر څوک له يادو هنرونو څخه ځينې هنرونه خوښوي او ورسره لېوالتيا لري، هر کس غواړي، چې له يادو هنرونو يې ځينې هنرونه زده وي، هر څوک د يادو هنرونو خاوندانو ته په ارزښت قايل وي. هر څوک غواړي له يادو فنونو او هنرونو څخه ځينې هنرونه خپل کړي او د خپل ژوند د ذوقي مشال په توګه ترې ګټه پورته کړي.

ketabton.com - The Digital Library



هنـر ډېـر ژور بحـث دی، تـر دې دمـه لا هنـر پوهـان د دې فلسـفې پـه اړه د پوهېدا پایلې ته نه دي رسېدلي، چې هنر ولې هنر دی او ښـکلا ولـې ښـکلا ګڼلای شو؟ یا دا چې ښکلا څه شی دی او د انسان په کړنو کې دغه جوهر له کومه ځایه سرچینه اخلي؟ ولې موږ یو شـي تـه ښـکلی وایـو؟ د ښـکلا لپـاره تعریف څـه دی؟ کـوم شـي تـه ښـکلا ووایـو او ښـکلا ولـې پـر انسـان اغېـز او تاثیر لري؟ زموږ د بحث موضوع دا نه ده، خو په لنډه توګه ویلای شو، چې فن و هنر ټولنیز ارزښت دی، فن و هنر ته خلک په درنښـت قایلـه دي، فـن و هنر په ټولنه کې مینه وال لـري او د هـر کـس لېوالتیـا دا وي، چـې پـه ټولنـه کې د فن او هنر له ارزښت سره تړلی ژوند ولـري. د هـر چـا ارزو دا وي، چـې خبرې یې هنـري ښـکلا ولـري، لیکنـه یـې هنـري ښایسـت ولـري، فکـر یـې د هنـري ذوق ښـکارندویي وکـړي، پـه کـار او عمـل کـې یـې د هنریـت جـوهر وځلېږي، فن او هنر یې زده وي، له دې لارې خلکو ته کار و خدمت وکړي او د یو فنکار او هنرمند انسان په توګه په ټولنه کې وپېژندل شي.

انسـان چې کله د ښایست په اهمیت پوه شو، نـو د ښایسـت پـه لټـه کـې شـو، همدې هڅې او پلټنې هنرونه وزېږول او انسـاني نړۍ تـه یـې ښـکلا وبخښـله، دا فنون او هنرونه پـه هـر څـه او هـر ځـای کـې لیـدلای او مونـدلای شـو، د دې ښکلاګانو او ښایستونو ننداره په هر ځای کې کولای شو. دا نـړۍ ډېـره ارتـه او پراخه ده. د ښـکلا دا سـمندر ډېـر سـتر او ژور دی او دا مرغلـرې ډېـرې او بې حسابه دي.

ketabton.com - The Digital Library



# بریالیتوب

بریالیتوب ټولنیز ارزښت دی، هر څوک غواړي چې بریالیتوب یې په برخه شي، هر څوک غواړي چې د بریالیو انسانانو په کتار کې ودرېږي. موږ ډېر ځله د ناکامۍ له وېرې د بري کار ته نه وړاندې کېږو او له دې ډارېږو چې ناکامي به مو په برخه شي، همدا وېره زموږ ځواکمنتیا زیانمنوي او زموږ په شخصیت کې د هڅې او هاند جوهر وژني. داسې لیدل شوي چې یو زده کوونکی ښوونځي ته د امتحان له ډاره نه ځي او له امتحانه په دې ډارېږي چې ښایي ناکام به شي، یو بې زړه شتمن د دې لپاره خپله پانګه په کار نه اچوي، چې ښایي له تاوان سره به مخ شي او ګټلې پیسې به یې له ګوتو ووځي، زما یو پنځه ځلوېښت کلن ملګری تر اوسه بایسکل نه شي چلولای او وایي چې د غورځېدو له وېرې یې کله هم د بایسکل د زده کړې ارمان نه دی پوره شوی، یو دوه وویشت کلن ځوان د ویناوالۍ سخت لېوال و، خو له دې ډارېده چې که د خلکو پر وړاندې ودرېږي، ښایي داسې اپلتې یې له خولې ووځي چې د ملنډو به شي او بیا به چا ته نه شي کتلای، له همدې وېرې یې خپل ارمان ته په شخصیت کې قبر جوړ کړی و او له ډاره یې په غونډو او محافلو کې برخه نه اخېسته، ډېر زده کوونکي د ناکامۍ له وېرې له استاده پوښتنه نه شي کولای او وېره لري چې که له استاد وپوښتي، نو په زړه کې به ورسره کینه وساتي او بیا به یې په امتحان کې ناکام کړي. زما یو شتمن دوست تر دې دمه د خپل بې زړه

ketabton.com - The Digital Library



توب او ناکامۍ له وېرې موټر چلوونکی نه شو او وايي چې ډار لري ښايي ځوک ورنه په ښار کې ووهل شي او په لويه بلا واوړي. کليوال وايي: د بې زړه لامبوزن مرګ له سينده وي. دا هم وايي چې بې زړه عسکر په ډز نه مري، بلکې له ډزه مري، د وېرې او ناکاميو دا تصور زموږ مزل اوږدوي او د برياليتوب له سفره مو مخنيوی کوي.

راځئ! د خپل منطق په قاموس کې د ناکامۍ د ډار او وېرې پر کلماتو کرښه راکاږو او پر ځای يې د برياليتوب د ډاډ او اطمنان توري وليکو. زموږ ناکامي او برياليتوب زموږ له انګېرنو سرچينه اخلي او زموږ ناخوداګاه ضمير زموږ د خوداګاه ضمير پر تصوراتو فيصله کوي. که موږ د برياليتوب کيسه زمزمه کړو، که موږ د ناکامۍ د ډار له سمندره د خپل فکر کشتۍ وباسو، که موږ د بري په حکمت او فلسفه باور ولرو، زموږ ناخوداګاه ضمير او شعور زموږ په پټه نړۍ کې د برياليتوب توغ رپوي او د ناکامۍ غږ د تل لپاره خاموشه کېږي.

د نړۍ نامتو عالم او د برېښنا کاشف اډېسيون وايي: «زه به دا ونه وايم چې زر ځلې مې ماتې خوړلې ده، بلکې وبه وايم ما کشف کړه، چې د ماتې خوړلو زر لارې موجودې دي»

په خپلو هڅو کې پاتې راتلو ته يو تعريف ولرئ، هغه په دې مانا چې هېڅکله يې په دې مه تعريفوئ چې تاسې ماتې خوړلې ده، بلکې په دې يې تعريف کړئ ، چې تاسې درک کړه چې د برياليتوب لاره له يو شمېر کړاوونو ډکه ده.

ketabton.com - The Digital Library



په پوځي برخه کې د «مورال» کليمه ډېره يادېږي، مورال همدې ته وايي، چې د عسکرو له ذهنه د ناکامۍ وېره ووځي او د خپل بريالیتوب پر اصل ګروهمن شي، لس هغه عسکر چې مورال يې لوړ وي د سلو بې موراله وسله والو پر وړاندې جنګېدلای او د بري لاره غوڅولای شي، په يوه وړه کشتۍ کې شل سپاره لوړ مورالي سمندري عسکر په لسو کشتيو کې دوه سوه مورال بايللي عسکر ځغلولای او په پوځي ډګر کې يې له پښو غورځولای شي. دا ځکه چې يوه ډله پر خپل بريالیتوب باور لري او بله پر خپلې ناکامۍ، يوه ډله ځانونه ځواکمن احساسوي او بله ډله ځانونه بې ځواکه، يوه ډله د خپل بري د غږ په تمه دي او بله ډله د خپل مرګ بد پيغام ته منتظر.

له همدغه ځايه ده چې موږ يو چا ته شجاع، زړور، همتناک او بل ته بزدله، بې زړه او ډارن وايو. يو ته بريالی انسان وايو او بل ته د بريالیتوب له قافلې پاتې او بې مترې انسان، يو ته ښاغلی وايو او بل ته نامنلی، يو ته باتور وايو او بل ته ترسوک او وېرندوکی. دا ارزښتونه بايد پخپله انسان په خپل شخصيت کې وپالي او دا درک کړي چې ده ته هيڅوک د جعلي شجاعت او مېړانې القاب نه شي ورکولای او د بري مزل د بل په اوږو نه شي کېدای.

پر خپلو استعدادونو باور او اعتماد موږ د ناکاميو له ډاره ژغورلای شي، پر نفس وېسا زموږ پر وړاندې د بري کتاب پرانيزي او موږ ته د همت او سرلوړۍ سبق رازده کوي، د ناکامۍ وېره کوم عادت او خصلت نه دی چې

ketabton.com - The Digital Library



د انسان له شخصيت سره تړلی وي، دا لاره په اسانه بېلېدلای شي، دا يوازې يو عزم او هوډ غواړي او بس.

که موږ ژمنه وکړو چې نور نو د ژوندانه د مزل په لاره کې د خپلې ناکامۍ له دېوانو نه ډارېږو، نور نو د وېرې هغه ورېځې چې زموږ پر ارواوو يې سيوری کړی يوې خوا ته پرېږدو او د هيلو د شنه اسمان لاندې د خپل بري پر لور مزل پيلوو، نور د خپل پيل کړي مزل ببرۍ د وېرې له توپانه ژغورو او په پوره ډاډ او اطمنان يې د بري ساحل ته باسو. زه باور لرم چې همدا ژمنتيا زموږ شخصيت بدلولای او پر سمو لارو مو روانولای شي.

بيا به زموږ قدمونه ثابت وي، بيا به زموږ لارې بې خطره وي، بيا به زموږ ډار په اطمنان او د ناکامۍ احساس د بري په احساس بدل شوی وي، بيا به خوشالي، سکون او راحت زموږ د فکري نړۍ زينت وي، بيا به موږ په پوره درک د ژوندانه د بري لپاره تعريف لرو، بيا به د ناکامۍ د وېرې او ډار لېوان زموږ د استقامت او بري رمه نه شي داړلای. بيا به زموږ ژوند موږ ته د هوساينې کيسه کوي، د برياليتوب کيسه او د نېکمرغۍ کيسه، بيا به موږ په فکري کشمکش کې نه يو، بيا به موږ د خپل مزل سم لوری موندلی وي، بيا به پر نفس د يوې نړۍ باور او اعتماد سره مخ ته ځو او د انساني نړۍ د خير او بري لپاره به فکر کوو.

ketabton.com - The Digital Library



# ځان پېژندنه

ځان پېژندنه ټولنيز ارزښت دی، د هر چا هيله دا وي چې ځان وپېژني، د ځان معنويت درک کړي او د ځان په اړه فلسفي پوښتنو ته ځواب ومومي. ځان پېژندنه يا نفس پېژندنه د عرفان د لارې لومړی قدم دی، که ځان و نه پېژندل شي، د رب پېژندنه ممکنه نه ده، ځان پېژندنه انسان ته د عرفان دروازې پرانيزي، د انساني وجود د معنويت او له خالق سره د وصال کيسه ورته کوي، موږ که ځان ونه پېژنو د هغه سفر لارويان يو چې نه پوهېږو چېرته ځو او د کومې موخې لپاره روان يو.

هر انسان په خپل ځان کې له درې ډوله نفسونو سره مخامخ دی ((اماره)) ، ((لوامه)) او ((مطمئينه)) نفس.

لومړی نفس په بدو حکم کوي، دويم د جرم مرتکب انسان په خپلو بدو پښېمانه کوي او درېيم نفس د ډاډ او اطمنان په فضاء کې قدم ږدي او انسان د انساني ارزښتونو کړنو ته رهبري کوي. نور نفسونه هم شته چې د دې حاکمو نفسونو تر سيوري لاندې قدم اخلي، لکه ملهمه نفس، مسؤله نفس او ناطقه نفس. د نړۍ ستر ارواپوهان د روانشاسۍ په څېړنو کې د همدې نفسونو په سمندر کې ورک دي او د ((ولې)) او ((څنګه)) د ځواب په لټه کې دي.

ketabton.com - The Digital Library



موږ دا نه وايو چې هر عادي انسان دې اروا پوه وي، يا دې په دې اړه تحقيقات او څېړنې وکړي، بلکې د ځان پېژندنې او نفس پېژندنې لپاره اړينه ده چې د خپل وجود معنويت وپېژني، د خپل ځان په پانګه پوه شي، په دې پوه شي چې پر انسان ستر خالق په ما نيزه برخه کې څومره ارزښت لورولی دی. ځان پېژندنه له ځان ښودنې او ځان خوښونې سره توپير لري، ځان پېژندنه په دې مانا نه ده چې زه فلانی د فلاني زوی او دفلاني ځای يم او دا هم ځان پېژندنه نه ده چې يو څوک دې هر څه د ځان لپاره وغواړي، ځکه چې ځان وربانديې ګران دی او ځان يې ښه پېژندلی دی، ځان پېژندنه ځان غوښتنه هم نه ده، چې يو چا دې په هر ځای کې د امتياز شملې ته سترګې ګنډلې وي.

ځان پېژندنه په دې مانا ده چې يو څوک د خپل شخصيت په سمندر کې ښکته شي او وګوري چې څومره مرغلرې موندلای شي، د خپل شخصيت په اړه فکر وکړي، په ځان کې د معنويت چينه ومومي او د معنوي ارزښتونو په زمزمو ځان موږ کړي. فکر، وجدان، ذوق، عاطفه، عقيده، ايمان او مينه د انسان په وجود کې پټه شتمني ده، که غواړئ چې د انسان پېژندنې په حکمت او فلسفه پوه شئ، نو د ځان پېژندنې قاموس او کتاب پرانيزئ، دا رڼا به تاسې ته د سفر تياري روښانه او مزل به مو اسانه کړي.

که موږ ځان وپېژاند انساني نړۍ مو پېژندلې ده، که موږ په خپل ځان کې د معنويت هستي وموندله، پوه شئ چې د هر انسان د معنويت جوهر راته معلوم شو، که موږ د خپل شخصيت په سمندر کې د مينې مرغلره موندله، هله پوهېدای شو چې د بل انسان په زړه کې څه دي، که موږ د خپل بدن په

ketabton.com - The Digital Library



روحي ځورېدا پوه شو، د بل درد او ځورېدنه احساسولای شو، که موږ په دې پوه شو چې ځان ته څه خوښوو، نو د بل په اړتیاوو پوهېدلای شو، که موږ خپله احتیاجي درک کړه، د بل په محتاجۍ پوهېدلای شو، که موږ خپل ارمان وپېژاند، د بل ارمان مو پېژندلای دی، که موږ خپله خوشالي وپېژندله، د بل په خوشالۍ پوهېدلای شو. دا ټول ارزښتونه له دې الهام اخلي چې موږ اول ځان وپېژنو، موږ اول د ځان په اړه مطالعه وکړو، نو هله به مو بل پېژندلای او د نورو احساسات او غوښتنې به مو درک کړي وي.

ځان پېژندنه د ټولو پېژندنو مور ده، دا قاموس موږ ته د هرې پېژندنې په اړه لارښوونه کوي او موږ ته د پېژندنې دروازې پرانيزي، د ځان پېژندنې دروازه بايد موږ پخپله پرانيزو، په اړه يې بايد خپله فکر وکړو او په شعوري انداز بايد دغه تصميم عملي کړو، بيا نور قدمونه پخپله زموږ د لارې او سفر ملګري دي.

زموږ دا عمل موږ ته د رازونو ډېرې کيسې مخې ته ږدي او په ډېرو رمزونو مو پوهوي، خو که موږ ځان نه وي پېژندلای بيا دا مزل بې ګټې دی، بيا زموږ دا دعوه پر ځای نه ده چې موږ نړۍ پېژندلې، موږ انسان پېژندلی او موږ په پېژندنه کې مهارت لرو. راځئ! ځان وپېژنو، چې نور وپېژنو.

ketabton.com - The Digital Library



# ځواني

ځـواني ټـولنيز ارزښـت دی. هـر انسـان د ژوندانـه د سـفر لاروی دی، انسـان چـې څـومره د عمـر د مـزل ځمکـه لـه پښـو باسـي، پـه همـاغـه کچـه د زړښـت نـړۍ تـه پنـاه وړي، زړښـت يـو تـريخ حقيقـت دی، لـه زړښـته تېښـته ناشونې ده. که انسان د ځوانيمرګۍ له توپانه وژغورل شي، نو بدن يې هرو مرو د زړښت لـه اروا سره مخـامخ کېږي او زړښت ورتـه د خپلـې بـې وسـۍ کيسه کوي.

ساينس پوهان په دې هڅه کې دي، چې زړښت تـه يـوه نسـخه ومـومي او د ځوانۍ ګلبڼ له دې خزانه وساتي، خو لا هم په دې لاره کې د بري غـږ نـه دی اورېدل شوی. يو شی چې شونی دی هغه د خپل زړه او ذهن ځوان ساتل دي او دا کار د هر انسان له وسه پوره دی، دا کار اسانه دی او دا لاره بـې خطـره او ډاډمنه ده. د زړه ځوان ساتلو هنر دادی چې زړه خوشاله او د اندېښـنو او اروايي ستومانيو و ساتل شي، په خپله برخـه قناعـت وشـي او ځـان لـه نـورو کم او حقير ونه ګڼل شي. هغـه وړتيـاوې چـې يـو شـخص يـې لـري د ژوندانـه لپاره ښـه پانګـه وګڼـل شـي او د معنويت امتيـاز ورکـړل شـي. تاسـې تـه بـل څوک خوشالۍ نه شي درکولای، بلکې پخپله به هڅه کـوئ چـې خوشـالي د خپـل زړه د کـور مېلمنـه کـړئ او د خوښـيو لـه رنګيـن پسـرلي د زړه نـړۍ تـه رنګ واخلئ.

ketabton.com - The Digital Library



لکه چې وايي: ''هيڅوک ځوان نه شي پاتې کېداى، مګر د هغه زړه او ذهن'' ١

ځواني په پښتو کې په دوه ماناګانو کارول کېږي، يوه يې د ژوند د يوې ځانګړې مرحلې نوم دى، چې له زلميتوبه سرچينه اخلي او تر پوخ عمره دوام کوي، بله دا چې ځواني د سخاوت، مېړانې او خرابات په نوم هم کارول کېږي، هغه څوک چې سخي وي، پر دوستانو او ملګرو مهربانه وي، وايي چې فلانى خان ځواني لري.

د زړه او ذهن د ځوان ساتلو مانا داده چې انسان ماتې او شکست ته تسليم نه شي، انسان پر ځان باور ولري او ځان د خپلو وړتياوو او صلاحيتونو مالک وګڼي. که موږ په زړه کې د مينې کرلى فصل وساته، که موږ په زړه کې د الفت اباده نړۍ ښېرازه وساتله او که موږ د زړه د ارمانونو ترانه زمزمه کړه، مانا داده چې موږ خپل زړه ځوان ساتلى او زړښت ته نه يو تسليم شوي. زموږ ناخوداګاه ضمير زموږ له انګېرنو الهام اخلي او په بدن کې پټه نړۍ مو زموږ پر تعبير او اټکل فېصلې کوي، که موږ مدام د خپل زړه او ذهن د ځوانۍ له رازه کيسه وکړو او د خپل ذوق کرونده د اصلاح په جوهر وپالو د زړه د ځوانۍ اصل خپلولاى شو. د دې مانا داده چې موږ بايد خپل ځواک او متره له لاسه ورنکړو او د ناهيلۍ پر تغر کښېننو. زړه د خلوص او لورينې کور دى او د مينې دا پانوس بايد د ژوندانه تر وروستيو شېبو بل او روښانه وساتو.

---

[1] له ((وزر)) نومي کتاب څخه

ketabton.com - The Digital Library



د زړه ځوان ساتل په دې مانا نه دي، چې موږ د خپل زلميتوب طغياني خواص او خويونه په ځانونو کې وپالو او د دغو خويو تر سيوري لاندې ژوند وکړو، بلکې مانا يې داده چې د زړښت د ګواښ پر وړاندې خپل زړه او ذهن ځوان وساتو او د ناهيلۍ له افته خپل افکار او ژمنتيا وژغورو. دا په حقيقت کې د خپل انساني هويت د پټې نړۍ(ضمير) ورتيا او استعداد مبارزې ته هڅول دي. موږ بايد پرېنږدو چې د زړښت په نوم د بېوسۍ احساس زموږ د اوږو پېټی شي او له امله يې د ټولنيزو اړيکو له پانګې بې برخې شو.

زړه او ذهن په خپلو کې نږدې اړيکې لري او د انسان د معنويت د خزانې مرغلرې دي، زړه د ذهن په پانوس روښانه او د ذهن په مشوره قدم اخلي. د ذهن ځوان ساتل يا دغه چينه تانده ساتل د زړه د کروندې ښېرازتيا ده، موږ بايد هڅه وکړو چې دغه سترې خزانې خوندي وساتو او له زړه د هوډمنۍ او له ذهنه د نويو افکارو د پنځونې له ماشينونو کار واخلو.

که موږ دغه دوه سترې پانګې ونه پېژندلې او دا ماشينونه مو ودرول، نو وېره شته چې پرزې به يې زنګ وکړي او د مترې او ځواک له برمه به پرېوزي، دا په پرله پسې ډول هڅه او پاملرنه غواړي او دا باغ مالي او مليار ته اړمن دی. پوښتنه داده چې ذهن څنګه ځوان او د زړه ونه څنګه د زړښت له خزانه وساتو؟

د ذهن پر ګلاب نوې مضمون وليکئ، ذهن ته نوي معلومات ورکړئ، نوې کيسه ورته زمزمه کړئ او نوې کيسه ترې وغواړئ. ستاسې ذهن به تاسې ته نوی توليد ولري، تاسې ته به نوې کيسې وکړي او تاسې به له پټو رازونو

ketabton.com - The Digital Library



خبر کړي. که مو جامې زړې پر تن وي باک نه شته، خو چې فکر مو نوی وي، د خپل فکر په دوکان کې نوې سودا پلور ته وړاندې کړئ، ځکه چې زړه سودا پېرودونکي نه لري او په بازار کې يې مينه وال کم وي.

د ذهن ځوان ساتلو لپاره ځان له مطالعې سره روږدی کړئ، هره ورځ ذهن ته نوي معلومات وسپارئ او له نويو موضوعګانو يې خبر کړئ، دا د ذهن تمرين دی او د ذهن ځوان ساتلو همدا لارې- چارې دي. که دا هڅه مو عملي کړه، ستاسې ذهن به د وخت سره سم تازه معلومات ولري، ستاسې خبرې به خلکو ته نوې او خوندورې وي او ستاسې وينا به زړونو ته لاره پيدا کړي، له دې سره به تاسې خپل ذهن ته نوي معلومات سپارلي او زېرمه کړي به مو وي، له بله پلوه به ستاسې زړه ستاسې له علمي شخصيت د ډاډ کيسه کوي او دا دواړه وياړنې به تاسې ته د اعتبار شمله درپه سر کړي چې هم به په خلکو کې ښاغلي او منلي شئ او هم به مو پر خپلو معنوي صلاحيتونو باور او اعتماد پيدا شوی وي.

زړه او ذهن د مينې او خلوص پر زمزمو ومينځئ او د کرکې، انديښنو او غم ځالې يې ورانې کړئ.

ketabton.com - The Digital Library



# لږې خبرې کول

اقتصاد پوهان وايي: «په بازار کې چې د کوم شي عرضه زياته شي تقاضاء يې کمېږي». د خبرو په بازار کې هم دا اصل د تطبيق وړ دی، څوک چې ډېرې خبرې کوي، لږ مينه وال لري. هغوی چې اوږدې ويناوې کوي، لږ اورېدونکي لري. بايد هڅه وشي د خبرو له خزانې د اړتيا په اندازه بازار ته وړاندې شي، ستاسې خبرې مرغلرې دي، ستاسې خبرې باارزښته دي، پام مو وي چې دا مرغلرې له ضرورت پرته وړاندې نه کړئ، پام مو وي چې دا بهاداره شتمني درنه ارزانه ونه پلورل شي، ډېرې خبرې ډېرې ناسمې او سهوې لري، اورېدونکي ستومانه کوي، بيا نو ستاسې پر وړاندې د هغوی په زړه کې د مينې پر ځای کرکه کرل کېږي، بيا تاسې د خپلو دوستانو او اورېدونکو په زړونو کې هغه مينه او محبت نه لرئ، چې پخوا مو درلود.

لږې خبرې کول ټولنيز ارزښت دی، تر ډېرو خبرو خاموشي غوره ګڼل کېږي، هغوی چې لږې خبرې کوي، لږې سهوې لري. که تاسې لږې، ښې او خوږې خبرې وکړئ هر کس مو خريدار او پېرېدونکی دی، هر کس به له تاسې سره مينه کوي او د خبرو د اورېدو لېوال به مو وي. خبرې کول هنر دی، خو لږې خبرې کول حکمت او عقلانيت. وينا چې د ښکلا، حکمت او عقل جوهر ونه لري، هنر نه بلل کېږي او زړونو ته لاره نه شي پيدا کولای.

يو عالم وايي: د احمق زړه د هغه په ژبه کې وي او د عاقل ژبه د هغه په زړه کې» د دې دا مانا ده چې د زړه هره خبره په خوله ايستل او بې پردې کول

ketabton.com - The Digital Library



حماقت دی، باید زموږ زړونه د رازونو پټه نړۍ وي، موږ باید په دې نزاکت پوه یو چې کومې خبرې وکړو او په څه ډول یې نورو ته وړاندې کړو، د هوښیارانو ژبه د هغوی په زړونو کې وي، مانا دا چې ډېرې خبرې باید د ژبې له ژرندې وژغول شي او د زړه د تعاقل او تدبیر په ماڼۍ کې مېلمنې شي. د دې دا مانا نه ده چې موږ دې ګونګه روژه ونیسو او د اړتیا پر مهال دې هیڅ هم ونه وایو، بلکې د دې مانا دا ده چې موږ باید له اړتیا پرته ځان په عبثو خبرو بوخت نه کړو او نه خپل زړه او ذهن په بې هوده کیسو او نکلونو ستومانه کړو. ذهن د ستر خالق له لوري بې ساري لورینه ده، ذهن زموږ د علمیت، پوهې او شخصیت جوړونې د جوهر فابریکه ده، موږ ته په کار دي چې دې فابریکې ته کره توکي وسپارو او د کره تولید تمه ترې ولرو، عبثې خبرې اورېدل زموږ د ذهن تولید بیکاره کوي او زموږ نړۍ لید (جهان بینۍ) ته زیان رسوي. موږ یقیناً هغومره یاستو، څومره چې زموږ پوهه ده او د پوهې د منطق کتاب زموږ ذهن او تولید یې زموږ خبرې دي. موږ پوه او ناپوه سره د خبرو د منطق له جوهره پېژنو، د لږ پوه او ډېر پوه تر منځ همدغه توپیر ته ګورو، نو موږ که په منطق برابرې خبرې وکړې او په منطق برابرې خبرې مو واورېدې، مانا دا چې د پوهې فلسفي لارویان یو او که د عبثیاتو لاره مو ونیوله او دې اصل ته مو پام ونه کړ چې موږ ذهن ته څه وسپارل او ثمره یې څه ده؟ نو پوهه او هوښیاري به مو د چرسیانو له منطق پرته په بل څه تعبیر او تفسیر نه شي.

ketabton.com - The Digital Library



اوس نو موږ له دې سره سره چې د ټولنيز نزاکت د ښار له واټه د تېرېدو په تکل کې يو، دوه اصله هرومرو په پام کې نيسو، يو دا چې زموږ ذهن ته د مفاهيمو سپارلو اصل او دويم د ذهن له ماشينه د توليد او پنځونې منځپانګه.

موږ بايد په داسې محافلو کې ناسته ولاړه ولرو چې ذهن مو د خلکو له خبرو او ويناوو د معنويت جواهر واخلي، کله چې زموږ افکار د شاتو مچيو په څېر دغه ګلان راټول کړي، په توليد لاس پورې کوي، بيا نو له ذهنه خواږه توليدېږي او د تخليق په مجمر کې نورو ته وړاندې کېږي، په دې مفهوم چې موږ بايد داسې محيط وټاکو چې ښې، کره او منلې خبرې واورو، تر څو زموږ د ذهن کرونده ښه توليد او تخليق ولري.

په کوم محفل کې چې ټولنيز نزاکتونه نه مراعت کېږي، چټيات او عبثې خبرې کېږي، فحشاء او پوچې ويناوې کېږي، هڅه وکړئ خپل ذهن له دې افته وساتئ، ښايي تاسې له هغوی اجازه واخلئ چې درته کوم کار پيدا شو، ښايي تاسې دا بهتره وګڼئ چې يو بڼ او پارک ته ورشئ، څو شېبې له ګلانو او ګلبوټو سره تېرې کړئ او د حقيقت د پټو رازونو په لټه کې شئ، ښايي تاسې يو داسې محيط ته پناه يوسئ چې کتاب ولولئ او يا له کمپيوټره ګټه واخلئ. هڅه مه کوئ په دې توپاني سيلاب کې د لامبو وهلو او د خپل فکر د کشتۍ ژغورلو قهرمانان شئ. دا محيط خورا زيانمن دی او د دې مجلس د زيانونو څپې ستاسې ذهن، شخصيت، وړتيا او پوهه ځپي او د شخصيت ښکلې ماڼۍ مو بدرنګه کوي.

ketabton.com - The Digital Library



اقليدوس وايي: (( هغه سړى چې ډېرې خبرې کوي، تخم کري او هغه چې چوپ وي ريبي يې))
تاسې که بله لاره ونه لرئ نو د هغوى د کرلي تخم لوګر (ريبونکي) شئ او په خپله خاموشۍ د هغوى د کاذب منطق پر وړاندې د چوپتيا مبارزه غوره کړئ.

ketabton.com - The Digital Library



# حيا و شرم

حيا او شرم زموږ ټولنيز ارزښت دی، با وقاره، درانه او عـزتمن خلک هغه دي، چې حيا لري. د هغو خلکو درناوی ډېر کېږي چې حيا لري، دا چې حيا څه شی دی او شرم څه ته وايي غواړم ورباندې لنډې خبرې وکړم. حيـا انسـاني صفت دی، حيـا اخلاقـي صفت دی، حيـا پـه انسـان کـې د انسـاني کرامت نخښه ده، حيا د اخلاقو سرچينه ده، حيا د درنښت جوهر دی، حيـا د عـزت الـنفس د ښـار دروازه ده، حيـا د وجـدان او ضـمير روح دی، حيـا سپېڅلتيا ده، حيا د عفت او عزت ساتنه ده، حيا نورو ته درناوی دی، حيا د انساني لوړو صفاتو مقام او منزلت دی، حيا له شرافت سره مينه ده، حيـا له انسانيت او اخلاقي نړۍ سره خلوص دی، حيـا پـر نفـس بـاور او اعتمـاد دی، حيا پر نفس واکمني او سلطه ده.

د اسلام مبارک دين حيا ته زښت زيات ارزښت ورکړی، اسـلام د مسـلمان د شخصيت ماڼۍ د حيا او اخلاقو په زينت ښکلې کوي او د ادابـو او انسـاني سلوک ښکلاوې له همدې اصله الهام اخلي. حيا ناک انسان د خلکو په نظر درونـد او عزتمن وي، حياناک انسان د خلکو د باور او اعتمـاد وړ وي. حيـا د تقوا او فضيلت اصل دی او حيا د حياناک انسان لپاره ځانګړی امتياز او مقام دی.

ketabton.com - The Digital Library



زموږ په ټولنه کې شرم و حيا د عفت، ناموس او عزت په مانا هم کارول کېږي، پښتانه چې زوی ته واده وکړي خلک وايي: حيا يې د کوره کړه. د حيا زښت زيات مقامات دي، لکه له خدايه حيا، له پيغمبره حيا، له ملايکو حيا، له خلکو حيا، له خپله ځانه حيا، له خپله ضميره حيا، له مشرانو حيا او داسې نور. دلته حيا د خپلې آبرو، پت او عصمت په مانا کارول کېږي.

کله چې انسان حيا کوي نو يو ډول مثبته رواني روحيه ورباندې حاکمه وي، هغه د خپل عزت او حيثيت د ساتلو په فکر کې وي، هغه کار نه کوي چې له دې د شرافت جامه وباسي او د يو بې شرفه او بې حيثيته انسان په توګه يې پر خلکو وپېژني. هغوی چې حيا نه لري، بدبختانه دې اصل ته ځير نه دي، فکر کوي خپل حيثيت يې په ټولنه کې ساتلی او د باور وړ انسان دی، خو خلک بيا د ده په بې حيايۍ له ده کرکه لري او په خپل زړه او خپلو بحثونو کې دی غندي او په اړه يې د خلکو قضاوت منفي وي. په کار ده انسان د حيا په خپلولو سره خپل حيثيت او عزت وساتي، دا درک کړي چې حيا ټولنيز ارزښت دی، حيا زما د وقار او عزت نخښه ده او بايد خپل درنښت او سترتوب وساتم او زيان ورته ونه رسوم.

حميد بابا وايي:

په حيا کې سړی وړی تړی ښه دی
نه په شهد و شکر موړ په بد رسوا

ketabton.com - The Digital Library



دا ټولې د حيا ښېلګې دي، هغه څه چې تا د ناسمو چارو لـه لارې ګرځـوي، درته د اخلاقو، ديانت، شرافت او سترتوب کتـاب مخـې تـه ږدي، حيـا ده. هغه څه چې ستا په وجدان کې د معنويت نړۍ تـه رڼـا ورکـوي حيـا ده. هغـه روحيه چې تا د نفساني خواهشاتو له توپانه ژغوري او د حيوانيت لـه تيـارو دې د انسانيت معنوي نړۍ رڼاګانو ته رابولي حيا ده.

د حيا ضد صفت بې حيايي، بې شرمي، بد اخلاقي او حيـواني صـفات دي. څومره چې انسـان پـه حيـا قـدرمن دی، پـه همـاغـه کچـه پـه بـې حيـايـۍ کـې سپک او ذليله دی. حيا په انسان کې اخلاق روزي، اخلاق انسان د درنښت او عظمت معراج ته پورته کوي او د سپېڅلتيا انوار وربخښـي. حيـا انسـان له ګناه ژغوري، د خطاوو له تقصيره يې خبروي، د انساني کرامت د صفاتو کيسه ورته کوي، پـه زړه کـې يـې د مينـې سـندره زمزمـه کـوي او لـه الله‌ج د وېرې په مانا يې پوهوي.

حميد بابا بل ځای داسې وايي:

همنشين د بې حيا وي بې حيا
سپينه ږيره ژرنده ګړی د آسيا

بې حيايي د ساري ناروغۍ په څېر ده، خلک ترې کرکـه لـري او لـه بـې حيـا سره نه کښېني، د بې حيا په دوستۍ خوله پټوي او نه غـواړي څـوک ووايـي چې فلانی هم له هغه بې حيا سره ملګرتيا لـري، خـو د حيانـاک او شرمناک انسان په دوستۍ هر سړی وياړي او ورسره ملګرتيا تـه لېوالـه وي. د حميـد

ketabton.com - The Digital Library



بابا له پورتني بیته څرګندېږي چې له بې حیا سره یوازې بې حیا خلک ناسته-پاځه لري، ځکه چې د ژرندګرې ږیره مدام په اوړو سپینه وي، که له بې حیا سره څوک راشه ـ درشه او ناسته – ولاړه لري، نو هرومرو به یې په همدغه رنګ رنګ وي.

حیاناک انسان [ښځه وي که نارینه] یو بل ته د کتلو پر مهال خپل نظر په واک کې ساتي، د وینا پر مهال د بل حېثیت او وقار ته زیان نه رسوي، هڅه کوي چې الفاظ یې منلي او سپېڅلي وي، هڅه کوي چې قضاوت یې په داسې الفاظو وړاندې کړی وي، چې د ویناوال له حیا او عزته استازیتوب وکړي، که په لاره روان وي، نو د حیا روحیه ورسره د یوې روحاني اروا په توګه مله او ملګرې وي، که پوښاک اغوندي، نو د حیا اصل په پام کې نیسي، هغه قیافه خوښوي چې د ده پر وړاندې د بې حیایۍ تعبیر و نه لري او نور یې په اړه ناسم تعبیر تر لاسه نه کړي.

حیا د پیغمبرانو، اولیاوو او سترو انسانانو صفت دی، حیا د دین جامه ده، حیا د شخصیت تر ټولو غوره رکن دی او حیا د انسان ښکلا او ښایست دی. حیا د پاکلمنو انسانانو صفت دی، حیا ده چې د انسان اخلاق روزي او شخصیت یې په ټولنه کې درنوي. حیا انسان دې ته هڅوي چې ښې چارې تر سره او له بدو ډډه وکړي. حیا انسان ته دا سبق ورکوي، چې د نورو درناوی وشي. حیا د انسان پر مخ د ګناه دروازې تړي او د بریالیتوب ور ورته پرانیزي. حیا د انسان عقل له افاتو ژغوري او د ایمان چینه یې رڼه او تانده ساتي.

ketabton.com - The Digital Library



موږ مخکې ووېل چې شرم و حيا د مترادفو کلمو په توګه کارول کېږي، خو هر شرم حيا نه وي، هغه په دې مانا چې ځينې خلک د کم جرئتۍ نه داسې ښکاري چې ګواکې شرم لري او حيا يې ډېره ده، د بېلګې په توګه يو زده کوونکی يا زده کړيال(محصل) د خپل استاد په مخ کې د خبرو کولو جرئت نه لري او په ټولګي کې چوپه خوله ناست وي، يا يو مامور د خپل رئيس پر وړاندې خبرې نه شي کولای او تر اغېز لاندې راغلی وي، يا يو کس دا ښه نه ګڼي او شرمېږي چې د مشرانو درناوی وکړي، يا يو کس د خپلو دوستانو په محافلو کې له دې وېرې ګډون نه کوي چې ښايي خلک به يې په لباس يا خبرو پورې وخاندي. دا ډول شرمونه منفي پايلې لري او هيڅکله په حيا نه شي تعبيرېدای. د خبرو کولو له صلاحيت او جرئت سره سره حيا کول، حيا ده. دا حيا ده چې ته يو کس د هغه د بدو خبرو په ځواب کې هماغه شان رټلای شې، خو دا کار د خپلې حيا له مخې نه کوې. دا حيا ده چې ته د مشرانو درناوی وکړې او ځان د هغوی پر وړاندې د ټيټې مرتبې له کسانو وشمېرې.

په هر حال حيا د يوې مهذبې او اخلاقي ټولنې ارزښت دی او حياناک خلک د ټولنې د معنويت له هستيو ګڼل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library



# القاب

زموږ په ټولنه کې د القابو کارېدنه د ټولنيز ارزښت په توګه شتون لري، القاب هغه توصيفي ضماير دي چې د درنښت او عزت لپاره نورو ته کارول کېږي، يا په بله وينا لقب يو چا ته د خلکو له خوا د هغه د ستاينې لپاره ورکول کېږي او موخه ترې درناوی او احترام وي، خو کله نا کله معکوس تعبير هم لرلای شي او د غندنې لپاره هم ځينې القاب کارول کېږي.

په پښتني ټولنه کې چې څوک يو مشر ته غږ کوي، نو د ((لالا))، ((کاکا))، ((ماما)) او ((مشره)) القاب ورته کاروي. په دې القابو کې له ورايه د درناوي روحيه ښکاري او مقابل لوری هم فکر کوي چې دا القاب يې ورته د احترام لپاره وکارول. د القابو دغه کارونه اوس د لوړ تهذيب يوه برخه ده.

همدا راز په ټولنه کې د مشر او سپين ږيري لپاره چې ويناوال يې له نوم سره اشنا نه وي د حاجي صاحب لقب ډېر کارول کېږي، که يو څوک حاجي هم نه وي د حاجي په لقب نه خپه کېږي او په دې پوهېږي چې مقابل کس ورته دغه لقب د درناوي لپاره کارولی دی. يو شمېر کسان چې کوم معنوي او علمي لقب نه لري، پخپله دې ته خلک هڅوي چې ورته حاجي صاحب ووېل شي، د حاجي لقب په ټولنه کې ټولمنلی او اکثره خلک يې د درنښت لپاره کاروي. پخوا به د مجاهدينو په جبهاتو کې د ګروپ او ډلې مشر ته د

ketabton.com - The Digital Library



((استاذ)) لقب کارېده او دا به د درناوي او عزت نخښه ګڼل کېدله، بيا چې مجاهدين واکمن شول ټولو قومندانانو صاحبانو حجونه وکړل او د ((استاذ)) لقب په حاجي صاحب بدل شو، چې همدا اوس د احترام او درناوي لپاره دغه لقب زښت زيات استعمالېږي.

پاچا صاحب، ميا صاحب، اخندزاده صاحب، صاحبزاده صاحب او مير صاحب هغه القاب دي چې د نسب او قوميت په اعتبار کارول کېږي، همدا راز د پيره، پيرجانه او باداره القاب هم د يو ټولنيز ارزښت په توګه په ټولنه کې شته.

د ملګريه او وروره القاب کارول هم د ډېر صميميت نخښه ده، چې په ټولنه کې کارول کېږي، دا کارېدنې د وخت په سياسي ډلو او د ځينو جهادي تنظيمونو په خلکو کې مروجې وې، د بېلګې په توګه خلقيانو به يو بل ته د ((ملګري)) په نوم غږ کاوه، پرچميانو به بيا ((رفيق)) وايه. د مجاهدينو د اخوان المسلمين مفکورې پلوو تنظيمونو په مشرانو او ملاتړو کې د ((ورور)) لقب ډېر کارېده لکه: ورور حکمتيار. دا هغه القاب وو چې د درنښت او احترام لپاره کارېدل او اوس هم دغه القاب د ټولنيزو ارزښتونو په توګه په ټولنه کې شته.

ماشومانو ته هم د عاطفي القابو کارېدنه مروجه ده، لکه يو ماشوم ته د ګلابه، ګله، ګلاليه، پهلوانه او نره په القابو غږ کول له يوه پلوه ماشوم ته د جرئت د ورکړې اصل دی او تر تر ځنګ يې د خپل خلوص او مينې اظهار کول هم دي. د القابو دغه کارېدنه د ټولنيز ارزښت په توګه شتون لري.

ketabton.com - The Digital Library



کشر ته د ((ګران)) او ((روکي)) القاب کارول هم عام دي، په دې القابو کې عاطفه، مينه، خلوص او لورينه هغه جواهر دي چې کشرانو ته کارول کېږي، خو لکه مخکې چې د معکوس تعبير خبره وشوه، که چېرته دغه القاب يو کشر کس له ځانه مشر ته ورکړي او يا يې په دې القابو راوبولي، توهين او سپکاوی ګڼل کېږي. هېڅ وخت بايد له ځانه مشر ته د ګران او روکي القاب ونه کارول شي، چې د نورو پر روحياتو بده اغېزه کوي او د مينې پر ځای د کرکې لامل ګرځي. يا يو چا ته د ((ګوډه))، ((بېړا))، ((ړونده))، ((ګنجيه)) او داسې نورو القابو کارونه د کرکې او نفرت لامل ګرځي او هغه کس چې په دې نومونو نومول کېږي په ټولنه کې د کمترۍ احساس کوي.

مور نور القاب هم لرو چې د ټولنيز ارزښت په توګه په ليکنو، رسمي پيغامونو او وينااوو کې کارول کېږي، لکه: محترم، قدرمن، عزتمن، درونډ، منلی، عزتمآب، جلالتمآب، فضيلتمآب، لوراند، باتور، شجاع او داسې نور چې په مناسبو وختونو کې کارول کېږي.

له لقب سره د ((صاحب)) کلمې استعمال هم مروج دی، کشرانو ته د جان، قند او شېرين، جانې مامېش(ماما يش) جانې کاکېش(کاکا يش) القاب هم زموږ په ښاري ټولنه کې د يو ارزښت په توګه کارول کېږي. د سترګو تور او د زړه ټکور القاب هم د والدينو له خوا اولادونو او يا د هغو کسانو له خوا نورو ته کارول کېږي چې ډېر ورباندې ګران وي.

دغه القاب په خپلو خپلو ځايونو کې استعمالېږي، که يو ځوان سړي ته د بل ځوان کس له خوا بابا وويل شي دلته د مقابل لوري د درنښت او عزت

ketabton.com - The Digital Library



پر ځای د هغه په توهين او سپکاوي تعبيرېږي، يا که يوې ځوانې ښځې ته نيا يا ترور وويل شي، ښايي د هغې غوسه وپاروي د ځان توهين يې وګڼي، يا يو چا ته د هغه د سهوې او خطا پر مهال ((لالا)) ويل معکوس تعبير لري او مقابل لوری يې د ځان لپاره سپکاوی ګڼي.

په لنډه توګه ويلای شو چې زموږ په ټولنه کې د القابو سمه کارونه د ټولنيز ارزښت په توګه منل شوې او د خلکو اکثريت يې د درناوي لپاره نورو ته کاروي.

ketabton.com - The Digital Library



# د نورو نظرياتو ته درناوی کول

دا يو ټولنيز ارزښت دی چې بايد د نورو نظرياتو ته درناوی وشي، په ډېرو بحثونو کې ليدل کېږي چې هر کس په خپل استدلال ټينګار کوي او د نه پخلا کېدونکي شخص په توګه د بل د نظرياتو اورېدلو ته تيار نه وي، هر څوک هڅه کوي د خپل نظر او منطق لپاره دلايل برابر کړي او پر نورو يې ومني، دا ستونزه په ټولنه کې ډېره زياته ده، دې دريځ او موقف ډېر خلک له ټولنې منزوي کړي او په خلکو کې يې د دوی مينې ته زيان رسولی. په رواني لحاظ دا هغه ستونزه ده چې انسان د بل د ښو نظرياتو په اړه يوې داسې جبهې نيونې ته اړباسي چې بيا يې هره وينا او کړنه له منفي نظرياتو سرچينه اخلي. حال دا چې هر څوک بايد د مقابل لوري دلايل واوري، په منطق يې فکر وکړي او ربښتينولي يې ومني او که د مقابل لوري دلايل او نظريات ناسم وو، بايد د قناعت له لارې ورسره سلوک وکړي.

که موږ حقايق وايو او له حقيقته خبرې کوو، تر هغه زموږ وينا حقايق نه شي ثابتېدای چې په مجلس کې ناست اشخاص نه وي قانع شوي او ستا د نظرياتو ربښتينولۍ ته يې غاړه نه وي ايښې. که توازن داسې و چې تاسې په حقه واست او مجلس ستاسې د نظرياتو پر خلاف و، بيا چوپتيا غوره ده او د نظرياتو د ډګر د ګټلو هڅه مه کوئ، خو که مخلص او حق منونکي اشخاص هم وو، بيا د نورو نظريات واورئ او په خپلو نظرياتو فکر وکړئ،

ketabton.com - The Digital Library



ښايي ستاسې نظريات کمزوري او معلومات مو کره نه وي، په هغه صورت کې خپله پره ومنئ او د نورو مثبتو نظرياتو ته غاړه کېږدئ.

د نورو نظريات که کمزوي هم وي د درناوي وړ سلوک ورسره وکړئ، تاسې بايد په ډېر حکمت او ژبني مهارت مقابل شخص ته قناعت ورکړئ او د خپل دليل په اړه يې قانع کړئ، که ستاسې دليل کمزوری و، خپله غلطي ومنئ او له مقابل لوري مننه وکړئ چې ستاسې په نظرياتو کې يې سمونه رامنځته کړه. ډېر مشران فکر کوي چې د کشرانو پر وړاندې د دوی هر نظر سم او نور يې بايد ومني، حال دا چې ښايي ډېر مشران په دې اړه سم نظر او سم قضاوت ونه لري، دا په عمر پورې تړلې نه ده چې هرومرو دې د مشرانو دلايل سم وي. په ځينو مجالسو کې مشران د ناسم منطق له مخې پر خپلو افکارو او نظرياتو ټينګار کوي او خپلې خبرې ورته د کاڼي کرښې ښکاري، دوی هڅه کوي کشران د نظر له حقه محروم کړي او اجازه ورنکړي چې خپل نظريات وړاندې کړي. دا که له يوه پلوه د يو شمېر مشرانو د نظر تحميلول دي، له بله پلوه موږ د سم قضاوت او کره منطق په اړه دروازې وتړلې او کشران مو د نظرياتو له حقه بې برخې کړل.

د سياست او حکومتدارۍ په چوکاټ کې هم يو شمېر کسان فکر کوي د دوی نظريات بايد نور خلک په پټو سترګو ومني، ځکه چې دوی د صلاحيت په کرسۍ ناست دي او هر خبره يې د فرمان حيثيت لري. دا سياسيون ډېر ځله په خپلو نظرياتو کې تېروځي او له اشتباهاتو سره مخ کېږي، خو بيا هم ورته خپله پره او ملامتيا نه ښکاري. دا هيڅکله پر ځای نه ده چې څوک د منصب پر لويو چوکيو ناست دي، نو خبره به يې هم لويه

ketabton.com - The Digital Library



او سمه وي. د ډېرو لويو فکرونو خلک پر ډېرو وړو چوکيو ناست دي، يا هيڅ رسمي دنده نه لري، داسې هم شته چې د ډېرو وړو فکرونو په خلکو ډېرې لويې چوکۍ بندې دي او تر نورو يې نظريات خام او کوچني دي، نو په کار ده چې واکمن د ښواکو نظرونه واوري، مشران د کشرانو نظرياتو ته درناوی وکړي او د نظرياتو د اورېدلو په اړه د زغم فرهنګ رامنځته شي.

په ډېرې کورنيو کې د مېرمنو نظرياتو ته غوږ نه نيول کېږي او ښځې د نظر وړاندې کولو له حقه محرومې دي، دا سلوک د يو تبعيض په ډول ريښې ځغلوي او بيا يـاده کـورنۍ د روحـي ستونزو، محروميتونو او نـاهيليو ميدان ګرځي. اړينه ده نارينه هم د ښځو نظريات واوري، د مسايلو په اړه له هغوی سره مشوره وکړي، د هغوی دريځونه وځېړي او بيا د ټولنې، کورنۍ د افکارو د منځپانګې په توګه د هرې مسئلې په اړه دريځ غوره کړي. ډېر ځله داسې کېږي چې تر نارينه وو د ښځو نظريات په عاطفو، معقوليت او زغم ولاړ وي او د عصبانيت او جذباتي کېدا پر ځای د تعقل ښکارندويي کوي. نو څنګه کېدای شي چې په مسايلو کې دې د کور د ښځينه غړو نظريات له پامه وغورځول شي. او هغوی دې د نظر وړاندې کولو له حقه محرومې شي؟!

د نظرياتو په اړه د ځان واکۍ او مشرواکۍ روحيه سمه نه ده، مشران د درناوي وړ دي، خو کشران هم د نظرياتو حق لري، د کشرانو نظرياتو ته بايد اهميت ورکړل شي، مثبت يې واخيستل شي او د منفي نظرياتو سمونه يې وشي. انسانان دې ته اړ دي چې په ټولنيزو مسايلو کې سره مشوره وکړي، د افکارو او نظرياتو تبادله وکړي، په محاسنو او نيمګړتياوو خبرې

ketabton.com - The Digital Library



وکړي او د سم انتخاب په لاره کې سره نظرونه شريک او يو د بل د نظر درناوی وکړي.

د نظرياتو په ميدان کې هېڅوک مدام ګټونکی نه وي او نه هيڅوک مدام بايلونکی، هوښيار هغه دی چې په سړه سينه د نورو نظريات واوري او د منطق په تله پوره نظريات وړاندې کړي، دا حالت له يوه پلوه د ويناوال له معقوليته حکايت کوي او له بله پلوه مقابل لوری په دې ډاډه کوي چې د نظر د ورکړې حق ترې چا نه دی اخيستی.

نو راځئ! د نورو د نظرياتو درناوی وکړو او خپل نظر پر نورو تحميل نه کړو.

ketabton.com - The Digital Library



# دعا و آزار

دعا و آزار زموږ ټولنیز ارزښت دی، هر سړی غواړي چې د خلکو په دعاوو کې یاد شي او له آزاره یې ځان وساتي. دعا کول یو چا ته عقیدوي اصل هم دی، د مور و پلار دعا اولادونو ته، د استادانو دعا شاګردانو ته، د پیرانو دعا مریدانو ته او د دوستانو دعا دوستانو ته معنوي ټولنیز ارزښت دی. خلک وایي: فلانیه که دې دا خدمت وکړ، دعا به درته کوو. که دې دا جومات جوړ کړ، خلک به دې په دعاوو کې یادوي. که دې د بېوزلو زړونه وساتل، د مسکینانو په دعاوو کې به دې برخه وي. همدا لامل دی چې هر سړی غواړي خلک ورته دعا وکړي. کوم کس چې په سفر ځي، وایي: دعا راته کوئ. کوم ناروغ چې حالت یې ښه نه وي، وایي: دعا راته کوئ. د کوم چا چې کومه ستونزه مخې ته وي، وایي: دعا راته کوئ. په دعا کې خیر دی، په دعا کې سکون دی، په دعا کې ډاډ او اطمینان دی، په دعا کې اروایي راحت او آرام دی.

عبدالرحمان بابا وایي:

بادشاهي د ګـــــــدایانو په دعا شي

زه رحمان ځکه بادشاه یم چې ګدا شوم

ketabton.com - The Digital Library



دعا له روحانیته الهام اخلي، دعا په ګروهي اصل پورې تړلې ده، څومره چې د ګروهې مراندې ځواکمنې وي، د دعا جوهر ښه درک کېدای شي، یو کس هله له نورو د دعا تمه لري، چې د خلکو پر وړاندې یې د مینې، همدردۍ، دوستۍ، عاطفې او شفقت نه کار اخیستی وي، موږ هر یو د خپل نېک عمل په وړاندې له خلکو د دعا غوښتونکي یو، یا په بله وینا موږ هر یو لومړی نېکه کړنه او عمل کوو، بیا د نورو د دعا هیله لرو، چې دا په خپله انسان ته دوه جوهره بخښي، یو دا چې په نېک کار کولو سره عامل د خوښۍ او هوساینې احساس کوي، وجدان یې په دې ډاډه کوي چې تا له انسانانو سره مرسته وکړه، تا د خیر کار وکړ، تا د بشردوستۍ لاره ونیوله، دویم دا چې انسان ته د دې شرف بخښي، چې ته نو اوس د دعا وړ او لایق یې، ته نو اوس هغه مقام ته رسېدلی یې چې خلک به درته دعا کوي، تا نو اوس د خلکو زړونه فتحه کړي دي او د خلکو ژبې تاته په دعا ښوري. ته نو اوس هغه څوک یې چې د انسانانو د خیر لپاره قدم اخلې او خلکو هوساینه او سوکالي ستا هیله او ارمان دی. ته نو اوس د خلکو لپاره ستړی یې او ټوله هڅه دې د دې لپاره ده چې خلکو ته خیر ورسوې او خلکو ته خوشحالي ورکړې.

هر څوک چې د دعا کرونده برابروي، مخکې له دې چې نور ورته د دعا ګلان پکې وکري، ده پخپله په خپلو کړنو کې د اخلاقو، دیانت، ایمانداری او شرافت فلسفه او حکمت عملي کړی دی، ده پخپله د دعا د ښار دروازې ځان ته پرانیستي دي، ده په خپله له نورو سره د احسان او نېکۍ رویه اختیار کړې ده، ده پخپله له انسانیت سره د مینې ترانه زمزمه کړې ده.

ketabton.com - The Digital Library



دا سې هيڅکله نه دي شوي، چې يو کس دې خلک آزاروي او خلک دې ورته دعا کوي، يو دې خلکو ته زيان رسوي او نور دې ورته دمغفرت او بخښنې لاسونه لپه کوي. يو دې د خلکو زړونه ماتوي او بيا دې په زړونو کې د کور جوړولو تمه هم لري. چې مينه وېشې مينه به اخلې او که کرکه وېشې، نو د مينې تمه بې ځايه ده.

صوفي شاعر عبدالرحمن بابا وايي:

ادم زاد په مانا واړه يو صورت دی

هر چه بل آزاروي خپله آزار شي

دا چې دعا ته د يو ټولنيز ارزښت په سترګه کتل کېږي، آزار ته هم خلک په دغه شان اهميت قايل دي. خلک هڅه کوي د چا زړه آزار نه کړي، د چا د ښېراوو ښکار نه شي، چا ته تکليف ونه رسوي، چا ته ستونزې او مشکلات پيدا نه کړي، دا وېره پخپله هغه لاره انسان ته په ګوته کوي چې بايد وربانده<br>دې لاړ نه شي او تري ډډه وکړي. دا وېره پاکه او صفا لاره له اغزنې لارې جلا کوي او انسان په دې پوهوي چې د کعبې او ترکستان لارې کومې دي. انسان په دې پوهوي چې دعا او آزار بېل فصلونه دي او بېل ثمر لري.

عبدالرحمن بابا وايي:

په آزار د چا راضي مه شه رحمانه

که خلاصي په قيامت غواړې له آزاره

ketabton.com - The Digital Library



مـوږ چـې څـومره لـه خلکـو د دعـا تمـه لـرو، همـاغومره يـې لـه آزاره ځانونـه ساتو، دا دواړه ارزښـتونه سره تړلـي دي، دا دواړه خـواږه او ترخـه سره ګډه پوله لري، دا دواړه د خير او شر په اړه موږ تـه حکايت کـوي. يـو د ثـواب او اجر پيغام لري، بـل د عتـاب او عـذاب، يـوه کړنـه بشردوسـتي ده، بـل بشـر آزارول. يـوه کړنـه لـه انسـانيت سره مينـه ده، بلـه کرکـه. يـوه لـه خلکـو سره مرسته ده، بله زيان رسول، يو له خلکو سره ښـه سلوک دی، بـل بـد. پـه يـو عمل انسان الله ج ته نږدې کيږي. په بل لرې کيږي.

انسـان بايـد ځان تـه د دعـا فصـل وکـري او د آزار لـه توپانـه ځـان وژغـوري. انسان بايد د بشرپالنې او بشر آزارونې په تعريف ځان پوه کړي، روښانه لاره لـه تيـارو بېلـه کـړي، د خيـر او شـر پـه مانـا ځـان مـلا کـړي او بيـا د انسـاني ژوندانه د سفر قافله روانه کړي.

ketabton.com - The Digital Library



# راشه-درشه

راشه درشه د ټولنيزو اړيکو د سرچينې په توګه د افغانانو ټولنيز ارزښت دی، پښتانه ورته «کور و کلی» هم وايي. په افغاني ټولنه کې د راشه- درشه ډېر ډولونه دي، چې دغه کولتور يې ژوندی ساتلی. يو له دغو څخه د ناروغ پوښتنه ده چې حتمي ګڼل کېږي، د ناروغ پوښتنې ته د دوستانو او خپلوانو تګ هغه اصل دی چې يوه کورنۍ له بلې سره د همدردۍ او خواخوږۍ په عاطفي اصل تړي، دوستان د ناروغ دوست کور ته ورځي او د ناروغۍ پوښتنه يې کوي، دا اسلامي ارزښت هم دی او افغاني فرهنګ هم. په واده او ښاديو کې ګډون هم د راشه درشه د يوې ځواکمنې ريښې او اصل په توګه ټولنيز ارزښت ګڼل کېږي، افغانان د خپلو دوستانو او خپلوانو سره د واده په مراسمو کې راشه درشه لري، که د ښادۍ والا نږدې خپلوان وي بيا ورکره د ښځو تګ راتګ هم وي، د خپلوانو ښځې د واده په شپه د واده والا کور ته بلل کېږي او ورسره په خوښۍ کې ځانونه شريکوي، دې اصل افغاني ټولنه د راشه درشه له مخې سره تړلې او يوه کورنۍ يې له بلې سره د دوستۍ په مراندو وصل کړې ده.

د راشه- درشه مسئله د يو غښتلي ټولنيز ارزښت په توګه په افغاني ټولنه کې په بېلابېلو معيارونو سره مطرح ده، هغه په دې مانا چې په دې ټولنه

ketabton.com - The Digital Library



کې هر څوک تر ډېره له هغه چا سره راشه درشه لري، چې ورسره په کچه او سویه برابر وي، تاسې به ډېر کم وګورئ چې یو شتمن خپلوان دې د غریب په خوشالۍ کې برخه اخیستې وي، یا دې یې د ناروغ پوښتنې ته ورغلی وي، یا دې یې د اختر مبارکي او خوشحالي ورسره شریکه کړې وي، خو د غوړ لستوڼي خاوندان په دې برخه کې ډېر دوستان لري، که یې له چا سره و نه هم پالي، حجره او دېره یې له بې شمېره خلکو ډکه وي، دا ډول اړیکې یوازې په «راشه» ولاړې وي او د «درشه» پکې درک نه لګي.

شتمن له شتمنو سره ښه راشه درشه لري، مړي ژوندي ته ورځي، که د کوم یو ماشوم ناروغه شي بل شتمن ورته په اوونۍ کې درې ځلې پوښتنې ته ورځي، سهار و ماښام یې په موبایل پوښتنه کوي، چې ښاغلی حاجي صاحب هغه ماشوم اوس څنګه دی؟ دوی یو بل ته مېلمستیا ګانې کوي، که د کورنۍ کوم کس یې له حجه راشي، کور ته یې پسونه وروړي او د راشه درشه اصل سره ښه په مینه ساتي.

شتمن د شتمنو دوستانو په ښادیو کې څو ورځې وړاندې په مشورو او مصلحتونو کې شریک وي، د واده سرشته ورته نورو دوستانو نیولې وي، په نیمو شپو یو د بل په حجرو کې ناست وي، ټوکې ټکالې کوي، قطعې کوي، سطرنج کوي، د ټنګ ټکور پروګرامونه جوړوي، د تفریح او مېلو لپاره پروګرامونه طرحه کوي او په پوره خلوص او ملګرتیا د راشه درشه اصل ژوندی ساتي. په غم کې هم شتمن هم داسې درواخله، د غمځپلې کورنۍ نه دوی ډېر پرېشانه او ستومانه ښکاري او د خپل شتمن دوست غم خپل ګڼي.

ketabton.com - The Digital Library



د يوه غېږ کې پرته وي بل ته خاندي

څه لـــولې او بې حيا ده دا دنيا

په افغاني ټولنه کې اکثره غريب او بېوسه خلک له خپلو بېوسو خپلوانو او دوستانو سره ښه راشه درشه لري، خپله خوشالي لـه هغـو سره شريکوي او په خپګان کې هم سره شريک وي، دوی يو له بله سره ښه کور و کلی لري او راشه درشه سره ښه پالي. د غريبو او متوسطو خلکو تر منځ د راشـه درشـه لپـاره ځانګړي وختونه وي، لکـه پـه اخترونـو کـې راشـه- درشـه زياتـه وي، خپلوان او دوستان يو د بل کور ته ورځي او د اختر مبارکي ورتـه وايـي، خـو د شتمن او غريب په اړه پورتنی ياد شوی اصل پکې په پام کې نيـول کېـږي. په جنازه او خيرات کې هم راشه درشه يـوه مهمـه مسـئله ده، چـې خلـک يـې سره د روابطو په اصل راټول کړي دي.

تـر ډېـره پـه خپلوانـو کـې راشـه درشـه د ښـځو لـه خـوا تـوده وي، دوی نـوي زېږېـدلي ماشـوم تـه د مبـارکۍ لپـاره ورځـي، د نـاروغ پوښـتنه کـوي، د سنتۍ، کوژدې او نورو خوښيو مراسم سره پالي او يو بل ته پيسـې وروړي، دا پيسې داسې وي لکه څوک چې چا ته پور ورکوي، بله ورځ چې پـه مقابـل کور کې خوښي پيدا شي او يا د ناروغ د پوښتنې اړتيـا پيـدا شـي، نـو هغـه خپلوان يې ورته ورځي، په ورکړل شويو پېسو لس شل اضـافه کـوي او ورتـه يې مخې ته ږدي. همدا راز هغه جلۍ چې ودېږي د واده نـه مخکـې ورتـه د خپلوانو له خوا مېلمستيا (ډوډۍ) کېږي، کـه پـه نږدې خپلوانـو کـې هلـک واده وکړ، له خپلې کورودانې او د کور له غړو سره ورته مېلمستيا کېږي او دغه اصل د يو غوره فرهنګ په توګه د راشه درشـه پالـل کېـږي. د ښـځو تـر

ketabton.com - The Digital Library



منځ راشه درشه تر ډېره ښه دود دی او د کورنيو اړيکو د پاللو لپاره غوره ټولنيز ارزښت ګڼل کېږي. له دې سره په خپلوانو کې مينه، محبت او خلاص زياتېږي، يو د بل له احواله خبرېږي، يو له بل سره د زړه خبرې شريکوي او تر ډېره ښځو ته تفريحي ارزښت هم لري.

حاجي صاحب چې له حجه راشي، يا څوک له عمرې راستون شي، دوستان ورته د مبارکۍ او ستړي مشي لپاره ورځي او په دې سره د راشه درشه اصل ته ژمنتيا ښکاره کوي. زموږ په ټولنه کې لکه مخکې چې وويل شول هر انډول له خپل انډول سره ښه راشه درشه لري، که د يو فرهنګي کور ته لاړ شئ، نو فرهنګيان به وګورئ، د ملا صاحب په کور کې به ملاصاحبان وګورئ، د شېخ صاحب په کور کې به شېخان ووينئ، د طريقت د لارې صوفيان بيا له صوفيانو سره راشه درشه لري، د پوهنتون استادان هم داسې درواخله، د موسيقۍ هنرمندان له خپلو هنرمندانو سره راشه درشه لري او غښتلې اړيکې يې د خپل فن له همکارانو سره وي.

کبوتر با کبوتر باز با باز

کند همجنس با همجنس پرواز

که په لنډه توګه ووايو راشه – درشه د افغاني ټولنې يو ارزښت دی او د راشه درشه له برکته افغانان په خپلو کې د ټينګو اړيکو مراندې لري او د مېلمه پالنې او دوست پالنې اصل له همدې چينو خړوبه کېږي.

ketabton.com - The Digital Library



# زغم و نرمښت

صبر، زغم او نرمښت ټولنيز ارزښت دی، هغوی چې صبر او زغم لري، د نورو په پرتله په ټولنه کې ښاغلي او منلي دي، هغوی چې صبر او زغم لري، چارې يې د تعقل او سنجش له مخې روانې وي، هغوی چې نرمښت لري، په اسانه زړونو ته لار مومي او په اسانه د خلکو مينه او اخلاص راجلبولای شي.

زغم او نرمښت لويه شتمني ده، زغم د سترو او لويو شخصيتونو له خواصو څخه دی، حوصله او زغم انسان ته سترتوب بخښي. زغم انسان ته معنوي قوت بخښي، د انسان اراده د ناخوالو پر وړاندې ځواکمنه کوي. تاسې به د هوډ او عزم څښتنان وګورئ چې زغم لري، صبر لري او حوصله لري، تاسې به د معنويت د ډګر اتلان وګورئ، چې په روحياتو کې يې د مورال غرونه هسک وي، استقامت او پر خپل عزم کلک دريدل يې د شخصيت له ښو صفتونو څخه وي، تاسې به عفوه کوونکي ووينئ چې د زغم جوهر يې په سينه کې په ډاګه ځرګند وي، تاسې به پوهان او عالمان ووينئ چې زغم او صبر، نرمښت او حوصله يې د معنوي شخصيت جوهر وي. د بې صبرۍ په اړه

عبدالرحمن بابا وايي:

ketabton.com - The Digital Library



((صابرانو صبر پرېښود حريصان شول
نه څه عدل شته په چا کې نه انصاف))

موږ چې کله د زغم خبره کوو، زغم او صبر په خپله فلسفه کې د نرمښت صفت لري، نرمښت د زغم او صبر دويم نوم دی، هغوی چې نرمښت لري خبرې يې اغېزمنې وي، هغوی چې په نرمه لهجه خلک پوهولای او د خلکو پر زړونو حکومت کولای شي، ديکتاتوران او زورمندان يې نه شي کولای، هغوی چې نرم زړونه لري د زړونو تر لاسه کولو له هنره برخمن دي، هغوی چې نرم زړونه لري، د خدای مينه د هغوی زړونو ته رښا راوړي، هغوی چې نرم زړونه لري، د عاطفې او مينې چينه په همدې زړونو کې پيدا کېږي.

رحمان بابا وايي:

(( په لږ عمر کښې ډېر غم له کومه راغی – خو له خپلې بې صبرۍ په سر ډېر شي))

نو زغم او نرمښت انساني صفات دي، زغم او نرمښت عالي صفات دي، زغم او نرمښت د شرف، عزت، درناوي او درنښت نخښې دي. هغوی چې نرمښت لري او له زغمه کار اخلي په ټولنه کې محبوبيت لري او په خلکو ګران دي، هغوی چې له زغمه کار اخلي له ښه شهرته برخمن دي او خلک يې درناوی کوي.

ketabton.com - The Digital Library



هغوی چې په نرمه لهجه خبرې کوي، خلک يې په وينا باور کوي او دا الفاظ له زړه نه راوتلي ګڼي. د دې پر خلاف توندي، تېزي او بې صبري خلک نه خوښوي او د دې صفاتو خاوند ته خلک په کرکه ګوري. توند سړی مدام په جذباتو او احساساتو ولاړې خبرې کوي، د هغه په خبرو کې تعقل، سنجش او هوښياري ډېر کم ځای لري، د هغه د خبرو سرچينه له بې عقلۍ، بې علمۍ او کرکې الهام اخلي او وينا يې پر خلکو ښه نه لګي. هوښيار او پوه خلک له هغوی د دوستۍ لار بېلوي او هڅه کوي چې په مجالسو کې يې برخه وانه خلي.

صبر عقيدوي ارزښت هم دی، الله ج فرمايي: ((ان الله مع الصابرين)) ژباړه: بې له شکه چې الله د صبر کوونکو ملګری دی. د مصيبت پر مهال صبر، د کوم جاهل له خوا د ربړنې پر مهال صبر، د تکاليفو او مشکلاتو پر مهال صبر، د لوږې او تندې پر مهال صبر، د ناروغتيا او بيمارۍ پر مهال صبر او په هر حال صبر او استقامت انسان ته جرئت او زړورتيا بخښي او انسان د سترتوب معراج ته پورته کوي.

نرمښت د صبر د سيکې بل مخ دی، هغوی چې صبر او زغم لري نرمښت هم لري، تونډ او بدمغزه انسان کله هم د زغم خاوند نه وي، کله هم په عقل ولاړه فيصله نه کوي، کله هم په ټولنه کې د باور او اعتماد خاوند نه وي. خلک وايي ورک يې کړه، بد مغزه دی، چرسي دی، بې عقله دی، ژر غوسه کېږي، پر خپلو مغزو کنټرول نه لري او...

حال دا چې د زغم او نرمښت خاوند ته درناوی کېږي، عزت يې کېږي او خلک ورته په درنه سترګه ګوري. خلک وايي، فلانی شريف انسان دی،

ketabton.com - The Digital Library



صبرناک دی، ډېر نرم سړی دی، هوښيار دی، صبر او حوصله لري، با عزته او با وقاره شخصيت دی، خدای ج لويه درونه ورکړې ده، لويه سينه لري، د غره هومره حوصله لري او...

نرمښت او زغم له بشر سره مينه کول دي، په نرمښت او زغم کې د بشردوستۍ لويه فلسفه پرته ده، د مينې او محبت لوی داستان پکې پروت دی، د سړيتوب او شخصيت لويه ودانۍ پکې آباده ده، د خلوص او صميميت لوی راز پکې پټ دی، د شفقت او عاطفې لوی سمندر پکې څپاند دی.

نو په لنډه توګه ويلای شو چې زغم او نرمښت د انساني ټولنې او په تېره زموږ د افغاني ټولنې ټولنيز ارزښتونه دي. هر سړی غواړي چې خلک يې په ښو صفتونو ياد کړي او په ټولنه کې د وياړ او افتخار مقام ولري. هر سړی غواړي چې نور انسانان ورته په درنه سترګه وګوري او عزت و درناوی يې وشي. د دې لپاره په کار ده، چې انسان په خپل شخصيت کې ارزښتونه وپالي، ارزښتونو ته کار وکړي او هغه صفات خپل کړي، چې د ده شمله ورباندې لوړېږي.

نو راځئ! صبر و زغم ولرو او د نرمښت د پير مريدان شو. عبدالرحمان بابا وايي:

« هم په دا يې د نغمې اثر پيدا شه

چې په تشه ګېډه صبر د رباب وي»

ketabton.com - The Digital Library



# ژبــه

ژبه د وينا د وسيلې په توګه ټولنيز ارزښت دی، ژبـه د افهـام او تفهـيم وسـيله ده، ژبـه د ګروهـې او کلتـور د انتقـال وسـيله ده، ژبـه د معنويـت د ساتنې اصل دی، ژبه د انسانانو تـر مـنځ د روابطو پـول دی، ژبـه د انسـاني ټولنې روح دی، ژبه ده چې انسان ته مسووليتونه تـر غـاړې کـوي، د حيـوان او انسان تر منځ د توپير کرښه کـاږي، ژبـه د حق غوښـتلو او حق ويلـو آلـه ده، ژبـه د انسـان روزنـې لپـاره اړيـن شـرط دی، کـه ژبـه نـه وای، زده کـړه او تعليم به نه وای، ژبـه د انسانانو تر منځ اکتسابي قراردادي سستم دی، چې خلکو ورباندې د ټولنيز ارزښت په توګه امنـا کـړې او منلـې يـې ده. هغـه کـه اشـاروي ژبــه ده کـه د وينـا ، د علامـو ژبـه ده او کـه د څـراغ د مـړ کيـدو او بلېدو، موږ ته خپل پيغام رسوي او موږ ته څه راښيي.

يو ښوونکی په فصيحه او بليغه ژبه زده کوونکی پوهوي، يو واعظ د وعظ او نصيت په ژبه مفاهيم انتقالوي، يوه ترافيکي نخښـه مـوږ تـه خپـل پيغـام وړاندې کوي، يو ترافيکي څراغ موږ ته دا وايي چې موټر دې روان شـي، يـا دې ودرېږي، يـو ګـونګی پـه اشـاره خپـل پيغـام بـل ګـونګي يـا خبرلـوخ تـه رسوي. دا ټولې ژبې دي. که هغه د وينا ژبه ده که د ليکلو، د شعر ژبه ده که د موسيقۍ، ننني ژبه ده که لرغونې انځوريزه، دا ټولې ژبې ارزښـت دی او د ټولنې خلک ورته د يو ارزښت په نظر ګوري.

ketabton.com - The Digital Library



لـه يـوه پلـوه ژبـه د وسـيلې پـه توګـه ټـولنيز ارزښـت دی، بـل دا چـې ژبـه د معنويت په لحاظ په پښتـني ارزښت کې د وعـدې، ژمنـې، عهـد او لـوز پـه توګه کارول کيږي. وايي فلانی سړی بې ژبې دی، مانا دا چې پر خپله وعده ولاړ نه دی، يا وايي چې فلانی سړی د يوې خبرې يا يوې ژبـې څښتـن دی، مانا دا چې څه يې ووېل، ورباندې عمـل کـوي. ژبـه پـه پښتـني فرهنګ کې خورا لوی ارزښت دی او دا ارزښت له پخوا نه په دې ټولنه کې ريښـې لـري، يو پښتون چې خبره وکړي، بيا يې نه ماتوي، يو پښتون چې له چا سره وعده وکړي، بيا له خپلې وعدې نه اوړي، وايي چې ژبه مې کړې او له خپلې ژبـې نه اوړم. هر هغه څوک چې له خپلې ژبې واوړي په پښتنو کې اعتبار له لاسه ورکوي او د «بې ژبې» انسان له پېغور سره مخامخ وي.

په کور کلي کې ډېری خلک پـه دغـه ارزښت کلک ولاړ دي، چـې يـو شـی وپلوري او سبا پوه شي چې په دې کې يې تاوان دی، خپله ژبـه پـوره کـوي او نه غواړي د خلکو پېغور ورترغـاړې شـي. ډېری خلک پـه خپلـو کـې سره د کړو وعدو او ژمنو ليکونه يو بل ته نه ورکوي، وايـي چـې دا ژبـه ده او بيـا د پښتون ژبه. بيا هماغه شان په خپله وعده کلک ولاړ وي، دا ژمنتيا پښتـو ګڼي او د خپلې وعدې د پوره کولو نه وروسته د شجاعت، وياړ او سرلوړۍ احساس کوي. ډېر ځله داسې شوي، چې يو څوک له خپلې ژبې ګرځي او يوه او بله پلمه بانه کوي، مقابل لوری ورتـه وايـي: تـه راتـه ووايـه چـې ژبـه دې راسره نه ده کړې؟ دا وخت د هغـه کس افغـاني او پښتـني غيـرت اجازه نـه ورکـوي چـې درواغ ووايـي، ځـان ورتـه پـه درواغـو ويلـو بـې ايمانـه او پيکـه ښکاري او عزت النفس يې دا نه مني چې چا ته دې پړ شي، ځکه نو پر خپله

ketabton.com - The Digital Library



کړې وعده اعتراف کوي او خپله وعده پوره کوي. دغه ارزښت ((ژبې)) په خلکو کې د ژمنتيا اصل پياوړی کړی، خلکو ته يې روحي سکون ورکړی او خلک يې د ژبې، يا کړې وعدې په ارزښت هوډمن کړي دي.

پښتنانه ژبه د يو داسې قانون په توګه مني چې تطبيق کوونکی يې پخپله د پښتون ضمير او وجدان دی، دا داسې وعده نه ده، چې پوليس او اجرائيه ځواک يې پر چا ومني، بلکې پخپله ژبه کوونکی يا وعده کوونکی د خپل وجدان له مخې کړې وعدې او ژبې ته غاړه ږدي او نه يوازې دا چې خپله سهوه مني، بلکې د وعدې او ژبې په پوره کولو کې يې که هر څومره مادي تاوان هم وي، روحاً ډاډمن او آرام وي. دغه ډاډمنتيا او روحي سکون له دې امله وي، چې پښتونولي يې نه ده ماته کړې او د خپلې ژبې عفت يې ساتلی دی.

د ژبې عفت همدې ته وايي، چې انسان خپله ژبه او کړې وعده پوره کړي او خپل ځان خپلې پښتونولۍ ته پړ او ملامت نه کړي. د ژبې عفت دا هم دی چې ژبه سمه وکارول شي، سپکې، سپورې او هغه څه ورباندې ونه ويل شي، چې د ويونکي په اخلاقي کمزورۍ او بې باکۍ دلالت وکړي او شخصيت يې کمزوری معرفي شي.

مور چې کله د پښتونولۍ خبره کوو، نو په ځانونو کې د يو ډول معنويت احساس کوو، دغه احساس پر ځان د يو ځواکمن باور او اعتماد سره تړلی دی، د معنويت دغه احساس د انسانيت جوهر دی، کله چې موږ ته خپل ضمير ووايي چې له يو مظلوم نه دفاع وکړه، دا زموږ د پښتونولۍ معنويت دی. کله چې د حيا او شرف خبره راځي او موږ ورباندې ټينګار کوو، دا

ketabton.com - The Digital Library



زمـوږ پښــتونولي او ټـولنيز ارزښــت دی. کلـه چـې مـوږ ګـورو دوه کســه پـه جنجال اخته دي او ملامت ته ملامت وايو، دا موږ تـه ګروهـه او پښــتونولي وايي. دغه پښتونولي او غيرت زموږ د ټولنيز ارزښت برخـه ده او همـدې تـه ټـولنيز ارزښـت وايـو. نـو ژبـه هـم د دغـه شـان اصـل پـه توګـه پـه ټولنـه کـې د معنوي جوهر په توګه مطرح ده او د ژبـې ارزښـت زمـوږ پـه ټولنـه کـې پـه دوه ډولـه دی، چـې يـو د وينـا د وسـيلې پـه توګـه او بـل د پښــتونولۍ د عهـد او ژمنې د معنويت په ډول ارزښت ګڼل کېږي. ژبه ساتل او پر ژبه درېدل يا ژبه پوره کول ټولنيز ارزښتونه دي، چې زموږ په پښتني ټولنه کې ځانګړی مقام لري.

ketabton.com - The Digital Library



# ښايست او ښکلا

ښايست او ښکلا ټولنيز ارزښت دی، هر انسان په دې لټه کې دی، چې خپله لمن د ښکلا له مرغلرو ډکه کړي، ښکلا په هر څه کې ده او هر څه په ښکلا کې دي. فلسفه په دې هڅه کې ده چې ښکلا وپېژني او د ښکلا حقيقت او ځانګړنې وټاکي او که شونې وي د ښکلا لپاره اصول او قواعد په ګوته کړي. په ښکلا پېژندنه کې انسان له ډېرو پوښتنو سره مخامخ کېږي. لکه موږ څه شي ته ښکلی وايو؟ ايا ښکلا بهرنی وجود لري که يوازې ذهني مسئله ده او که د ښکلا په نوم څه شی شتون نه لري؟ ايا ښکلا مطلقه ده يانې د تل لپاره يو شی ښکلی وي او که د وخت په تېرېدو خپل جوهر له لاسه ورکوي؟ ولې د ښکلي او نا ښکلي په اړه د خلکو نظرونه سره بېل دي؟ او ايا د انسان په وجود کې داسې ځواک شته، چې د ښکلا پېژندنې ځانګړنه لري؟

دا هغه پوښتنې دي، چې ښکلا پوهنه او فلسفه يې د ځوابولو صلاحيت لري، موږ دلته په دې بحث کوو، چې ښايست او ښکلا د يو مهم اصل په توګه ټولنيز ارزښت دی. موږ هر يو د ښکلا غوښتونکي يو، موږ هر يو د خپل ذوق په کرونده کې د ښکلا لپاره تعريف لرو او د ښکلا لپاره رنګونه. په پسرلي کې چې هره خوا ګلان وغوړېږي، خلک وايي طبعيت ښکلی دی، فضا ښکلې ده، هوا ښکلې ده. يا وايو چې دا وينا ښکلې ده، هغه ښايسته

ketabton.com - The Digital Library



خبرې وکړې، خداى دې ښکلې زوى درکړي. مور وايي: زوى ته مې د ښکلې جنۍ په لټه کې يم او...

آن تر دې چې ماشومان هم له ښکلا سره مينه لري، ښکلا پېژني او ارزولاى يې شي، ما شوم پلار ته وايي: پلار جانه ماته ښايسته نانځکه راوړه. مېرمن ښځېتن ته وايي: ښايسته جامې راته راوړه. مېلمانه وايي: د کور خلکو ښايسته مېلمستيا برابره کړې وه. په دې ترتيب مونږ هر يو پرته له دې چې د ښکلا او ښايست لپاره کوم تعريف ولرو، ښکلا ته په ارزښت قايل يو او ذوق مو دې ته هڅوي، چې د ښکلا سندره هېره نه کړو.

ښکلا پر انسان اغېزه کوي، داسې اغېزه، ته وا د خداى ج په مينه کې ورک عارف چې د پلوشو سمندر ته ورښکته شي او ټول افکار و ادراکات يې په تجلياتو کې محوه وي. همدا ډول هره ښکلا او هر ښايست خپل اغېز لري او دا اغېز کله داسې وي، چې د يو شي له ښکلا ډېر خلک متاثره شي، د ځينو شيانو له ښکلا بيا هر سړى نه متاثره کېږي او د هر شي د ښکلا جادو په هر چا اغېزه نه کوي. وايي مجنون ته چا وويل چې ليلا خو دومره ښايسته نه ده، څومره چې ته ورپسې لېونى يې. مجنون ورته وويل: کاش چې تا ليلا زما په سترګو ليدلاى شواى.

ښايي يو کس د مرغيو له آوازونو خوند واخلي او په دې غږونو کې ورته د ښکلا د لويې نړۍ راز پروت وي، خو ښايي نور بيا دې اوازونو ته په ښکلا قايل نه شي. دا يوه ورکه فلسفه ده چې تر دې دمه ورته ځواب نه دى موندل شوى. ګومان مه کوئ چې تورپوستان به ښکلا په سپين پوستو کې لټوي، هغوى د ښکلا لپاره خپل تعريف لري او له يوې ځانګړې زاويې ښکلا ته په

ketabton.com - The Digital Library



ارزښت قايل دي. دا په دې مانا چې ښکلا يوازې سپين والى نه دى. د ښکلا په اړه ذوقونه هم مختلف دي او قضاوتونه هم، خو پخپله ښکلا د يو اصل په توګه په انساني ژوندانه کې منلى ارزښت دى.

انسان په فطري لحاظ په هر څه کې د ښکلا پلوى دى، ښکلا ته ميلان لري او زړه يې له ښکلا سره په اسانه سودا کوي. موږ که کور جوړوو، نو په ښکلا يې فکر کوو، موږ که نقاشي کوو، نو په ښکلا يې فکر کوو، موږ که د رسامۍ کومه تابلو جوړوو، نو په ښکلا يې فکر کوو، موږ که باغچه جوړوو، نو د ښکلا په اړه يې فکر کوو، موږ که جامې اغوندو، نو د ښکلا اصل ته يې پاملرنه لرو. لنډه دا چې انسان مدام د ښکلا په فکر کې دى او دا ارزښت د ټولو انساني ټولنو تر منځ شريک دى.

ښکلا کله په يو شي کې باندينى موجوديت لري او کله د يو شخص په ذهن کې ځاى لري. په هر صورت انسان ښکلا ته ترجيح ورکوي او د ښکلا په لټه کې دى. ښکلا کله محسوسه او د يو شي په فزيکي جوړښت کې وي، خو ډير ځله ښکلا نا محسوسه او له معنويته ښکارندويي کوي. موږ د يو غږ ښکلا په سترګو نه شو ليدلاى، خو احساسوو چې دا غږ ښکلى دى. په ادب کې هم لفظي او معنوي ښکلاوې د بحث وړ دي، په عرفان کې مينه او ښکلا ځانګړى مقام لري. صوفيان د استغراق پر مهال د ښکلا په يو ډول سمندر کې ډوب وي او ټول حواس يې د ښايست په پلوشو کې محوه او شيندلي وي.

ارواپوهان په شخصيت کې د ښکلا اصل ډير اړين ګڼي، په ګروهي ارزښتونو کې د معنوي ښکلا اصل ته ډير ارزښت ورکول کيږي. لنډه دا

ketabton.com - The Digital Library



چې ښکلا يو حقيقت دی، ښکلا ټولنيز ارزښت دی او انسان مدام د ژوندانه په تيارو کې د ښکلا په څراغ پسې قدم اخلي.

ketabton.com - The Digital Library



# ښه دوستان

ښه دوستان لرل ټولنيز ارزښت دی، هر څوک غواړي چې ډېر دوستان ولري، د هر چا لېوالتيا داده چې دوستان يې د ښو صفاتو خاوندان وي، دا فطري مسئله ده، چې هر با احساسه انسان په دوستۍ کې په همدې جوهر پسې ګرځي او په دې اړه هر څوک د خپلې رايې ځانګړې نړۍ لري. موږ او تاسې هر يو دا هيله لرو، چې له خپلو دوستانو سره ښه راشه درشه ولرو او هر يو په پنځو کسانو کې حساب شو.
د دوستۍ فصل د زړه په کرونده کې وده کوي او د مينې، خلوص او عاطفې له چينې خړوبه کېږي. د دوست په پيدا کولو او د دوستۍ سلسلې په جوړولو کې دوه اصله په پام کې نيول په کار دي، لومړی دا چې څنګه ښه دوست پيدا کړو او بله دا چې څنګه په ځان کې د اخلاقو هغه جوهر وپنځوو چې له امله يې با احساسه خلک موږ په دوستۍ ومني.
دويم اصل تر لومړي ډېر مهم او اړين دی، که موږ د خپل شخصيت د علمي او اخلاقي تشخص ماڼۍ ودانه کړه، که موږ د ځان جوړونې اصل خپل کړ، که موږ د لوړښې او عاطفې له قافلې سره قدم واخيست او که موږ د نورو د درناوي لپاره په ځان کې صفات پيدا کړل، نو بويه چې د دې مزل جوګه يو.

ketabton.com - The Digital Library



دا کار د قاف له غرونو د ښاپېريو راوستل نه دي او نه د شېرينۍ لپاره د فرهاد غر سوري کول، دا لاره ډېره اسانه او ارزانه ده او دې مقام ته رسېدل لږه خواري او لږ زحمت غواړي. ښايي ستاسې څو خوږې خبرې د دې لامل شي، چې د ښو دوستانو د لړلو تاج درپه سر کړي. ښايي ستاسې يوه وړه صادقانه مرسته تاسې ته د دوستۍ د ښار دروازه پرانيزي. ښايي ستاسې يوه وړه تحفه د بل په زړه کې د ملګرتيا ماڼۍ اباده کړي. ښايي تاسې يو کس ته د يو تازه ګلاب په ورکړې د هغه زړه خپل کړئ.

په ياد مې دي کله چې زه له نن نه اته ويشت کاله وړاندې په عمرالثاني لېسه کې په نهم ټولګي کې وم، د ماسپښين له خوا په ښوونځي کې د رياضي کورس جوړ شو، ما پکې داخله وکړه، له څو ورځې درس وروسته استاد په ناڅاپي ډول د ارزونې په نيت يو سوال زده کوونکو ته وړاندې کړ او ازموينه يې واخيسته، په سبا چې استاد صنف ته راغی موږ ټول د خپل ځواب په اړه انديښمن وو، استاد زموږ د هڅونې په اړه ډېرې خبرې وکړې او داسې يې انځوروله چې زموږ ورتيا او استعداد کمزوری دی، دا وخت يې وويل: يوازې د يو کس ځواب سم و، چې ما ورته يو قلم په تحفه کې راوړی. د هر يو زړه په درزا و، نه پوهېدو چې اوس به په چا غږ کېږي، شېبه پس استاد زه پورته کړم او په ټولګي کې يې راته يو ((خودرنګ)) قلم تحفه راکړ. اوس زما د هغه مهال د کمو استادانو نومونه په ياد دي، خو د هغه استاد (حفيظ الله خان) نوم مې نه هېرېږي، چې قلم يې راته تحفه کړی و.

ويلای شو چې تحفه د دوست موندنې اغېزمن هنر دی.

ketabton.com - The Digital Library



ګومان مه کوئ چې تاسې به د دوستۍ لپاره کومه فرښته پيدا کړئ، انسان نيمګړی دی، که مو له چا سره د دوستۍ تار پيدا شو په نيمګړتياوو يې سترګې پټې کړئ او په شخصيت کې يې د تجربو، اخلاقي سپېڅلتيا، پوهې او عاطفي جوهر ولټوئ. که تاسې ته د يو دوست لس عيبونه درمعلوم شول، مانا داده چې هغه په سلو کې نوي ښه صفتونه هم لري. پر دوست صادقانه باور وکړئ، په يو ټاکلي چوکاټ کې ورسره دوستي وپالئ او د سفر دغه بېړۍ د افراط او تفريط له توپانه وژغورئ.
له دوست سره د دوستۍ پاللو بل هنر دادی چې په جنجالي او لاينحلو مسايلو ورسره بحث او خبرې مه کوئ، داسې موضوعات په شبېه کې ستاسې د کلونو دوستي زيانمولای او په سپين ميدان مو پرېښودلای شي. د دوستانو نظرياتو، تصاميمو او رايې ته درناوی ولرئ، که مو ورسره توافق نه درلود دا ښېله خبره ده، که يې د خپلو تصاميمو په اړه درنه مشوره وغوښته د فکر او تعقل په رڼا کې ورته خپله رايه وړاندې کړئ او هڅه مه کوئ چې هرو مرو دې ستاسې خبره ومني، پر دوستانو خپل نظريات تحميلول دوستۍ ته زيان رسوي او په زړونو کې د دوستۍ له کرلي ګله روح اخلي.
د خپلو دوستانو رښتينې خدمت وکړئ، پر هغوی د خپل کړي خدمت احسان مه باروئ او د خدمت بدله ترې مه غواړئ، بيا تاسې وګورئ چې په لنډه موده کې د دوستانو په زړونو کې کوم مقام خپلوئ او تاسې ته د هغوی له خوا څومره عزت درکول کېږي. تاسې چې د دوستانو په محفل کې څومره

ketabton.com - The Digital Library



ځان کشر ثابتوئ هغومره مو لويي او سترتوب ثابتېږي، د کار پر مهال په لومړۍ ليکه کې شئ او د امتياز پر مهال نورو ته شملې وتړئ.

يو بل اصل هم د پام وړ دی او هغه دا چې پر خپلو دوستانو د هغوی له وسې زيات بار مه ږدئ، که تاسې د هغوی مرستې ته اړتيا لرئ، نو د هغوی امکاناتو ته وګورئ، هغوی په دې مه مجبوره کوئ چې ستاسې لپاره کچکول تر غاړې او بل ته د سوال لاس ونيسي. يوه ناکامه تجربه دا هم ده چې د خپل دوست قرض مه ځنډوئ او په لازم فرصت کې يې ور ادا کړئ، په دې اړه بې پروايي د ډېرو ښو دوستانو تر منځ د پرېکون لامل شوي او تجربو ثابته کړې، چې د معنوياتو په منځ کې مادياتو مدام اوښتون او انقلاب ته لاره هواره کړې. تاسې هڅه وکړئ دوستي مو د معنوياتو لپاره او تر مادي هغو لوړه او با ارزښته وي.

تاسې چې کوم صفتونه له خپله دوسته غواړئ، وګورئ چې د شخصيت نړۍ مو دغه رنګيني لري او که نه، ځکه چې شړۍ ته څوک د ورېښمو پيوند نه اچوي.

نيوټن وايي: (( که ته په خپلو کارونو قضاوت وکړې، د نورو قضاوت ته به اړتيا ونه لرې))

د دوستانو موندل هنر دی، خو پالل يې حکمت. په دې هيله چې ځان د نورو د دوستۍ جوګه او خپل دوستان ښه وپالو.

ketabton.com - The Digital Library



# پوښاک

د هرې ټولنې خلک د هغوی له فرهنګ او کلتوره پېژندل کېږي، پوښاک یا لباس د ټولنې کلتوري ارزښت دی. مونږ که یو کس په غربي لباس کې وګورو، پوهېږو چې د دې ټولنې سړی نه دی. همدا ډول که مونږ په غرب کې په خپل لباس کې ولیدل شو، خلک فکر کوي چې له بل هېواده راغلی دی. که زمونږ د ټولنې یو کس خپل کلي ته په دریشۍ کې لاړ شي، ښايي خلک ورته حیران شي او په اړه یې تعجب وکړي. په دې اړه یوه ټوکه رایاده شوه، وایي چې په کابل کې یو کس دریشي په ځان کوله، چې کله به جلال آباد ته خپل کور ته راته، نو جامې به یې په ځان کړې، د دفتر ملګرو یې ورته وویل: تاسې ولې په دریشۍ کې خپل کلي ته نه ځئ؟ هغه ورته له خندا په ډکه خوله ځواب ورکړ: «بیا راپسې د کلي سپي غاپي». نو لباس په کلتور کې د یو ارزښت او هویت په توګه مطرح دی، هندیان له ایرانیانو سره په لباس کې توپیر لري، عربان د نورې نړۍ له خلکو سره په لباس کې په توپیر کې دي، د هرې ټولنې خلک په خپل لباس کې د هوساینې او اروایي سکون احساس کوي او د بل فرهنګ جامه په تن کول ورته ستونزمنه تمامېږي.

څه ډول لباس واغوندو، په څه ډول لباس کې خلکو ته ښه ښکارو او ولې ورته ښه ښکارو؟ د دې پوښتنو د ځواب لپاره کلتور ښه هېنداره ده، هغه لباس چې ستا خلک او ولس یې اغوندي د یو ارزښت په توګه منل شوی

ketabton.com - The Digital Library



دی، په دې لباس کې نه یوازې دا چې ستا په اړه ښه قضاوت کېږي، د درناوي او عزت وړ هم يې او که دې د ټولنې د لباس له ډول نه سرغړونه وکړه، نه يوازې دا چې خلک به دې په ټولنه کې پردی او اجنبي وګڼي، بلکې د ځان قدر او درنښت به په خپله کم کړې، خلکو ته به شکونه پيدا کړې او ولس به دې له ځانه بېل وګڼي.

لباس د انسان د شخصيت په معرفي کېدا کې لومړنی اصل دی، تر هغه د يو چا د پوهې په اړه نه پوهېږو، تر څو چې د هغه خبرې وانه ورو او د فصاحت، بلاغت او ژبني منطق په اړه يې ډاډ تر لاسه نه کړو، ځکه خو وايي چې ډېرو ته تر خبرو کولو چوپتيا غوره ده، خو لباس هغه څه دی چې ته مقابل لوري ته د خپل شخصيت تصوير وړاندې کوې او د ځان په اړه هغه قضاوت ته رابولې. که په کندهار کې يو مشر سړی داسې خولۍ په سر کړي چې شيشې پکې لګېدلې وي، يا يې پر غاړه داسې ګنډه وي چې هېنداري پکې کارول شوې وي، ښايي هلته دا د ارزښت نوم وي، خو که په ننګرهار کې بيا يو مشر او سپين ږيری سړی دا کار وکړي، ښايي خلک يې په اړه سم تعبير ونه لري. په شمالي ولاياتو کې چپنه ډېره رواج ده، که په ننګرهار کې يو څوک چپنه واغوندي د ډېرو پام به ځان ته راوګرځوي او ډېر به يې په اړه بېلابېل قضاوتونه وکړي، ځکه نو لباس د هرې ټولنې د کلتوري ارزښت په توګه اړين او مهم دی.

غواړم له تاسې سره خپله خاطره شريکه کړم، زه په ۲۰۰۶ م کال کې د هند احمد اباد ښار ته په يو سيمينار کې د ګډون لپاره لاړم، له ما سره يو تن د هرات او بل د باميانو و، هغوی په دريشۍ کې وو او زه په خپل ولسي لباس

ketabton.com - The Digital Library



کې وم، په دې سيمينار کې د افغانستان، پاکستان، بنګله دېش، نيپال، سرېلانکا او هندوستان هېوادونو استازو برخه درلوده، د سيمينار په اخره ورځ يې غوښتل چې د هر هېواد يو يو کس سره ودرېږي او ګډ تصوير واخلي، زه بېرون وتلی وم، غږونه کېدل چې افغان څه شو، زموږ هراتی او باميانوال ملګري ورغلل، چې ورسره تصوير وباسي، خو اجازه يې ورنکړه. هغوی ته يې وويل: زموږ پټهان په کار دی، چې هغه له موږ سره تصوير واخلي، ځکه چې هغه په خپل ملي لباس کې دی او تاسې داسې نه ښکارئ لکه افغانان. شېبه پس چې زه راغلم، ټولو غږ کړ، هغه دی افغان راغی. زه ورسره ودرېدم او ګډ تصويرونه مو واخيستل. هراتي ملګری نذير راته وويل: ((برادر! اين مردم ما را از افغانيت کشيدند، ګفتن شما افغان نيستيد)) ورته مې وويل: دا خو د لباس برکت دی، تاسې په خپل ملي لباس کې نه ياست راغلي، نو ځکه درباندې د افغانانو ګومان نه کوي.

نو لباس د يو چا د هويت پېژندنې لپاره ډېر مهم دی او موږ چې کله هم کوم هېواد ته په سفر ځو، په کار ده خپل افغاني وياړلی لباس مو پر تن وي، دا لباس موږ نړۍ ته ورپېژني او اړتيا دې ته نه وي، چې ته په هر ځای کې هر چا ته ځان معرفي کړې. لباس د ټولنيز ارزښت په توګه په ټوله نړۍ کې منل شوی او بايد د کلتوري ارزښت په توګه وساتل شي.

ketabton.com - The Digital Library



# ښه خوی

ښه خوی او عادت ټولنيز ارزښت دی، څوک چې ښه خوی لري خلک ورسره مينه کوي او په درنه ياد يږي، څوک چې ښه خوی لري، د کامل انسان په توګه په ټولنه کې مطرح وي، قدر يې کيږي او هر سړی ورسره د دوستۍ او ملګرتيا تار ساتي. که غواړئ په خپلو دوستانو کې د مينې او محبت مقام ولرئ، نو لس خويونه په ځان کې پيدا کړئ، دا لس خويونه به تاسې ته د ډيرو ښو دوستانو د دوستۍ وياړ درپه برخه کړي، دا لس خويونه به تاسې پر خپلو دوستانو ګران کړي او دا لس خويونه به تاسې ته په خپلو دوستانو کې د امتياز او عزت شمله درپه سر کړي.

**لومړی**: د لږو خبرو کولو خوی

له ډيرو خبرو پرهيز وکړئ، له اړتيا پرته خبرې مه کوئ، ستاسې خاموشي ستاسې د شخصيت جوهر دی، د اړتيا پر مهال دومره خبرې وکړئ، چې د خپلو دوستانو د اوږو بار نه شئ، په خبرو کې د لفظي او معنوي ښکلا خيال وساتئ، خبرې په ذهن کې کره کړئ بيا يې وړاندې کړئ، خبرې ستاسې د ذهن زيرمه ده، له اړتيا پرته وربانديې لاس مه پورې کوئ. ستاسې دا چوپتيا او لږې خبرې کول به د دوستانو د زړونو دروازې پرانيزي او دوستان به مو د زړه په ماڼيو کې د منلو مېلمنو په توګه وپالي. لږې خبرې په منطق برابرې وي، ډيرې خبرې ډيرې سهوې او خطاوې لري،

ketabton.com - The Digital Library



لرې خبرې وکړئ او ډېرې واورئ. دا هنر په خپل شخصيت کې د يو خوی په توګه وپالئ او بيا وګورئ، چې دا ونه تاسې ته د برې او سرلوړئ څومره مېوه او ثمر نيسي.

**دويم**: د دوستانو پالل

خپل دوستان صادقانه وپالئ، خپلې خوشالۍ له دوستانو سره شريکې کړئ ، دا خوی په ځان کې ژوندی کړئ، چې څنګه کولای شئ د دوستانو پر زړونو حکومت وکړئ. داسې دوستان وټاکئ چې پوه وي، تجربه کار وي، د عمل خلک وي، اخلاص ولري، مينه ناک وي، د دوستۍ جوهر او اهميت ته قايل وي. دا خلک وازمايئ او بيا ورسره د دوستۍ لاره خپله کړئ، بيا ورسره د دوستۍ سفر پيل کړئ. دوستان پالل هنر دی او دا هنر به تاسې ته د ښې ملګرتيا وياړ درپه برخه کړي. ستاسې يوه له مينې ډکه موسکا او ورين تندی دوستان پاللی او تاسې ته يې د ملګرتيا وياړ بخښلی شي.

**دريم**: راز ساتل

هر انسان نيمګړتيا لري، لوی خلک د خلکو په نيمګړتياوو او عيبونو سترګې پټوي، که دوست مو درته د راز کومه خبره وکړه، يا د هغه د کميو کوم راز در معلوم شو، له ځانه سره يې وساتئ او کلی ورباندې مه خبروئ، دا د لويو اوسترو خلکو صفت دی، دا خوی د يو مهم جوهر په توګه په ځان کې وپالئ، که تاسې دا باور او اعتماد تر لاسه کړ، په ټولنه کې به د يو عزتمن شخص په توګه څرګند شئ، بيا به دوستان او کليوال پر تاسې باور

ketabton.com - The Digital Library



کوي او د خپلو زړونو د رازونو کيسې به يوازې تاسې ته کوي، تاسې کولای شئ هغوی ته سمې مشورې ورکړئ او د خطاوو له مزله يې وژغورئ. تاسې کولای شئ د يو مخلص دوست په څېر د هغوی د فکري رنځونو او نا سمو خويونو درملنه وکړئ او د حاذق طبيب او اروا پوه په څېر يې روحي ستونزو ته درمل شئ. راز ساتل خپل ځان ته د اعتماد دنيا جوړول دي، راز وساتئ چې راز مو وساتل شي.

ketabton.com - The Digital Library



**څلورم**: د نورو درناوی

په فطري ډول هر انسان غواړي چې خلک يې درناوی وکړي او له وقاره ډک ژوند ولري، هر کس غواړي چې په خلکو کې د عزت او حيثيت خاوند شي او خلک يې شخصيت ته درناوی ولري، پام مو وي چې دا اخلاقي ارزښتونه دي او هيڅوک په دې مکلف نه دي، چې ستاسې درناوی وکړي، دا کرونده به تاسې پخپله وتره کوئ او په خپله به پکې ګلان کرئ، تاسې به د نورو درناوی او عزت کوئ، هله به ستاسې درناوی او عزت کېږي، تاسې به دا ثابتوئ چې د نورو خادمان ياست، هله به خلک ستاسې درناوي او خدمت ته ورانډې کېږي او ستاسې د شرافت تر سيوري لاندې به ستاسې درناوی کوي. درناوی په زور نه غوښتل کېږي، درناوی په مادي امکاناتو پورې هم نه دی تړلی، ځينې خلک ځان ته په يو څه قايل وي او نور په دې مکلف ګڼي چې درناوی يې وکړي، دا احمقانه لاره ده. ځينې خلک د ځان په اړه داسې تعريف لري چې ((زه يو څوک يم)) دا تعريف کاملاً ماشومانه دی. راځئ! دا تعريف زده کړو چې (( هر څوک، يو څوک دی)) که مو د نورو درناوی وکړ، درناوی به مو وشي او که له خلکو مو خپل درناوی وغوښت، د عزت او درنښت له پانګې به بې برخې شئ. وګورئ چې تاسې د نورو څومره درناوی کوئ او له نورو څومره خپل درناوی غواړئ؟

**پنځم** : پر وعده وفا

ketabton.com - The Digital Library



دا خوی د سترو خلکو له خویونو څخه دی، چې پر وعده کلک ولاړ وي. پر وعده وفا ښه صفت دی، دا جوهر په ځان کې ژوندی کړئ او پر خپلو کړو وعدو وفا وکړئ. که تاسې له خپل دوست سره په کړې وعده کې پاتې راغلئ، په لوی لاس به د هغه په زړه کې د خپلې مینې جوړه شوې ماڼۍ ړنګه کړئ او د هغه د زړه له باغه به د خپل شخصیت د محبت جنازه وباسئ. دا وعده که په هره کچه وي مهمه ده. که فرضاً تاسې له خپل یو دوست سره وعده کړې، چې سبا به لس بجې یو واده ته ځئ، سبا وګورئ که تاسې په هماغه وخت هلته حاضر واست، نو په دې برخه کې ستاسې شخصیت تر خپل ملګري عالي دی، که حاضر نه واست، تاسې په دې برخه کې نیمګړتیا لرئ. که تاسې خپل موبایل خاموشه کړئ او د وعدې ځای ته ورنشئ، پوه شئ چې نور د خپل دوست سره هغه مقام نه لرئ، چې پخوا مو درلود.

په وعده ماتولو کې ډېری هغه کسان خپل شخصیت بایلي، چې تر منځ یې مالي مسایل مطرح وي، لکه چې وایي: سبا درته ستا امانت سپارم، راتلونکې جمعه دې رانه پیسې وغواړه، یوه میاشت راته وګوره او... دا هغه څه دي چې که وفا وربانده ونه شي ښایي مقابل لوری د تل لپاره ستا څېره هېره او د هغه په زړه کې د مینې کرلی فصل د کرکې ګلان ونیسي.

**شپږم** : د ناروغ پوښتنه کول

موږ او تاسې د انسانانو په توګه اخلاقي مسوولیت لرو، چې د ناروغ انسان پوښتنه وکړو، هغوی چې له تاسې سره پېژني د ناروغۍ پر بستر هره شېبه ستاسې د ورتګ شېبې شماري، پوښتنې ته یې ورشئ او په دې سره

ketabton.com - The Digital Library



خپل اسلامي او اخلاقي مسووليت تر سره کړئ، ناروغ او بندي هره شېبه د ناهيلۍ په سفر روان وي، خپل دوستان يې سترګو ته کېږي او تمه لري، چې اوس به يې څوک پوښتنې ته ورشي، پوښتنې ته يې ورشئ، د ډاډ خبرې ورته وکړئ او د ښې روغتيا دعاګانې ورباندې ولوروئ. ناروغ ته ورشئ، د ناروغ پوښتنه وکړئ، دا زموږ انساني، اخلاقي او اسلامي مکلفيت دی.

**اووم**: رښتيا ويل

هر انسان له درواغو کرکه لري او درواغجن ته په بد نظر ګوري، نو بيا ولې انسان پخپله درواغ ووايي او خپل اعتبار ته زيان ورسوي؟ تاسې چې څومره له درواغو کرکه لرئ، همدغه شان ستاسې له درواغو نور کرکه لري. ښايي يو څوک ستاسې په درواغو پوه نه شي او ستاسې درواغ رښتيا وګڼي، خو درواغ ويل ستاسې د شخصيت يوه برخه جوړېږي او بيا دا برخه له ځانه لرې کول ډېره ګرانه وي.

ځان په رښتيا ويلو عادت کړئ، دا غوره انساني صفت هم دی او اخلاقي جوهر هم، د شخصيت پانګه هم ده او د اعتماد او باور شتمني هم. رښتيا ويونکی د هر چا خوښېږي، رښتيا ويونکی ښه قضاوت کوونکی وي، رښتيا ويونکی په ټولنه کې په رښتينولۍ او صداقت مشهور وي او خلک يې د همدې صفت له امله درناوی کوي. زه داسې يو کس پېژنم چې خدای ډېر مادي امکانات ورکړي، خو په سلو کې نوي خبرې يې درواغ او ناسمې وي، هغه فکر کوي چې زه کولای شم خلک تېر باسم او په خپلې چالاکۍ پر هغه خپل شخصيت ومنم، خو له دې بې خبره دی چې دا مزل لنډ او له رسوايۍ سره مخامخ دی.

ketabton.com - The Digital Library



**اتم**: د مطالعې ذوق

د مطالعې ذوق په خپل ځان کې د یو خوی په توګه وپالئ، له کتاب سره ستاسې اشنايي به تاسې ته ډېر څه دروبخښي، مدام هڅه وکړئ د خپل وخت اوزګارې شېبې په مطالعه تېرې کړئ، که تاسې په کوم ځای کې د چا انتظار کوئ، غوره ده چې د کتاب نړۍ ته مخه کړئ او خپله اروا د کتاب د معنويت په کنارو کې وګرځوئ. په مطالعه کولو ځان عادت کړئ، په شپه او ورځ کې هرو مرو څو ساعته مطالعه وکړئ او د خپلې ذهني نړۍ معلومات پياوړي کړئ. مطالعه په ټولنه کې ستاسې علمي موقف پياوړی کوي او پر خلکو مو د يو هوښيار او باور وړ شخصيت په توګه مني. دا سفر پيلول اسانه دی، همدا نن يو کتاب پلورنځي ته ورشئ او کتاب وپېرئ، يا همدا نن يو کتابتون ته ورشئ او د خپلې مطالعې لپاره ترې کتاب په پور واخلئ. له هر کتاب لوستنې وروسته خپل ځان وارزوئ، خپله به پوه شئ چې ستاسې په شخصيت او پوهه کې څومره بدلون راغلی او ستاسې د معلوماتو نړۍ څومره پراخه شوې ده.

**نهم**: د مثبت فکر کولو عادت

د نړۍ ټول پرمختګونه له فکره سرچينه اخلي، ستاسې فکر چې څومره پراخه وي معنوي شخصيت مو هماغومره ستر او لوړ دی. مثبت فکر کول په انسان کې معنويت ژوندی کوي او انسان ته سترتوب بخښي. موږ هماغه خلک لوی انسانان ګڼو، چې لوی مثبت فکرونه کوي. تاسې به کله هم د وړوکي او منفي فکر انسان لوی نه وي ګڼلای او د لوی فکر انسانان به مو د وړو په کتار کې نه وي درولي. انساني اخلاق، غوره صفات، ښه قضاوت، د وجدان سپېڅلتيا او ټول انساني جوهرونه د مثبت فکر په فابريکه کې توليدېږي. په عرفاني او تصوفي ژوندانه کې هم فکر لوی

ketabton.com - The Digital Library



ارزښت ګڼل کېږي او صوفي چې مراقبه نه شي او د فکر نړۍ ته پناه يونسي، د وصال معراج ته نه شي پورته کېدلای. راځئ! مثبت فکر وکړو او د خپلې ټولنې او انساني ژوندانه د هوساينې لپاره د فکر له نسخې درمل جوړ کړو. ستاسې مثبت فکر ستاسې د شخصيت مثبت تصوير دی.

**لسم**: د اصلاح خوی

په ځان کې دا خوی وپالئ، چې اصلاح له ځانه پيل کړئ. تاسې که په ځان کې کومه نيمګړتيا ګورئ، فکر مه کوئ چې ستاسې شخصيت ته به يې زيان نه وي رسولی. فکر مه کوئ چې خلک به تاسې د نمګړتياوو سره سره ومني او شخصيت ته به مو درناوی ولري. ښايي ډېر ستاسې په خطاوو او نيمګړتياوو سترګې پټې کړي، خو دا د دې مانا نه لري، چې تاسې سپېڅلي ياست او د شخصيت مرغلرې ته مو تاوان نه دی رسېدلی. هڅه وکړئ دا مزل د يو ښه خوی په توګه د ځان له اصلاح پيل کړئ، بيا د نورو د اصلاح په فکر کې شئ، ستاسې دا فصل به ډېره ثمره ولري او ستاسې دا ونه به ډېره مېوه ونيسي. مدام د ځان د اصلاح په فکر کې شئ او هڅه وکړئ هغه عادت او کړنه چې ستاسې شخصيت ته زيان رسوي له ځانه لرې کړئ. دا خوی په ځان کې وپالئ او د دې خوی د لارې لارويان شئ.

ketabton.com - The Digital Library



## مسوولیت پېژندنه

مسوولیت پېژندنه ټولنیز ارزښت دی. ډېری کسان له مسوولیته تېښته کوي، مسوولیت نه مني او که چېرې په یوه موضوع کې پړ یا پاتې راشي، نو په اسانه خپل مسوولیت ته غاړه نه ږدي. ډېر ځله داسې وشي، چې موږ خپلې سهوې او خطاوې چې باید په اړه یې بخښنه وغواړو او مسوولیت یې ومنو له خلکو پټوو او ځان ته برائت ورکوو. ډېر ځله داسې کېږي، چې خپله پړه د نورو پر اوږو اچوو او د مسوولیت له حلقې سر باسو. دا ښه کړنه نه ده او موږ هر یو باید لومړی خپل مسوولیت درک کړو او د خپل مسوولیت په اړه که پاتې راځو باید پر خپلې سهوې او خطا اعتراف وکړو.

له مسوولیته تېښته زموږ ګناه نه شي معاف کولای، موږ ته برائت نه شي راکولای او موږ نه شي سپینولای، موږ باید په دې اړه د خپل تفکر لوری بدل کړو او له مسوولیته د تېښتې پر ځای مسوولیت ومنو. مسوولیت منل په دې مانا نه دي چې موږ دې مدام ځان پړ او ملامت ثابت کړو، مسوولیت منل د ارزښتونو سم درک او په اړه یې د ژمنتیا له مخې کړنه تر سره کول دي، زموږ ډېری سهوې له دې امله دي چې موږ خپل مسوولیتونه سم نه دي درک کړي او د ناکامیو پر مهال مو مدام د تېښتې له هنره کار اخیستی. که موږ پر خپل مخ له مسوولیته د فرار دروازې وتړلې بیا له مسوولیته د تېښتې د فکر پر ځای د مسوولیت د درک په اړه ښه قضاوت

ketabton.com - The Digital Library



کولای شو، بیا مسوولیت پېژنو او ځان به په دې قانع کولای شو چې څه باید وکړو او خپلې چارې څنګه پر مخ یوسو.

تاسې د محاکمو دیوانونه پرانیزئ، تاسې ځارنوالیو ته ورشئ او د مجرمانو دوسیې وګورئ، تاسې د پولیسو په ماموریتونو کې د تورنو کسانو خبرې واورئ، درته به معلومه شي چې هر یو یې له مسوولیته تېښته کوي او خپله پړه نه مني، یا خپله پړه پر نورو اچوي. دا تګلاره که څه هم د یو شخص جرم نه شي کمولای او نه ورسره په مرسته تعبیرېدای شي، بلکې لا ډېرې ستونزې ورته پیدا کوي او د حقایقو د پلټنې بهیر له خنډونو سره مخامخ کوي. کله چې له مسوولیته تېښته د انسان په وجود کې د خوی او عادت په توګه ځاله جوړه کړي، بیا نو د بغاوت، سرکشیو او قانون ماتونې داسې انسان ترې جوړ شي چې هېڅکله خپل مسوولیت نه مني او د مسوولیت نه د فرار په لاره کې ډول ډول منطق او دلایل وړاندې کوي.

د مسوولیت نه منل ډېرې ستونزې لري، یو دا چې موږ په هر ځای کې کار کوو او د هرې ادارې کار کوونکي یوو، چارې به مو په سمه توګه نه ترسره کېږي او وارد مخه به له موږ سره دا پرېکړه وي، چې که ښوک یې په اړه راځخه پوښتي، نو موږ به له مسوولیته د فرار درواغجنه پلمه د هغوی مخې ته ږدو او په دې وزرو به د مسوولیت له کېسه الوزو. دا روحیه په موږ کې یو ډول جرئت روزي، چې بیا په شخصیت کې د منفي اثر په توګه زموږ په وجود کې ځای نیسي او مدام موږ د مسوولیت له اصله فرار ته هڅوي. دویم دا چې کله خپل مسوولیت ونه پېژنو په خپله دنده کې یو بریالی

ketabton.com - The Digital Library



کارکوونکی نه یوو، یوازې د ادارې چوکۍ رابانديې بنده ده او د ادارې د پرمختګ په لاره کې لوی خنډ یوو.

دریم دا چې که خپل مسوولیت نه منو او د خپلو ناکامیو په اړه د مسوولیت احساس نه کوو، نو حتمي ده چې خپله پړه به پر نورو اچوو او له دې سره به یو داسې کس ګرم او پړ ګڼو، چې اصلاً په دې برخه کې هیڅ مسوول او ملامت نه دی.

په رواني لحاظ دا خوی شخصیت ته د بدو پایلو په مانا دی، دا فکر په هغو خلکو کې غښتلی وي، چې قانون ماتوي او د خپلو ناسمو کړنو لپاره پلمې جوړوي، دا فکر انسان د اعتماد له نړۍ بې برخې کوي او د ښو صفاتو باور ترې اخلي.

نو په کار ده موږ خپل مسوولیت درک کړو او د خپل مسوولیت د منلو زغم ولرو.

ketabton.com - The Digital Library



## مطالعه

مطالعه د ذهن د تمرين لپاره ښه وسيله ده، پوهه او معلومات دمطالعې جوهر دی، هغوی چې مطالعه لري خبرې يې په منطق برابرې وي، هغوی چې له کتاب سره تړلي دي په ډېر څه پوهېږي. له مطالعې سره د انسان په ذهن کې معنوي پانګه زياتېږي، د فکر ماشين په حرکت راځي او د تعقل حکمت د انسان په فکري نړۍ کې کور جوړوي.

که غواړئ چې د فصاحت او بلاغت خواږه مو نصيب شي، د مطالعې ملګرتيا مه پرېږدئ. که غواړئ خبرې مو وزن او درنښت ولري، د مطالعې کتاب ته د خپل ذهن په کتابتون کې ځای ورکړئ. که غواړئ د معلوماتو نړۍ مو ارته او پراخه شي د مطالعې سندره زده کړئ. ځکه چې مطالعه ټولنيز ارزښت دی او دا ارزښت خپلول زموږ دنده ده.

**اناتول فرانس** وايي: «پوهه هغه کيلي ده، چې ټولې دروازې ورباندې پرانيستل کېږي»

هغوی چې مطالعه لري، تر نورو ښه پوهېږي او ښه قضاوت کولای شي. مطالعه تاسي سرلوړي کوي او په ټولنه کې درته د محبوبيت تاج په سروي. په مجلس کې د هغه چا خبره ډېره اغېزمنه وي، چې مطالعه لري. هغه کس پر خلکو ډېر ګران وي، چې خبرې يې د مطالعې له منطقه الهام اخلي. د هغه چا په خبره ډېر باور کېږي، چې دلايل يې پر مطالعه ولاړ وي. له

ketabton.com - The Digital Library



مطالعې پرته پر يوې موضوع بحث کول او خپل نظر وړاندې کول د لېوني له نظر سره توپير نه لري او د عقل خاوندان وړاندې باور نه کوي.

مطالعه کول د شخصيت جوړونې په اړه ډېره مهمه او اړينه ده، که غواړئ په ټولنه کې معنوي شخصيت ولرئ، مطالعه وکړئ. که غواړئ شخصيت مو د عزت او درناوي وړ وګرځي، په مسلسله توګه ځان له کتاب او مطالعې سره وتړئ. که غواړئ چې د عزت شمله درپه سر شي، د مطالعې د پير مريدان شئ. له مطالعې سره به ستاسې وخت ارزښتمن شي، له ذهنه به مو د عبثو سوچونو دېوان کډه وکړي، روح او اروا به مو د تسکين او ډاډ نړۍ ته پناه يوسي او په شخصيت کې به مو يو ډول مانيز قوت وده وکړي.

هغوی چې مطالعه لري ويښ او بېدار وي، هغوی چې مطالعه لري، تر نورو غاړه هسکه وړي، هغوی چې مطالعه لري تر نورو پر خپل نفس ډېر باور لري. مطالعه تاسې پر ځان باوري کوي او د يو ډول اخلاقي جرئت، بسياينې او قناعت خواږه در په برخه کوي.

مطالعه د فکر فانوس دی، مطالعه د تفکر ډيوه ده، د استعداد او وړتيا مېوه د مطالعې له ونې تر لاسه کېږي، د الفاظو او مانا مرغلرې د مطالعې په سمندر کې موندل کېږي او انسان ته د اعزاز او اکرام خرقه د مطالعې په کور کې په تن کېږي.

مطالعه د انسان له ذهنه د منفي فکر تياري لرې کوي او د مثبت تفکر لور ته يې رابولي. مطالعه ذهني ستړيا ته ښه نسخه ده، که تاسې د يو کتاب شل مخه ولوستل، پخپله به دا درک کړئ چې ذهن مو له تاسې د ځومره

ketabton.com - The Digital Library



هوسا يني، سکون او خوشالۍ احساس کوي. که تاسې د يو کتاب څو مخه د ژور فکر له مخې ولوستل او څو شېبې د مطالعې تل ته ښکته شوئ، بيا به وګورئ چې په تاسې کې څومره مانيز بدلون راغلی دی. که مو يو کتاب ولوست، ګومان مه کوئ چې تاسې هغه پخوانی شخص ياست، اوس ستاسې معلومات پراخه شوي او ذهن مو تر پخوا ډېر څه خپل کړي دي. د هر کتاب لوستنه به ستاسې شخصيت بدل کړي او په پوهه او علميت کې به مو لوی مثبت بدلون راشي.

هر انسان هغومره ستر او لوی دی، څومره يې چې د مطالعې نړۍ پراخه ده، لکه يو شتمن چې ډېره مادي پانګه ولري لوی شتمن بلل کېږي، همدا ډول عالم او دانا شخص د خپلې معنوي پانګې(پوهې) له مخې ستر او لوی شخص وي. څه فکر کوئ دا پانګه له مطالعې پرته تر لاسه کېدای شي؟ تاسې داسې عالم ليدلی چې له مطالعې پرته عالم شوی وي؟ داسې څوک پېژنئ چې مطالعه نه لري او خبرې او معلومات يې په منطق او علمي معيار برابر وي؟ دا ناشوني ده چې له مطالعې پرته دې يو څوک د شخصيت دغه ستر توب تر لاسه کړي.

د امريکا نامتو ليکوال **بريان ترېسي** وايي: «که تاسې د ورځې له نيم ساعت څخه تر يو ساعته مطالعه وکړئ، نو په اوونۍ کې به مو يو کتاب لوستلی وي، په مياشت کې به مو څلور کتابه او په کال کې به مو تر پنځوسو کتابونو لوستلي وي، چې په لسو کلونو کې به دغه شمېر پنځه سوه کتابه شي» دغه ليکوال وايي: «هغه کسان چې په خپلو موټرونو کې ډېر ګرځي، بايد موټر د مطالعې د ماشين په توګه وکاروي، په موټر کې

ketabton.com - The Digital Library



علمي شيان واوري او له دې لارې خپل ذهن ته ډېر څه وسپاري». ترايسي زياتوي چې هر موټر لرونکی که په خپل موټر کې په مسلسله توګه د علمي مسايلو غږيز پروګرامونه واوري، دوی به په کال کې له پنځه سوه تر زرو ساعتونو پورې مطالعه کړې وي.

هو! که غواړو چې په ټولنه کې اغېزمن شخصيت ولرو، نو د خپل مسلک په اړه بايد د مطالعې لاره ونيسو، کولای شو په خپلو کورونو کې د ټيپ يا کمپيوټر نه په ګټه اخيستنې داسې څه واورو، چې زموږ مطالعه غښتلې کړي او موږ ته د معلوماتو د ښار «ور» پرانيزي.

د مطالعې لپاره بله ښه لاره داده، چې موږ په غونډو، سيمينارونو او ورکشاپونو کې برخه واخلو او د نورو له تجربو خپل ذهن ته ډېر څه خپل کړو، دا هم يو ډول مطالعه ده چې موږ يې په اسانه تر سره کولای شو.

زه ډېر شتمن خلک پېژنم چې دمطالعې په نوم هېڅ هم نه لري، معلومات يې کمزوري وي او په علمي محافلو کې د کمترۍ او بېوسۍ احساس د دې اجازه نه ورکوي چې څه ووايي. زه د دولتي ادارو ډېر داسې مامورين پېژنم، چې په دفتر کې ټک کار هم نه لري، سهار چې حاضري لاسليک کړي، تر مازيګره يې د يوې روپۍ ګټه دولت ته نه وي رسېدلې او نه کومه داسې بوختيا لري، چې هغه ورباندې مصروفه شوې وي، خو بيا هم مطالعه نه کوي او نه يې چا په لاس کې کومه ورځ کتاب ليدلی وي.

مطالعه پر غره ختل نه دي، مطالعه د ذقومو ښنل هم نه دي، مطالعه کوم داسې څه نه دی، چې تر سره کول يې انسان ته ستونزمن وي. راځئ! همدا

ketabton.com - The Digital Library



نن ژمنه وکړئ چې مطالعه پيلوو او هره ورځ د يو کتاب لس مخه لولو، که تاسې دا تمرين پيل کړ، باور لرم چې د هرې ورځې په تېرېدو سره به يو ډول سکون او خوشالي احساس کړئ او هره ورځ به مو په لوستل شويو پاڼو کې زياتوالی راشي. دا تمرين دی، په لومړۍ ورځ چې مو څومره وسه وه هماغومره ولولئ. په دويمه ورځ بيا هڅه وکړئ يو يا دوه مخه زيات ولولئ، په پوره باور سره ويلای شم چې که تاسې درې مياشتې په مسلسله توګه دې کار ته دوام ورکړ بيا به د مطالعې په خوند پوه شئ، بيا به مو له کتاب پرته وخت نه تېرېږي او د سفر پر مهال به هرومرو يو شمېر کتابونه د مطالعې لپاره له ځانه سره اخلئ.

تاسې ښايي ډېر لوی خلک وپېژنئ، ښايي له پوهانو، عالمانو او د بصيرت له خاوندانو سره مو دوستي او ملګرتيا وي، د هغوی کمال همدا دی چې مطالعه کوي او د ذهن نړۍ ته څه سپاري، که موږ د ذهن نړۍ ته څه وسپارل د توليد دغه فابريکه بېرته موږ ته خپل توليد راکوي او موږ سرلوړي کوي، لکه يوه فابريکه چې د توليد لپاره خامو موادو ته اړتيا لري همدا ډول زموږ ذهنونه مطالعې او معلوماتو ته اړتيا لري، ذهن ته چې څه وسپارو، نو څه به راکړي او څه به توليد کړي، چې څه ونه سپارو له دې ذهنه بيا د توليد تمه مه لرئ او ژر ده چې دا ماشين په ټپه ودرېږي.

د عظيم الشان قرآن لومړنۍ وحې د «اقراء» يانې ولوله په کلمه پيل شوې ده، په دې کلمه کې دا حکمت پروت دی چې انسان بايد پوهه له لوستنې تر لاسه کړي، انسان بايد ولولي او د لوستلو له لارې زده کړه وکړي. دا د مطالعې د حکمت په اړه ستر منصوصي دليل دی.

ketabton.com - The Digital Library



د چين ستر عالم کنفيسيوس وايي: ((زرګونه کيلومتره سفر له يوه ګامه پيل کېږي))

نو راځئ! دا سفر همدا نن پيل کړو، همدا نن ژمنه وکړو چې د مطالعې جوهر خپلوو او له دې قافلې سره د اوږده مزل لپاره تياری نيسو. همدا نن يو ګام پورته کوو، يو کتاب پرانيزو او د مطالعې په کرونده کې قدم اخلو. دا عزم اسانه دی او په اسانه موږ د خپل هدف مقام ته رسولی شي.

ketabton.com - The Digital Library



# مېلمه پالنه

مېلمه پالنه زموږ د افغاني ټولنې ټولنيز ارزښت دی، دا ارزښت د پښتني ارزښتونو تر ټولو غوره ارزښت هم ګڼل کېږي. پښتانه مېلمه ته خوشالېږي او مېلمه د خدای ج دوست ګڼي. د مېلمه پالنې په اصل کې د مينې، انسان دوستی، هيومنېزم، ملګرتيا او خلوص فلسفه پټه ده. پښتانه د خپل مېلمه ډېر عزت کوي، د مېلمه درناوی کوي او ټوله پاملرنه يې دې ته وي، چې مېلمه بې قدره او خپه نه شي.

د پښتنو د حجرو او ډېرو کلتور د همدې ارزښت روښانه تصوير دی، په کليو او بانډو کې اوس هم حجرې شته او د مېلمه پالنې اصل ته پوره پاملرنه کېږي. کليوال دا وياړ ګڼي چې کلي ته راغلی مسافر، لاروی، يا کوم بزار او بوغان مېلمه کړي او د خدای ج د دوستانو (مېلمنو) د مېلمه پالنې وياړ ورپه برخه شي. هغوی دا خبره عيب ګڼي چې څوک ورته ووايي ستاسې له کلي مسافر وږی لاړ، يا چا شپه ورنکړه.

زما يو دوست کيسه کوله يو غربي پوځي ورته ويلي وو، چې ستاسې دوه کلتوره مې ډېر خوښېږي، يو مېلمه پالنه او بل په سترې مشي کې يو بل ته غېږه ورکول. هغه ويل چې پښتانه مېلمه ته خوشالېږي، د مېلمه درناوی کوي او کله چې سترې مشي کوي، نو غېږه ورکوي، چې په غېږه ورکولو کې يو بل ته زښت زيات خلوص او درناوی څرګندېږي او دا فرهنګ په تاسې پښتنو کې ډېر غښتلی دی.

ketabton.com - The Digital Library



موږ د پر ارزښتونه لرو چې پښتونولي يې بولو، لکه غيرت، مېړانه، حيا، همت، سخاوت، دوستپالنه، د تور سرو درناوی، د مظلوم نه دفاع، يو چا ته پناه ورکول، جرګه او داسې نور، خو مېلمه پالنه پکې په نړيواله کچه شهرت لري او پښتانه مېلمه پال او مېلمه دوست ياد يږي.

پښتانه نه يوازې دا چې د مېلمه قدر کوي، مېلمه پالنه خپله وجيبه او فرض ګڼي، مېلمه پالنه خپل پښتني اصل ګڼي، مېلمه پالنه د پښتني فرهنګ جوهر ګڼي. هر پښتون مېلمه ته هغه څه د خوراک لپاره برابروي چې په وس يې پوره وي، خو په ورين تندي يې د مېلمه مخې ته ږدي او مېلمه ته د خپل زړه د خلوص دروازه پرانيزي.

د مېلمه پالنې اصل ټولنيزه ګټه داده چې انساني اړيکې ورسره غښتلې کېږي، د دوستۍ روابط پراختيا مومي او انساني راشه- درشه د اړيکو پر مراندو ترل کېږي. د مېلمه پالنې جوهر نه يوازې دا چې مېلمه پاله کورنۍ درنه او عزتمنه معرفي کوي، بلکې له زړونو کرکې او نفرتونه باسي او د صميميت او محبت پسرلي ته ځای ورکوي. مېلمه پالنه زموږ د ټولنې تر ټولو غوره ټولنيز ارزښت دی او بايد دغه ارزښت وپالل شي.

ketabton.com - The Digital Library



## مينه و محبت

مينه، پر زړونو حکومت کول او په هر زړه کې ځانه ته کور جوړول دي او دا ټولنيز ارزښت دی. هر کس دې ته لېواله دی چې د خلکو په زړونو کې ځای ولري، خلک ورسره مينه وکړي او ټولنه ورته په درنښت او اهميت قايله شي. دې موخې ته سړی څنګه رسېدلای شي او کومې لارې چارې دي، چې يو کس د بل په زړه کې د مينې کور جوړوي؟

مينه ده چې د هر زړه دروازه ټکوي او پکې ځان ته کور جوړوي، مينه ټولنيز ارزښت او د انساني ژوندانه جوهر دی، مينه هغه ښايستونه او ښکلاګانې وېشي، چې بها او قيمت يې نه شي ټاکل کېدای، مينه هغه مرغلره ده، چې هر سړی يې پېر ته تيار دی. که موږ د خپل زړه په کرونده کې مينه وکرله د هر چا زړه به مو په اسانه لاس ته راوړی وي. تاسې په خپل سوچ کې هغه کس راولئ، چې تاسې ته ډېر ګران دی، وبه ګورئ چې د هغه شخصيت له مينې کيسه کوي، بيا هغه کس ذهن ته راولئ چې تاسې يې ښه نه ګڼئ، وبه ګورئ چې دويم کس د مينې جوهر نه لري. بايد هڅه وشي د خپل شخصيت له نړۍ کرکې وباسو او مينې ته پکې ځای ورکړو، بايد هڅه وشي چې مينه د خپل شخصيت د يوې اغېزمنې برخې په توګه په ځان کې وپالو او دې ارزښت ته وده ورکړو، مينه پر زړونو د حکومت کولو کيلي ده. ويليم شکسپير وايي:

ketabton.com - The Digital Library



‘’ Love looks not with the eyes, but with the mind.”

ياني مينه په سترګو نه ښکاري، بلکې په ذهن سره ليدل کېږي. د کرکې د توپان مخه په مينه نيول کېږي، په خپل شخصيت کې د مينې ډيوه بله کړئ او نورو ته ترې رڼا وويشئ، تر مينې د زړونو لاسته راوړلو ښه وسيله نه شته. مينه د انسان شخصيت درنوي او د عزت مقام وربخښي. تاسې چې له خلکو سره ځومره مينه لرئ، په هماغه کچه تاسې د هغوی په زړونو کې ځای لرئ.

د نورو د مينې پر وړاندې مينه کول په دې مانا دي، چې تاسې د هغوی پور ور ادا کړ، خو د نورو د کرکې پر وړاندې که مو مينه وکړه، نو تاسې خپل اخلاقي مسووليت تر سره کړ او مقابل شخص مو په دې وپوهاوه چې تاسې هغه ته د مينې حکمت او فلسفه وړاندې کوئ.

يوه خوږه خبره د انسان اروا ته سکون او آرام بخښي، خو په مقابل کې يوه ترخه خبره انسان په هيجان راولي. د اسلام په مبارک دين کې موسکا صدقه ګڼل شوې او دا د سخاوت هغه چينه ده، چې د ډېرو د محبت تنده ورباندې ماتېدای شي. مينه د انسان معنوي ښکلا ده، مينه د انسان په شخصيت کې هغه پټ جوهر دی چې په الفاظو، حرکاتو او افعالو کې څرګندېدای شي. مينه د بشرپالنې او بشر دوستۍ ښکارندويي کوي او مينه ناک انسان د يو غوره انسان په توګه پر ټولنه مني.

مينه تاسې ته ځوک نه شي ډالۍ کولای او نه کوم داسې روزنتون شته چې هلته د مينې روحيه وپالل شي، د مينې ښاپېرۍ پکې ستره شي او بيا ورسره تاسې د خپل ژوندانه لاره يوه کړئ. مينه به تاسې په خپل وجود کې

ketabton.com - The Digital Library



پېدا کوئ، پخپله به يې روزئ او د خپل شخصيت په لويه نړۍ کې به ورته ځاى ورکوئ. نور تاسې ته مينه نه شي درکولای او په دې فکر کې هم نه شئ، چې نور به مينه درکوي، بلکې تاسې به نورو ته مينه ورکوئ او د دې سخاوت سرخان به تاسې ياست.

دا ګومان مه کوئ چې هر انسان دې د دې مکتب زده کوونکى وي، بلکې تاسې نورو ته دا په اثبات ورسوئ چې دمينې په نړۍ کې مو امتياز په برخه دی او هر هغه څه چې نورو ته يې وړاندې کوئ، ستاسې د مينې او محبت سوغات دی. دې اصل ته د يو فرهنګ په توګه کارکول په کار دي، دا اصل بايد په ټولنه کې عام شي. دا تهذيب دی، اخلاق همدا دي او اخلاقي زينت همدې ته وايي. مينه په عمر پورې نه ده تړلې، دا طلايي مرغۍ په هر عمر کې خپلولای شئ، دا لويه شتمني هر وخت ستاسې په لاسونو کې ده، دا عزت هر وخت ستاسې په برخه دی.

که مو ماشومان د مينې په حکمت پوه کړل او د مينې کيسې مو ورزده کړې تاسې په خپلو لاسونو د بشرپالنې د يو مکتب ډبره کېښودله. دا جاريه صدقه به تاسې ته ډېر څه په برخه او ستاسې د ماشومانو راتلونکې به له ښايستونو ډکه کړي. دا به د يوې مهذبې ټولنې د جوړېدا هڅه وي، دا به داخلاقياتو د قافلې جوړول وي، دا به د ټولنيزو ارزښتونو لپاره اساس وي. ځکه چې ماشوم زده کړې ته اړتيا لري او په کار ده د هغه ذهن ته د مينې او محبت رڼا لار پيدا کړي. راځئ! د مينې د حکمت فلسفه ولولو او په ځانونو کې دغه هستي وپنځوو.

ketabton.com - The Digital Library



## نسب و منصب

زموږ په ټولنه کې د نسب او منصب مسئله خورا د پام وړ ده، دا دواړه توکي د ټولنيزو ارزښتونو په توګه مطرح دي. له شک پرته چې د اسلام مبارک دين نسب او منصب ته اعتبار نه ورکوي، بلکې د انسان جوهر په تقوا او پرهېزګارۍ، ديانت او ښو اخلاقو کې ټاکي، خو په کلتوري ټولنو کې يو شمېر ارزښتونه وي، چې په خلکو کې يې د درنښت ځای او مقام خپل کړی او ولس ورته په يو څه قايل وي، چې له هغو څخه يو هم د نسب او بله د منصب مسئله ده.

دلته دا خبره عامه ده چې فلانی د کوم نسب سړی دی؟ فلانی نسبي دی که نه؟ يا دا چې فلانی د کوم خاندان سړی دی، له دې ټولو موخه او هدف دا وي، چې فلانی کوم قوم ته منسوب دی؟ ايا په قومي لحاظ ياد سړی دی که نه؟ د قوميت په لحاظ په خلکو کې ځای لري که څنګه؟ د نسب سلسله يې څه ده او په ټولنه کې په نسبي لحاظ کوم وزن او تول لري؟

د نسب دا بحث بيا په ټولنه کې په دوه برخو وېشل شوی دی، يو ستانه قومونه او نسبونه دي، لکه سيدان(پاچايان)، مياګان، اخندزادګان، ميران، ملايان، شېخان، اغاګان، مجدديان، صاحبزادګان او... خلک دوی ته د ستانه په نوم درناوی لري، خلک د دې لپاره د دوی درناوی کوي، چې دا تر ډېره بې ازاره خلک دي، له دين او روحانيت سره تړلي دي، په ټولنه

ketabton.com - The Digital Library



کې د خلکو د خير لپاره غړ پورته کوي، خپلې جامې او نسب ته په کتو داسې کار نه کوي، چې د ده قومي ارزښت ته زيان ورسي او د قام سپکاوی يې وګڼل شي، د يادو نسبونو له ډلې سيدانو ته په دې هم درناوی کېږي، چې د رسول الله(ص) اولاده ده.

بله ډله د قومي غښتلتيا او اجتماعي نفوذ په اعتبار قومونه دي، چې د هېواد په ټولنيزو، سياسي او اقتصادي مسايلو کې ډېر مطرح دي، لکه احمدزي، ځدران، منګل، خوګياڼي، شينواري، مومند، پشه يان، جبارخېل، دستوخېل، تره خېل، مشواڼي، سالارزي، عرب، ازبک، هزاره، ترکمن او داسې نور. د نسب له مخې د خانانو او ملکانو هم درناوی کېږي، خلک ورته په احترام قايل دي او خبره يې منل کېږي او اورېدل کېږي.

زموږ په ټولنه کې قومي اعتبار د ټولنيزو ارزښتونو په توګه ځای لري او خلک دې اصل ته ډېر ګوري، ان تر دې چې که څوک له چا سره خپلولي کوي، نو لومړنۍ پلټنه به يې دا وي چې پوه شي مقابل لوری په کوم قوم او نسب پورې تړاو لري. دا د يو چا د هويت پېژندنې لپاره خورا مهمه ده، د قوم او نسب له معلومېدا وروسته يې بيا په منصب فکر کېږي، که څه هم په ښارياتو کې دا خبره لږه وړاندې وروسته ده، په ښار کې تر ډېره منصب او شتمنۍ ته اهميت ورکول کېږي او بيا ورپسې د نسب خبره وي، خو په هر صورت نسب او منصب دواړه هغه څه دي، چې په ټولنه کې ارزښت لري.

له شک پرته زموږ په ټولنه کې د منصب د خاوندانو ډېر درناوی کېږي او دغه موضوع د ټولنيز ارزښت په توګه مطرح ده. له وړوکي منصبدار نيولې تر لويه ټول هغه څوک دي، چې خلک يې قدر کوي او يا کم تر کمه په ښو

ketabton.com - The Digital Library



نومونو يادېږي، لکه مامورصاحب، مدير صاحب، امر صېب، معلم صاحب، ډاکټر صاحب، انجنير صاحب، ولسوال صاحب، والي صاحب، قومندان صاحب، رئيس صاحب، وزير صاحب او دې ته ورته منصبونه هغه څه دي، چې له ډېر پخوا په دې ټولنه کې مروج او د درنښت ځای لري.

په دې اړه ما ته يوه کيسه را ياده شوه، زموږ يو کليوال جان سيد نومېده، الله ج دې يې وبخښي[ما ليدلی و] هغه په کلي کې په ظابط مشور و. وايي کيسه داسې وه چې يو وخت د بهسودو پول نه و جوړ شوی او خلک به په جاله کې پورې وتل، مازيګر جاله وان خلکو ته انکار وکړ او رټ يې ورته وويل چې له سينده مو نه شم پورې ايستلای. خلک وارخطا شول چې اوس به په ښار کې چېرته او له چا سره شپه کوي، چې هر څومره عذر و زاری يې جاله وان ته وکړې ځای يې ونه نيو، دا وخت کليوالو خپلې سوداګانې او غاړې غوټې شاته واچولې او ببرته د ښار پر لور روان شول، ګوري چې جان سيد د جالې خوا ته راروان دی، جان سيد چې له قده لوړ او غښتلی سړی و، د عسکري منصبدار په شکل ښکارېده، کليوالو ورته له جاله وانه شکايت وکړ او په کيسه يې پوه کړ. وايي چې کليوال يې راټول کړل او ورته يې وويل چې تاسې غم مه کوئ، ټول راسره د جالې خوا ته لاړ شئ، چې کله د جاله وان خوا ته ورنږدې شوو، تاسې به يوازې دومره وواياست چې ((ظابط صېب هغه جاله وان دادی. نور زما کار دی، زه يې په چاره پوهېږم.

وايي چې کله جان سيد د جالې خوا ته ورغی، يو کس غږ کړ، چې ظابط صېب هغه جاله وان دادی! دا وخت جان سيد په جاله وان په قار شو او په تندو الفاظو يې ورته وويل: سرکوزيه! بې ادبه، اوس به دې پوټکی

ketabton.com - The Digital Library



وباسم، څنګه دې ويلي چې دا خلک نه پورې باسم؟ غواړې چې په خپل امر دې زنځير او زولانه کړم. جاله وان چې کله وليدل چې سړی ته د ظابط خطاب وشو، نو وارخطا شو، په خواره ژبه يې وويل: «نه ظابط صېب ما دسې نه دي ويلي، دا خلک په ما باندې دروغ وايي» جان سيد ورباندې بيا ځو پټکې وکړې او ويې ګواښه، دا وخت جاله وان جاله راتاوه کړه او د جان سيد په شمول ټول کسان پکې سپاره او له سينده پورې وتل. کله چې جاله وان لاړ کليوال له خندا شنه وو، ټولو ويل چې له دې وروسته به جان سيد ته «ظابط» وايو. بيا تر مرګه جان سيد خلکو د ظابط په نامه پېژانده او چا ورته خپل اصلي نوم نه اخيسته.

خبره تر منصبه پورې راغله، دلته اوس هم د ټولنيز ارزښت په توګه د منصب د خاوندانو درناوی کېږي او خلک د منصب خاوندان په ښه نوم يادوي. نو په لنډه توګه ويلای شو، چې نسب او منصب زموږ د ټولنې دوه ارزښتونه دي.

ketabton.com - The Digital Library



# يووالی

يو والی او اتحاد يو له مهمو ارزښتونو څخه دی، اتفاق او اتحاد د قومونو د بري او کاميابۍ سرچينې دي، دا اتفاق د فکر له يووالي رامنځته کېږي. اتفاق دې ته وايي چې د يوې ټولنې خلک خپل ارزښتونه تعريف کړي او خپلو ملي او عقيدوي ارزښتونو ته د ژمنتيا له مخې دې هوکړې ته ورسېږي، چې په خپلو کې به مخالفتونه نه کوو، د ولس د خير او سوله ييز ژوندانه د رښتينولۍ لپاره به شخصي ګټې شا ته پرېږدو او د ملي ګټو په محور به راټولېږو، له خپل هېواد او خپلو خلکو سره به مينه کوو، د مرستې او همکارۍ په روحيه به يو بل پالو او له هر ډول، ژبني، قومي، سمتي، نژادي، مذهبي او نورو توپيرونو او تبعيضونو به ډډه کوو، نو هله به د اتفاق او يووالي ښار ته رسو او هله به مو يو والی په يو ځواک او قوت بدلېږي.

هوښيار ولسونه که سياست کوي، هم يې موخه دا وي چې د خلکو د خير لپاره قدم واخلي، خپل سياسي مشران تر هغې تايدوي او تر هغې ترې ملاتړ کوي، چې خير يې ولس او هېواد ته رسي، کله چې سياسيون د خپلو ژمنو او اهدافو له لارې شاته کېږي، د فکري ملاتړې قافله ترې مخ ګرځوي او ټول په يوه اتفاق د يو بل مشر او زعيم په خوا راټولېږي. دا سياسي اتفاق

ketabton.com - The Digital Library



دی، مانا دا چې سیاست که سم و، نو ویښ ولسونه ترې ملاتړ کوي او که ناسم و ترې مخ کرځوي. اجتماعي اړيکې ساتل د يووالي او اتحاد لپاره خورا اړينې دي، د ولسونو تر منځ د اتحاد لپاره راشه- درشه مهم اصل دی. د ارزښت دا مرغلره ډېره قیمتي ده او باید وساتل شي.

**نلسن منډېلا** وايي: «موږ د مختلفو ژبو ویونکي بېلابېل قومونه نه، بلکې د بېلابېلو ژبو ويونکي يو قوم يو» که په ټولنه کې شعوري ويښتيا وه، ژبه ولسونه نه شي بېلولای، ژبه يوازې د ځان پوهولو او بل پوهولو وسيله ده، بل هېڅ امتياز يې نه شته، که موږ خپلو ملي ګټو ته يو تعريف ولاره، ژبه مو سره نه شي بېلولای. اسلامي عقيده هم داده چې په قوميت او ژبنيت به سره نه راټولېږو او نه به سره جلا کېږو. افغانان چې کله په اتفاق وو، نړۍ زموږ وه. موږ به د ولسونو د خير لپاره اسونه زين کول او هغه ځمکې به مو د آسونو له سومانو ايستلې چې اوس پکې الوتکې په مزل سترې کېږي. موږ بل څه نه لرل، يوازينۍ وسله زموږ يووالی او اتفاق و.

موږ چې له هر غليمه آزادي اخيستې د بري راز مو له اتحاد او اتفاق پرته بل څه نه و، موږ کومه عصري او پرمختللې تکنالوژي نه لرله، موږ د نفوسو په اعتبار هم له نورو زيات نه وو، خو غښتلي اتفاق د وخت لوړې ژورې زموږ پر مخ هوارې کړې او موږ يې د برياليتوب «طور» ته پورته کړو، موږ يې د اللهﷻ له نصرته برخمن کړو او موږ يې سرلوړي کړو.

اتفاق کومه فلسفه نه ده، چې موږ يې ولولو او پر ځان يې عملي کړو، اتفاق کوم قانون نه دی، چې له لوستلو وروسته وربانديې عمل وکړو او نه اتفاق داسې يو غږ دی، چې په يوه ناره به ټول ولس زموږ په غږ راويښ او راټول

ketabton.com - The Digital Library



شي. اتفاق د خپل سيرت او شخصيت په چاپېريال کې پالل کېږي او دا اړيکې د حسنه اخلاقو او بصيرت له مخې غځېږي. په کور کې اتفاق، په کلي کې اتفاق، په دفتر کې اتفاق، د ولسوالۍ په کچه اتفاق، د ولايت په کچه اتفاق او... دا د يوې مفکورې په توګه په ټولنيز ژوندانه کې وده کوي او د اتحاد په نوم له هر لوري راپورته شوې رڼاګانې سره يو ځاى کوي او د ارزښتونو ښار د رڼاګانو په ښار بدلوي. دې فکر ته کار کول په کار دي، له دې سره به زموږ د بغاوت او شقاوت روحيه ماته شي او مثبت فکر به مو د يو ملي ارمان په توګه خپلې ريښې په ټولنه کې خورې کړي.

د امريکا نهه دېرشم ولسمشر جيمي کارټر وايي:

'' We are of course a nation of differences. Those differences don't make us weak. They are the source of our strength''

هغه وايي: ((موږ يقيناً د توپيرونو ملت يو، خو دا توپيرونه موږ نه کمزوري کوي، بلکې دا زموږ د ځواکمنتيا سرچينې دي))

هر هېواد بېلابېل قومونه او د بېلابېلو ژبو خلک لري، مهمه داده چې ولس بايد په فکري او شعوري لحاظ ويښ او د ملي وحدت او يو والي لپاره غښتلى عزم او اراده ولري. ولس بايد ځان د هېواد په هېنداره او مليت بايد د ملت په هېنداره کې ځان وګوري.

ketabton.com - The Digital Library



موږ چې څومره وېشـل کېـږو، واړه کېـږو او ځـواک مـو کمېـږي. څـومره چـې سره يو کېږو، غښتـلتيا او ځواکمني پخپله زموږ کور تـه راځـي او مـوږ تـه د بري کيسـه کوي.

نو راځئ چې د يووالي سندره زده او د وحدت په نوم يې زمزمه کړو.

ketabton.com - The Digital Library



# سوله او خپلواکي

سـوله او خپلـواکي دوه بېلابېـل ټـولنيز ارزښـتونه دي، سـوله او خپلواکي د هوسايني، خوښۍ، ملګرتيا او ټولنيز ژوند دسمون غړ دي، سوله او خپلواکي د ژوندانه اړتيا ده، سوله او خپلواکي دراحت او سکون راز دی او سوله او خپلواکي د ټولو نېکبختيو سرچينه ده.

هر انسان سوله غواړي او خپلواکي غواړي، هم خپل هېواد او ولس ته سوله او خپلواکي او هم ټولې نړۍ ته، موږ افغانانو هره جګړه د سولې اوخپلواکۍ لپاره کړې، د هر ښکېلاك پر ضد مو د سولې او خپلواکۍ لپاره غړ پورته کړی. زموږ هره قرباني د سولې او خپلواکۍ لپاره وه. کله چې پر موږ جګړه تحميل شوې، موږ يې پر وړاندې د سولې او خپلواکۍ دريغ نيولی. موږ د جګړې د پرو توپانونو ځپلي يو، ځکه خو تر هر چا د سولې او خپلواکۍ په قدر ښه پوهېږو، سوله او خپلواکي انسان ته سکون بخښي، آرام بخښي او هوساينه، ځکه خو هر با احساسه انسان د سولې او خپلواکۍ تږی دی. په سوله او خپلواکۍ کې د انساني نړۍ د سکون او خوشالۍ راز پروت دی، ويښ او بېدار قومونه په سوله، خپلواکۍ او امن کې ژوند کوي، سوله او خپلواکي د بشر اړتيا او په سوله کې اوسېدل د ژوندانه مانا ده. ملت له سولې او خپلواکۍ پرته پرمختګ نه شي کولای، اسير ولسونه سوله او خپلواکي نه لري او خپله اراده نه شي تمثيلولای.

ketabton.com - The Digital Library



هغه ملتونه چې پر بامونو يې د سولې او خپلواکۍ بېرغونه رپاند دي، د سرلوړۍ احساس کوي، هر انسان په سوله او خپلواکۍ کې ژوندکول غواړي، د ژوند ټولې اساتياوې په سولې پورې تړلي دي او د ژوند هره سوکالي له سولې الهام او سرچينه اخلي.

سوله او خپلواکي د نړۍ د هوساينې روح دی. جګړه د تباهۍ لاره ده. خپلواکي د انسانانو حقوقو او انساني کرامت ته درناوی دی. اسارت او ښکېلاک د انسانانو د حقوقو پايمالول دي، که مو د سولې او خپلواکۍ پر نعمت شکر وکېښ هوساينه او نېکمرغي د همدې ونې مېوه ده.

هغوی چې په سوله او خپلواکۍ کې ژوند کوي، معنوي ارزښتونه يې په برخه دي، هغوی چې په سوله او خپلواکۍ کې ژوند کوي، سوکالي يې په نصيب ده او هغوی چې سوله او خپلواکي لري، د مادي او معنوي پرمختګونو سالاران دي.

افغانان سوله خوښي او پر خپلواکۍ مين ملت دی. سوله خوښوي، خپلواکي خوښوي او د سولې او خپلواکۍ له قافلې سره ملګرتيا کوي. موږ وايو، پربږدئ چې دبشريت پر اسمان د سولې او خپلواکۍ کوترې والوزي، پربږدئ چې له نړۍ وير او ساندې کډه وکړي، پربږدئ چې نور تنکي ماشومان د جګړې له توپانه په امن وي، پربږدئ چې نړۍ دسولې او خپلواکۍ له خوږو برخمنه شي.

ketabton.com - The Digital Library



آزادي تر باد شاهيــــــــه لاتېرى کا

چې د بل دحکم لاندې شي زندان شي

په رښتيا چې آزادي له باچاهيـه د ډېر ستر ارزښت نوم دی، پـه ازادۍ کـې سوله، امن، سکون او پر مختـګ وي، پـه آزادی کـې انسـان پـه پوره واك او خپلواکۍ سره ژوند کولی شي، په آزادۍ کې انساني ټولنه د آرام، راحت او هوساينې احساس کوي او هر انسان له خپلو انساني حقوقو برخمن وي.

سوله او خپلواکي ټولنيز ارزښت دی، سـوله او خپلـواکي د ژوندانـه مالګـه ده، سوله او خپلواکي د پرمختګ کيلي ده، سوله او خپلواکي د مينـې او خلـوص هېنـداره ده، سـوله او خپلـواکي د سـمون او هوسـاينې تصـوير دی، سـوله او خپلـواکي د فکـر د آزادۍ اروا ده، سـوله او خپلـواکي د درنـاروي اصـل دی، سـوله او خپلـواکي د علـم او پـوهې د ښـار دروازه ده، سـوله او خپلواکي د ژمنتيا او ارادې ځواک دی، سوله او خپلواکي د تصـميم نيولـو جـوهر دی، سـوله او خپلـواکي د ټـولنې عـزت او سـرلوړي ده، سـوله او خپلواکي د ټولنې شان او شوکت دی، سوله او خپلواکي د ولـس ارمـان دی او سوله او خپلواکي د يو ملت عزم او اراده ده.

نـو راځـئ چـې د دې عـزم او ارادې لـه قـافلې سره روان شـو او پـه ګـډه د هوساينې او سوکالۍ ښار ورشو.

ketabton.com - The Digital Library



## د ليکوال چاپ اثار:

1 – ترخې خاطر (ناول) چاپ
2 – ستوري کيسه کوي (ناول) چاپ
3 – د خدای په کور کې (د لنډو کيسو ټولګه) چاپ
4 – د ښاپيرو په حرم کې (طنزيه ټولګه) چاپ
5 – روحي ناروغ (طنزيه ټولګه) چاپ
6 – وزر (د وجيزو ټولګه) چاپ
7 – رښتيا به وايو (نثري ټولګه) چاپ
8 – دا هماغه هندوستان دی (د هند يونليک) چاپ
9 – يو زر و يو دليلونه (ژباړه) چاپ
10 – فکر په کار دی (نثري ټولګه) چاپ
11 – فولکلوريکه درملنه (چاپ)
12 – ټولنيز ارزښتونه همدا ثر

ketabton.com - The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (حمید ناصري) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.


یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

ketabton.com - The Digital Library

# The Social Values




د افغانستان ملي تحريک
www.melitahrik.com

Sayed Amrullah Omaid

د خپرونو لړ: ٦۴

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*